فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ

موسوعة

الفتاوى الكريمية

المؤلف

مولوي عبد الرحمن اخوند زاده

دوهم جلد

تاج کتب خانه

عبد القدوس روڈ منان چوک کوئٹہ

دکتاب پېژندګلوي

دکتاب نوم...............................موسوعة الفتاوی الکریمة.

مؤلف............ .... مولوي عبد الرحمن اخوندزاده.

الناشر..............................تاج کتب خانه عبدالقدوس
روډ منان چوک کوئټه

کمپوزنګ.............. ....پخپله مؤلف.

صفحه آرائي ....قاري علي احمد مینګل.

تعداد.........................١١٠٠

تاج کتب خانه عبدالقدوس روډ منان چوک کوئټه

موبائل نمبر :٠٣١٥٨١١٤١٠٩

خبرتیا:

زمونږ د مکتبي خپري شوي تحفي:

(١) : فتاوى الاصلية فى المسائل الضرورية ۶ جلده.

(٢) : فتاوى المحمدية في احكام الزكاة والصدقة ٢ جلده. داهم دفتاوى اصلية مصنف جوړه کړي ده

(٣) : فتاوى ابراهيمية ١ جلده.

(۴) : موسوعة الفتاوى كريمية ۴ جلده.

(٥) جامع المسائل في حوادث اسلام درة ١ جلده.

(۶) الفتاوى الزابلية في المسائل الفقهية ١ جلده.

(٧) فتاوى ذاكريه ۴ جلده.

(٨) فتاوى شيخ الشهداء، امام عبدالله ذاكري ١ جلده .

(٩) مكتوبات ذاكري .

(١٠) ملفوطات ذاكري.

(دسفيان الثوری وينا) حضرت امام سفيان ثوری فرمائي له غيبته ځان وساته اوله دي ځان وساته چې په خلکوکي دي خوله خلاصه ګرځي، ځکه داعمل به ستادين او اسلام درخراب کړي.

قال سفيان الثورى إياك والغيبة إياك والوقوع فى الناس فيهلك دينك.:ص۸۲ التوبيخ والتنبيه لعبد الله بن محمد بن جعفر بن حيان.

وقد نص الحديث الصحيح على أن الغيبة والنميمة كبيرة والغيبة تختلف بحسب القول المغتاب به فالغيبة بالقذف كبيرة ولا تساويها الغيبة بقبح الخلقه أو الهيئة مثلا والله أعلم.:ج۱۰ص۴۱۲ فتح الباري – ابن حجر.

(دأبي هريرة رضي الله عنه مرفوع حديث) أبي هريرة رضي الله عنه وايي چې حضرت نبي الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي که چاپه دنياکي دورور غوښه وخوړه، په ورځ دقيامت کې به ودي غيبت کونکي ته دورور غوښه کيښنول شي، او دابه ورته وويل شي وخوره د دا مړه ورور غوښه په نن ورځ کې، لکه څنګه چې تاخوړله دده غوښه اودی ژوندي ؤ، نوغيبت کونکی به دخپل ورور غوښه مجبوراً خوري او اُولتي به پرې وهي ځکه چې نه به يې سي تيرولی، اودکرکي چيغي به وهي چې دڅنګه خوراک سره مخ شوم.

:پاملرنه: حضرت ابن مسعودرضي الله عنه فرمائي سي چابده ګوله (دخوراک) نده کړي تربدي ګولي د مؤمن دغيبته څخه، يعني که بدخوراک ده نوهغه غيبت ده.

ومن حديث أبي هريرة رفعه من أكل لحم أخيه في الدنيا قرب له يوم القيامة فيقال له كله ميتا كما أكلته حيا فيأكله ويكلح ويصيح سنده حسن وفي الأدب المفرد عن بن مسعود قال ما التقم أحد لقمة شرا من اغتياب مؤمن الحديث.:ج۱۰ص۴۷۰ فتح الباري – ابن حجر.

(روژه مه زخمي کوه) روژتي ته جواز نلري چې روژه په يوباطل ناوړه عمل سره زخمي کړي، ځکه سلف صاليحينوبه چې روژه نيوله نوپه مسجد کي به ناست ول ذکرونه به يئ کول، اودابه يې ويل مونږ روژه ساتو له غيبت کولونه.

:تتمة: لا يجوز للصائم أن يعمل عملا يجرح به صومه فإن السلف كانوا إذا صاموا جلسوا في المساجد وقالوا: نحفظ صومنا ولا نغتاب أحدا فيجب كف لسان الصائم عما يحرم .:ج۲ص۲۰۵ مطالب أولي النهى

في شرح غاية المنتهى: فقه حنبلي.

(حاضر وخت) زمونږ دزماني زيات مسلمانان وروښه په فرضي روژه کي که مسجد ته ورشي نوهلته به دوي دغيبتونو د درواغو اودبهتانونومجلسونه ښه پوره ګرم کړي وي، پکار داده چې دروژې په حالت کې هر دګناه کارعملي کول پريښول شي خواه داګناه قولي وي اوکه فعلي وي دا دواړه ګناهونه روژه ضرور مکروه کوي.

واجب ده روژتي لره چې دهرحرام باطل څخه خوله بنده ولري، اوله هرحرامي توب څخه ځان وساتي لکه، پراډکول، اوپه بيع اونورڅه کې دوکه ورکول، دا ټول هغه عملونه دي چې دروژې ثواب برباده وي. :مصنف.

وعن أبى هريرة أن النبي صل الله عليه وسلم قال (من لم يدع قول الزور والعمل به فليس لله حاجة بأن يدع طعامه وشرابه). :سنن الترمذي.

:تتمة: لا يجوز للصائم أن يعمل عملا يجرح به صومه فإن السلف كانوا إذا صاموا جلسوا في المساجد وقالوا: نحفظ صومنا ولا نغتاب أحدا فيجب كف لسان الصائم عما يحرم .:ج۲ص۲۰۵ مطالب أولي النهى في شرح غاية المنتهى:فقه حنبلي.

(پاملرنه) څوک چې دبل سپکه کوي هغه پخپله سپک شي، زما دايوه خبره پټه په ځيګرکي درسره وساته . :مصنف.

:**لويه اشتباه**: زموږ دزماني خلک په دوران دروژې کې که يوچاته کنځل کوي، يابدي خبري ورته کوي، يابل باطل عمل سرانجام کوي، نو دوي تعلق دروژه ماتي وروسته ورکوي، هغه داسي چې کنځلي اوبدکلامي ورته وکړي خوبياورسره ووايي چې وروسته له روژه ماتي، اوياله روژه ماتي وروسته باطل عملونه سرته رسوي، فکر اوحيله د دي خلکو داوي چې دروژه ماتي وروسته بيانوګناه نشته دغه فکر اوحيله اودغه بی فائدي تعلق ورکول غلطه خبره ده، ښکنځلي په روژه کې هم حرام دي اوله روژه ماتي وروسته هم حرام دي که څه هم روژتي تعلق تر روژه ماتي وروسته ورکړي، پام کوئ چې دروژې ثوابونه له لاسه پداسي عمل سره ورنکړئ!. :مصنف.

:**دغيبت مصيبت په ښځوکي زيات دی**: امام الحسن البصري رحمه الله به ويل چې غيبت

کول دبنځو لپاره میوه ده، یعني چې دمیوې خوراک ته خلک سره ناست وي مجلس دخبروڅنګه ښه ګرم وي، نوکه ښځې سره ناستي وي بس دا دغیبت میوه یوتربلې زیاته سره خوري.

وکان الحسن البصري رحمه الله تعالى، يقول: الغيبة فاكهة النساء.:ص٣٢٩ أدب الدنياوالدين المكتبة الشاملة.

:دغیبت بخښنه له یوچاڅخه غوښتل: :سوال:که یوڅوک دچاغیبت وکوي اوبیا دغیبت بخښنه که ترې وغواړي چې ماته بخشش وکړه ځکه ماستا غیبت کړي ده داڅه حکم لري؟

:جواب: ابن سیرین رحمه الله ته چاوویل چې ماستاغیبت کړي ماته بخشش وکړه؟

ابن سیرین رحمه الله ورته وفرمایل سي زه هغه (حرام) څیز (غیبت) نشم درته حلالولی کوم چې الله پاک جل جلاله پرتاحرام کړي دی، اوحرام شی(غیبت) به زه تاته څنګه حلال کړم، معنٰی داچې زه څنګه حرام کړي شوی شی چې غیبت ده تاته حلال وګرځوم، بس له الله څخه مغفرت غواړه اوبیا دا عمل مکوه.

وقال رجل لابن سيرين رحمه الله: إني اغتبتك فاجعلني في حل. فقال ما أحب أن أحل لك ما حرم الله عليك.:ص٣٢٩ أدب الدنياوالدين للماوردي.

دغیبت کفاره داسي هم کیدلای شي

(مسئله) دغیبت کفاره داسي هم کیدلای شي چې دکوم شخص غیبت سوی وي غیبت کونکی دي دهغه څخه معافي وغواړي خوپدي شرط چې د دغه غیبت خبر ترهغه پوري ورسیدلي وي دهغه معافي دطلبولو په وخت کي تصریح اوتفصیل بیانول بیاضروري نده بلکه دومره قدر ویناکافي ده چې ماستاغیبت کړي ماته بخښنه وکړه! او دوارثانو عفوه بیا دغیبت په کولوکې کفایت نه کوي.

وعن طلحة بن عبيد الله عن عائشة بنت طلحة بن عبيد الله عن عائشة زوج النبي عليه السلام قالت : دخلت علينا امرأة قصيرة فلما خرجت قلت بيدي هكذا ما أقصرها فقال رسول الله عليه السلام اغتبتيها قومي فتحلليها.

قالت فدخلت علينا امرأة تجر ذيلها فلما خرجت قلت يا رسول الله ما أطول ذيلها فقال اغتبتيها. :ج٢ص٦٥٤ الجامع في الحديث عبد الله بن وهب بن مسلم القرشي أبو محمد المصري سنة الولادة / سنة الوفاة ١٩٧هـ: / .:ج٥ص٣١٣ شعب الإيمان.

وعن عائشة بنت طلحة بن عبيد الله أنها دخلت على عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم وعندها أعرابية فخرجت الأعرابية تجر ذيلها فقالت عائشة بنت طلحة ما أطول ذيلها فقال عائشة : اغتبتيها ادركيها تستغفر لك.:ج٥ص٣١٣ شعب الإيمان.:ج٢ص٢٨٦ مالابدمنه.:فتاوي الأصلية.

(پاملرنه) وعن أنس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن من كفارة الغيبة أن تستغفر لمن اغتبته تقول : اللهم اغفر لنا وله . رواه البيهقي في " الدعوات الكبير " وقال : في هذا الإسناد ضعف.: مشكاة المصابيح.

وعن سفيان بن عبد الملك عن عبد الله بن المبارك قال إذا اغتاب رجل رجلا فلا يخبره به ولكن يستغفر الله

قال الإمام أحمد رحمه الله قد روينا في حديث مرفوع بإسناد ضعيف كفارة الغيبة أن تستغفر لمن اغتبته.:ج٥ص٣١٧ شعب الإيمان – البيهقي.

:فضول خبري كول: حكماء وايي خلک په فضول خبروسره، اوپه فضول بي خرڇې سره هلاک شول.

وقال بعض الحكماء إنما هلك الناس بفضول الكلام وفضول المال.:ص٤٠٩ أدب الدنيا والدين للماوردي.

:دبل شكايت كول داغيبت ده: كه چاتاته ځان دومره درخپل کړو چې دبل شخص غيبت يې دشكايت په شكل درته كاؤ، نو پوسه چې داسړى نورو خلكو ته ستا غيبت هم كوي، معنٰى داچې غيبت كونكى شخص ددوستي او د اعتماد اودريښتيا ويلو، لائق نده بغض ورسره ساته.

وقال الحسن من نم إليك نم عليك وهذا إشارة إلى أن النمام ينبغي أن يبغض ولا يوثق بقوله ولا بصداقته وكيف لا يبغض وهو لا ينفك عن الكذب والغيبة والغدر والخيانة والغل والحسد والنفاق والإفساد بين الناس والخديعة وهو ممن يسعون في قطع ما أمر الله به أن يوصل ويفسدون في الأرض. :ج٣ص١٥٦ إحياءعلوم الدين – الغزالي بيان حدالنميمة ومايجب في ردها.

سمى النميمة حطبا لأنها سبب العداوة

قيل في قول الله تعالى : { حمالة الحطب } يعني امرأة أبي لهب إنها كانت تنقل الحديث بالنميمة سمى النميمة حطبا لأنها سبب العداوة كما أن الحطب سبب لاشتعال النار و يقال عمل النمام أضر من عمل الشيطان لأن عمل الشيطان بالوسوسة و عمل النمام بالمواجهة .: الكبائر – للذهبي.

من أخبرك بشتم عن أخيك فهو الشاتم لك

(پاملرنه) و روي أن بعض السلف الصالحين زار أخا له و ذكر له عن بعض إخوانه شيئا يكرهه فقال له : يا أخي أطلت الغيبة و أتيتني بثلاث جنايات : بغضت إلي أخي و شغلت قلبي بسببه و اتهمت نفسك الأمينة و كان بعضهم يقول : من أخبرك بشتم عن أخيك فهو الشاتم لك.: الكبائر – الذهبي.

وإن كنت كاذبا فأنت من أهل هذه الآية { هماز مشاء بنميم

(پاملرنه) و قد جاء أن رجلا ذكر لعمر بن عبد العزيز رجلا بشيء فقال عمر : يا هذا إن شئت نظرنا في أمرك فإن كنت صادقا فأنت من أهل هذه الآية { إن جاءكم فاسق بنبإ فتبينوا } و إن كنت كاذبا فأنت من أهل هذه الآية { هماز مشاء بنميم } و إن شئت عفونا عنك فقال : العفو يا أمير المؤمنين لا أعود إليه أبدا .: الكبائر – الذهبي.

(**مال اليتيم**) و رفع إنسان رقعة إلى الصاحب بن عباد رحمه الله يحثه فيها على أخذ مال اليتيم و كان له مال كثير فكتب على ظهر الرقعة: النميمة قبيحة و إن كانت صحيحة و الميت رحمه الله و اليتيم جبره الله و المال ثمره الله و الساعي لعنه الله.: الكبائر – الذهبي.

و قال الحسن البصري : من نقل إليك حديثا فاعلم أنه ينقل إلى غيرك حديثك و هذا مثل قول الناس : من نقل إليك نقل عنك فاحذره.

و قال ابن المبارك : ولد الزنا لا يكتم الحديث أشار به إلى أن كل من لا يكتم الحديث و مشى بالنميمة دل على أنه ولد الزنا استنباطا من قول الله تعالى : { عتل بعد ذلك زنيم } و الزنيم هو الدعي .: الكبائر – الذهبي.

:بس همدا لوي عظيم نصيحت دی: په امت کي چې څه درځونه او اختلافات راغلي دي دا ټول دژبو دبرکته دي، نوپوسه چې ژبه مدار دکارونوده، له دي وجې رسول الله صلي الله عليه وسلم ويلي دي که ټول کارونه په کنټرول کي غواړې،

یاد کارونو انجام بنه غواړي نو ژبه بنده لره!.
او حضرت معاذرضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ایامونږ دژبې په خبروهم نیول کیږو، رسول الله صلي الله عليه وسلم حضرت معاذرضي الله عنه ته دژبې په برابر داسي وفرمایل اې معاذه په تادي مور بوره شي ته نګوري چې دژبې دخبرو په لوکولو (ریبلوسره) اویادژبې په ګناه سره دا خلک په جهنم کي همدا ژبه په مخانونه ورغورځوی.
معنٰی دا چې همدا ژبه ده چې خلک اور دجهنم ته ور ننباسي اویایې سرکول په جهنم کې وراچوی.

ما تفرقت الأمة إلا باللسان قبل الأعمال، فاللسان هو مدار الأمر؛ ولهذا قال عليه الصلاة والسلام (أَلاَ أُخْبِرُكَ بِمِلاَكِ ذَلِكَ كُلِّهِ؟) يعني برأس الأمر وعموده وذروة سنامه، قال (بلى يا رسول الله)، قال (كفَّ عَلَيْكَ هَذَا)، فهذه وصية عظيمة، وسبب التعذيب، تعذيب كثيرين في النار، أنهم لم يكفوا ألسنتهم عما لا يحل لهم؛ فلهذا علينا أن نَحْذَرَ اللسان أعظم الحذر، فنوصي بهذه الوصية التي أوصى بها المصطفى عليه الصلاة والسلام بقوله (كفَّ عَلَيْكَ هَذَا).:عن معاذ بن جبل قال كنت مع النبي صلى الله عليه وسلم في سفر فأصبحت يوما قريبا منه ونحن نسير فقلت يا نبي الله أخبرني بعمل يدخلني الجنة ويباعدني من النار قال لقد سألت عن عظيم وإنه ليسير على من يسره الله عليه تعبد الله ولا تشرك به شيئا وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت ثم قال ألا أدلك على أبواب الخير الصوم جنة والصدقة تطفئ الخطيئة وصلاة الرجل في جوف الليل ثم قرأ قوله تعالى { تتجافى جنوبهم عن المضاجع حتى بلغيعملون } ثم قال ألا أخبرك برأس الأمر وعموده وذروة سنامه فقلت بلى يا رسول الله قال رأس الأمر وعموده الصلاة وذروة سنامه الجهاد ثم قال ألا أخبرك بملاك ذلك كله فقلت له بلى يا نبي الله فأخذ بلسانه فقال كف عليك هذا فقلت يا رسول الله وإنا لمؤاخذون بما نتكلم به فقال ثكلتك أمك يا معاذ وهل يكب الناس على وجوههم في النار أو قال على مناخرهم إلا حصائد ألسنتهم. :ج٥ص٢٣١ مسندامام احمدبن حنبل.

:له بدوخلکوسره ناسته کول: دبدوخلکو دناستي پاستي انجام ته ګوره! په احادیثوکې راغلي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي که چا دبدوګناه ګارانو خلکو سره تعلق ختم نکړي، او وس طاقت هم لري چې تعلق ورسره ختم کړي، نوپه

ورځ دقيامت كي به داخلك دقبرنو څخه دشادوګانو اودخنزيرانو په صورتونوكې راپورته كړل شي.

حضرت معاذرضي الله عنه وايي سي چغل خواره خلك به په ورځ دقيامت كې دقبرنو څخه دشادوګانو (بيزوګانو) په صورتونوكې راپورته كړل شي.

وفي النصاب { يحشر يوم القيامة أناس من أمتي من قبورهم إلى الله عز وجل على صورة القردة والخنازير بما داهنوا أهل المعاصي وكفوا عن نهيهم ويستطيعون }.:٥ص٦١ بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية:المكتبة الشاملة.

وعن ابن عباس رضي الله تعالى عنهماعن النبي عليه السلام { أن ناسا من أمتي يحشرون من قبورهم على صورة القردة والخنازير بما داهنوا وآكلوهم وشاربوهم وجالسوهم }.:ص٢١٢ نصاب الاحتساب.

وعن معاذ رضي الله عنه أن النمامين يحشرون يوم القيامة على صورة القردة.:ج٤ص٤٣٠ بريقة محمودية في شرح طريقة محمدية وشريعة نبوية:المكتبة الشاملة.

دا دوه شيان خو درواخله!

:دا درسره واخله: دا دوه خبري درسره واخله!

:اول: بى فكره وينا مه كوه!

:دوهم: بى تدبره عمل(كار) مه كوه!

خذعني شيئين: لاتقل من غير تفكر ولاتعمل بغير تدبر.:ص١٧٥ باقة الأزهار.

:دروغ په كوم حالت كې روادي!: درواغ له يوه مخې ګناه ده خويوځايه شته چې درواغ پكښې روابلل شوي:

:اول: كه درواغ ددي لپاره ووايي چې يو مسلمان له قتل ياله بي عزتى څخه خلاص كړي، اويا درواغ د دي لپاره ووايي چې خپل مال يا ابرو عزت له ظالم ياغله څخه وساتي نوپداسي حالاتوكې د درواغو ويل په سړي واجب دي.

:دوهم: درواغ ويل مباح دي لپاره داصلاح د دونفرو په مينځ كې چې صلحه غوښتوتكى نفريې ووايي.

پدي برابر رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي درواغجن ندى هغه څوك چې دفريقينو په مينځ كي ښه خبره د درواغوپه طور وكړي.

مثلاً يوه ته وو ايي چې دفلاني په زړه کي تاته هيڅ هم نشته ستاد جګړي سره سره هغه ستاستاينه کوله هغه خوستا ډېرتعريف کوي اوته بياکرکه ترې لرې دا ته څنګه سخت زړي انسان يې، اوپه حقيقت کې دا خبري دهغه خلاف وي، اودوهم فريق ته وو ايي ته خامخاپه هغه باندې بدګمانه يئ هغه خوستاله طرفه ډېر ډاډمند دی، هغه خوستاډېرتعريف کوي اوپه حقيقت کي دا خبري دهغه خلاف وي.

:**دريم**:دجهاد دجنګ په تکتيک اوميدان کې هم درواغ ويل روابلل شوي، هغه داسي چې دخپلوخبرو په الفاظوکې له دښمن څخه رازپټ وساتي کوم کارچې کوي، او د دښمن ګمان بل لوري ته بدل کړي، يامثلالس شهدان شوي وي، اوډېر زخميان وي، که څوک ودرنه پوښتنه وکړي چې ملګري څنګه دي دی ورته وو ايي حلات انشالله نورمال دي، يوشهيد اويوڅه کم غوندي زخميان لرو، ځکه چې دنورو مجاهدينو مرال کمځوري نشي.

:**څلورم**:دخپلي ښځې دخوشحالولپاره که خاونددرواغ وو ايي: چې شايدتر ډېرو ښځو به دي لوړه قدرمنه کړم که مې يوڅه قدرت اومال ومند، ياښځه دخپل خاونده څخه يوشي را وغواړي او د ده څخه هيرشي نودي ورته وو ايي چې په ښه شي پسي ګرځم ته لږصبروکړه (که داسی ونه وایی ویرجوړشو) اوياښځه دخپل خاوند دخو شحالولو لپاره درواغ وو ايي داهم روابلل شوي.

وعن أم كلثوم بنت عقبة بن أبى معيط وكانت من المهاجرات الأول اللاتى بايعن النبى صلى الله عليه وسلم أخبرته أنها سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يقول « ليس الكذاب الذى يصلح بين الناس ويقول خيرا وينمى خيرا ». قال ابن شهاب ولم أسمع يرخص فى شىء مما يقول الناس كذب إلا فى ثلاث الحرب والإصلاح بين الناس وحديث الرجل امرأته وحديث المرأة زوجها.: صحيح مسلم- باب تحريم الكذب وبيان ما يباح منه.:ص٨٢ المناهل الحسان.

قال القاضي لا خلاف في جواز الكذب في هذه الصور واختلفوا في المراد بالكذب المباح فيها ماهو فقالت طائفة هو على اطلاقه وأجازوا قول ما لم يكن في هذه المواضع للمصلحة وقالوا الكذب المذموم ما فيه مضرة واحتجوا بقول ابراهيم صلى الله عليه وسلم بل فعله كبيرهم وإني سقيم وقوله إنها اختي وقول منادي يوسف صلى الله عليه وسلم ايتها العير انكم لسارقون قالوا ولا خلاف أنه لو قصد

ظالم قتل رجل هو عنده مختف وجب عليه الكذب في انه لا يعلم أين هو وقال آخرون منهم الطبري لا يجوز الكذب في شئ أصلا قالوا وما جاء من الاباحة في هذا المراد به التورية واستعمال المعاريض لا صريح الكذب مثل أن يعد زوجته أن يحسن اليها ويكسوها كذا وينوي ان قدر الله ذلك وحاصله أن يأتي بكلمات محتملة يفهم المخاطب منها ما يطيب قلبه واذا سعى في الاصلاح نقل عن هؤلاء إلى هؤلاء كلاما جميلا ومن هؤلاء إلى هؤلاء كذلك وورى وكذا في الحرب. :ج١٦ص١٥٨ شرح النووي على صحيح مسلم.

وذكر عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه أنه قال من معاريض الكلام مايغنى المسلم عن الكذب وفيه دليل على أنه لا بأس باستعمال المعاريض للتحرز عن الكذب فإن الكذب حرام لا رخصة فيه.....

والأصل في جواز المعاريض قوله تعالى: {وَلا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ} [البقرة: ٢٣٥] الآية فقد جوز الله تعالى المعاريض ونهى عن التصريح بالخطبة بقوله عز وجل: {وَلَكِنْ لا تُوَاعِدُوهُنَّ سِرّاً إِلَّا أَنْ تَقُولُوا قَوْلاً مَعْرُوفاً} [البقرة: ٢٣٥].

ثم بيان استعمال المعاريض من أوجه

:أحدها: أن يقيد المتكلم كلامه بلعل وعسى كما قال عليه السلام: "فلعنا أمرناهم بذلك" ولم يكن أمر به ولم يكن ذلك كذبا منه لتقييد كلامه بلعل.

والثاني: أنه يضمر في لفظه معنى سوى ما يظهره ويفهمه السامع من كلامه وبيانه فيما روى أن النبي صلى الله عليه وسلم قال لتلك العجوز: "أن الجنة لا يدخلها العجائز" فجعلت تبكي، فقال لها رسول الله صلى الله عليه وسلم: "أهل الجنة جرد مرد مكحلون" أخبرها بلفظ أضمر فيه سوى ما فهمت من كلامه فدل أن ذلك لا بأس به.:ج٣٠ص٣٧٦ المبسوط للسرخسي.

:له ماشومانو سره درواغ ويل: ماشومانوته هم درواغ نشي ويلې، ځکه حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم د ماشوم سره دوعدې په کولو د اعتراض په طور ديوې ښځې څخه سوال اوپوښتنه کړې وه، حضرت عبد الله بن عامر رضي الله عنه فرمائي حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ کره تشريف راوړو، اوناست ؤ، پدې وخت کې زه لاماشوم وم، لوبوته روان شوم، او مور مبارکې مې راته آواز وکړو، اې عبدالله راشه؟ چې څه درکړم.

رسول الله صلي الله عليه وسلم زمامورته وويل د څه شي ورکولو اراده دې کړېده ؟

مورمې ورته وويل چې کجوره خرما ورکوم، رسول الله صلي الله عليه وسلم زما مورته وويل که چېرې تاڅه نه ورکولي، نو ديوه درواغ ويلو ګناه به درپسې ليکل شوي وه.

:پاملرنه: درسول الله صلي الله عليه وسلم داپوښتنه داعتراض په بڼه وه، هغه صحابية رضي الله عنها يې پدي تنبيه اوپوه کوله، چې ماشومانوته بايدپه چل اوفريب سره د درواغو وعدې ورنکړل شي.

وعن عبد الله بن عامر أنه قال دعتنى أمى يوما ورسول الله صلى الله عليه وسلم قاعد فى بيتنا فقالت ها تعال أعطيك. فقال لها رسول الله صلى الله عليه وسلم« وما أردت أن تعطيه ».قالت أعطيه تمرا. فقال لها رسول الله صلى الله عليه وسلم« أما إنك لو لم تعطيه شيئا كتبت عليك كذبة ».:ج٤ص٤٥٦ سنن أبي داود باب فى التشديد فى الكذب.

:مسئله: درواغ ويل په ساعت تيرولو يابازيوکولوکې هم حرام بلل شوي دي. مصنف.

:هره اوريدلي خبره مکوه!: هرڅه چې واورې او ترنوروخلکوته يې رسوي بس داهم کافي ګناه ده، مطلب دا چې هره اوريدلي خبره مکوه.

وعن أبى هريرة أن النبى صلى الله عليه وسلمقال « كفى بالمرء إثما أن يحدث بكل ما سمع ».:ج ٤ص٤٥٥ سنن أبي داود باب فى التشديد فى الكذب.

:غيبت ته الله تعالی څنګه مثال ورکړي: غيبت په ايت دقرآن کريم سره حرام بلل شويدی، اوغيبت کونکي ته يې داسي مثال ورکړي چې غيبت کونکی دخپل مړه ورور غوښه خورې دا غوښې دمړه چې دي ترغوښو دژوندې په خوراک کې ډېري قبيحي دي نوچې غوښې دمړه ورور حرامي دي دارنګه عزت دمسلمان نر او دمسلماني ښځې هم حرام دي نو د دوی حرمت اوعزت به يادلرې.

اعلم أن الغيبة حرام بنص الكتاب العزيز وشبه المغتاب بآكل لحم أخيه ميتا إذ هو أقبح من الأجنبي ومن الحي ، فكما يحرم لحمه يحرم عرضه قال صلى الله عليه وسلم{ كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه }؛ رواه مسلم وغيره، فلا تحل إلا عند الضرورة بقدرها كهذه المواضع.:ج٥ص٢٩٠ شامي فصل في البيع.

:سوال: کوم غیبت د پرېږد دی؟

:جواب: غیبت په څلور قسمه دی:

:**اول**: قسم غیبت خاص کفردی هغه داسي که ته یو چاته ووایې چې غیبت مه کوه نو غیبت کونکی درته ووايي چې داغیبت نده زه دخپل ورور په شکایت کي صادق یم، نو داسړی کافر شو ځکه ده حرام غیبت ځان ته حلال وګرځاؤ اوحال داده چې غیبت په ایت دقرآن کریم سره حرام بلل شوی ده.

وفي تنبيه الغافلين للفقيه أبي الليث: الغيبة على أربعة أوجه: في وجه هي كفر بأن قيل له لا تغتب فيقول: ليس هذا غيبة ، لأني صادق فيه فقد استحل ما حرم بالأدلة القطعية ، وهو كفر.:ج٥ص٢٩٠ شامي فصل في البيع.

:**دوهم**: قسم غیبت منافق توب ده: داهغه غیبت ده چې دیو چاغیبت کوې وبل نفر ته خو ورښي يې نه چې دفلاني شناخته سړي غیبت درته کوم، اوخپل ځان داسي معرفي کوې چې ګویا زه پرهیزګار اوبزرګ انسان یم، داسي غیبت کول نفاق ده.

وفي وجه : هي نفاق بأن يغتاب من لا يسميه عند من يعرفه ، فهو مغتاب ، ويرى من نفسه أنه متورع ، فهذا هو النفاق.:ج٥ص٢٩٠ شامي فصل في البيع.

:**دريم**: قسم غیبت ګناه ده: هغه داسي غیبت ده چې دیو معلوم سړي غیبت کوي، اوغیبت کونکی پدي هم پوهیږي چې غیبت کول حرام عمل ده، داسړی دي له غیبته توبه ګارشي.

وفي وجه: هي معصية وهو أن يغتاب معينا ويعلم أنها معصية فعليه التوبة.:ج٥ص٢٩٠ شامي فصل في البيع.

:**څلورم**: قسم هغه غیبت ده: چې داغیبت مباح ده یعني کولی شي چې دیو معلوم فاسق، بدعتي، بي حیاء، شخص زم بیان کړي سي خلک ځان ترې وساتي اوپه دوکه نشي.

وفي وجه : هي مباح وهو أن يغتاب معلنا بفسقه أو صاحب بدعة وإن اغتاب الفاسق ليحذره الناس يثاب عليه لأنه من النهي عن المنكر ا هـ .

أقول : والإباحة لا تنافي الوجوب في بعض المواضع الآتية(قوله ومتظاهر بقبيح) وهو الذي لا

يستتر عنه ولا يؤثر عنده إذا قيل عنه إنه يفعل كذا ا هـ ابن الشحنة قال في تبيين المحارم : فيجوز ذكره بما يجاهر به لا غيره قال صلى الله عليه وسلم " { من ألقى جلباب الحياء عن وجهه فلا غيبة له } " وأما إذا كان مستترا فلا تجوز غيبته ا هـ .:ج٥ص٢٩٠ شامي فصل في البيع.

:كه زمونږ زړونه پاک وای: حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه وايي كه زمونږ زړونه پاک واي نو دالله تعالیٰ جل جلاله له كلام، اوذكره به نه وه ماړه شوي.

وقال عثمان بن عفان رضي الله عنه لو طهرت قلوبنا لما شبعت من كلام الله عز وجل.:ص٥١ الفرقان بين أولياء الرحمن وأولياء الشيطان المؤلف: شيخ الإسلام ابن تيمية.

:دالله ديادنتيجه: حضرت عبدالله ابن مسعودرضي الله عنه وايي: دالله تعالیٰ جل جلاله ذكر كول د ذاكر انسان په زړه كښې ايمان راشين كوي، داسي مثال لري لكه په ابوسره چې دلښتي په غاړو هره تركاري راشنه كيږي دا داوبو په سبب سره.

او دسروزونو اوريدل (داشعارو سره يابې داشعارو) بياپه زړه داوريدونكي شخص كې نفاق (عملي نفاق) راشين (پيدا)كوي داهمداسي مثال لري لكه په اوبو سره چې دلښتي په غاړو تركاري راشنه كيږي دا د اوبوپه سبب سره.

وقال ابن مسعود: الذكر ينبت الإيمان في القلب كما ينبت الماء البقل والغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء البقل.:ص٥١ الفرقان بين أولياء الرحمن وأولياء الشيطان المؤلف: شيخ الإسلام ابن تيمية.

(قوله ينبت النفاق) أي العملي.:شامي كتاب الحضر والاباحة.

:دچاعيب مه لټه: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايي: كه ته ديو ورور عيبونه درياد وې، نواول دې خپل عيبونه درياد (شمار) كړه.

و مجاهد عن ابن عباس قال ذكروا رجلا فقال: إذا أردت أن تذكر عيوب صاحبك فاذكر عيوبك.:ج٥ص٣١١ شعب الإيمان.

:مسخراچې په قيامت كې: حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي پسخند وهونكي مسخراچيان خلک چې په خلكوسره په دنياكې پسخندوهي دي ته به په ورځ دقيامت كې دجنت دروازه خلاصه شي اوملائكة به دا آوز ورته ترې راوكړي چې راځه راځه؟ جنت ته؟

نو داپسخندي به دخپلوسختيو اودغمونوسره ورشي، خوچې کله دى ودروازي ته ورشي نو دا دروازه به دي شخص ته وتړل شي، بيابه بله دروازه ورته خلاصه سي، اوآوازبه ورته تري راوسي چې راځه راځه؟

کله چې دى ودروازي ته ورشي نو دا دروازه به دي پسخندي شخص ته وتړل شي، حتّى چې دناأميدي څخه به دى جنت له ورنشي.

وعن الحسن قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن المستهزئين بالناس يفتح لأحدهم باب في الجنة فيقال له هلم هلم فيجيء بكربه وغمه وإذا جاء أغلق دونه فيما يزال كذلك حتى إن أحدهم يفتح له الباب من أبواب الجنة فيقال له هلم فما يأتيه من الاياس.: ج٥ص٣١٠ شعب الإيمان.

إن المستهزئين يفتح لأحدهم باب الجنة فيقال: هلم : فيجيء بكربه وغمه فإذا جاء أغلق دونه ثم يفتح له باب آخر فيقال له : هلم فيجيء بكربه وغمه فإذا جاء أغلق دونه فما يزال كذلك حتى إن الرجل ليفتح له الباب فيقال له: هلم هلم فما يأتيه: اخرجه ابن أبي الدنيا في ذم الغيبة عن الحسن مرسلا.: ج٣ص١١٧٠ كنز العمال.

:پسخندي اوجنت: په بل روايت کې داسي راغلي دي چې پسخندوهونکو (ټوقيانو) خلکوته به په ورځ دقيامت کې دجنت دروازه خلاصه شي، اوملائکة به دا آوازورته تري راوکړي چې راځې راځې جنت ته داخل شې؟

کله داپسخنديان (مسخراچيان) چې دجنت ودروازي ته راسي او ورنيږدي سي، نو دا به ورته وويل سي چې مونږ په تاسو ټوکې وهو، لکه تاسو چې په دنياکې په خلکوسره ټوکې وهلې، او دروازي دجنت به بيرته ورته وتړل شي.

وعن أم عبد الله بنت خالد بن معدان عن أبيها أنها سمعته يقول أن الذين يسخرون من الناس في الدنيا يقال لهم يوم القيامة ادخلوا الجنة فإذا أتوا أبوابها ودنوا يقال لهم يسخر بكم كما كنتم تسخرون بالناس.: ج٥ص٣١٠ شعب الإيمان.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي هلاکت ده هغه چالره سي خبري کوي، نودروغ وايي، د دې لپاره چې قوم پروخندوي هلاکت ده دلره، بيا هلاکت ده دلره.

وعن بهز بن حكيم، عن أبيه، عن جده: قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم { ويل للذي يحدث، فيكذب : ليضحك به القوم، ويل له، ثم ويل له } أخرجه الثلاثة، وإسناده قوي.: حسن. رواه

أبو داود (٤٩٩٠) والنسائي في" التفسير" (١٤٦ و ٦٧٥). والترمذي (٢٣١٥)، وقال الترمذي:" هذا حديث حسن.

:دقوم لوط عليه السلام يوه علامه: أم هانئ رضي الله عنها فرمائي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل سي د دا ايات په برابر دقوم دلوط عليه السلام کي { وتأتون في ناديكم المنكر } معنٰى څه ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل سي دي قوم به په لارويانو مسخرى(پسخند) وهلى، اولارويان به يې بيرول دا معنٰى ترې مراد ده.

وعن أبي صالح مولى أم هانئ عن أم هانئ أنها سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت قلت يا رسول الله أرأيت قول الله عز و جل: { وتأتون في ناديكم المنكر } ما ذلك المنكر الذي كانوا يأتون في ناديهم قال: كانوا يسخرون بأهل الطريق ويخوفونهم تابعه يزيد بن زريع وغيره عن حاتم بن أبي صغيرة.:ج٥ص٣١٠ شعب الإيمان.

:گمان مه ساتئ: :**اول**:مؤمن له دي منع شوي ده چې دی دي په خلکو بدبد گمانونه ساتي.

:**دوهم**:مؤمن له دي هم منع شوي دی چې دی دي په عوراتو(پټ پټ) شيانو دبل مؤمن پسي وريسي سي.

:**دريم**:مؤمن له دي هم منع شوي دی چې دی دي دچاغيبت وکړي، داسي منع سوی دی لکه دمړژگي(مرداري) دخوراک څخه چې منع شوي ده.

وعن ابن عباس في قوله تعالى : { اجتنبوا كثيرا من الظن } يقول نهى الله المؤمن أن يظن ظن سوء وفي قوله { ولا تجسسوا } قال نهى الله أن تتبع عورات المؤمن في قوله { لا يغتب بعضكم بعضا } قال حرم الله أن يغتاب المؤمن بشيء كما حرم الميتة.:ج٥ص٣١٠ شعب الإيمان.

:دمعراج يوه واقعه: حضرت ابي سعيد الخدري رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي دمعراج په شپه زه ديوقوم په خواکي تيرشوم چې دي قوم له خپلو اړخونو څخه يې غوښې پرې کولي، بيا به ورته وويل شول چې وخورئ دادهغه څه په بدله کې چې تاسو دخپل وروړغوښه خوړله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چې ما دجبريل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه اې جبريل عليه السلام

داڅوک دي؟

جبریل علیه السلام وفرمایل داستا دأمت غیبت ویونکي خلک دي.

وعن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه النبي صلي الله عليه وسلم قال ليلة اسري بي الي السماء مررت بقوم يقطع اللحم من حبوبهم ثم يقال لهم كلوا ماكنتم تاكلون من لحم أخيكم فقلت ياجبريل من هؤلاء قال هؤلاء من امتک الهمازون المازون يعني المغتابين.:ص٥٤ تنبيه الغافلين.

:دمعراج واقعه: حضرت انس بن مالک رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چې دمعراج په شپه زه ديوقوم په خواکې تيرشوم ددي قوم نوکان داوسپيونو ول اودخپلومخونواوسينوڅخه يې پرې غوښې ترې راپرې کولې، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چې مادجبريل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه سي اې جبريل عليه السلام داڅوک دي؟

جبريل عليه السلام وفرمايل داغيبت ويونکي خلک دي، چې دخلکو غوښې خوري، اوعزتونه دخلکو پايماله کوي(په هغه سبب سره دوي ته داعذاب مقرر دی).

وعن انس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم " لما عرج بي مررت بقوم لهم أظفار من نحاس يخمشون وجوههم وصدورهم فقلت من هؤلاء يا جبريل ؟ قال هؤلاء الذين يأكلون لحوم الناس ويقعون في أعراضهم ".:سنن أبي داود باب في الغيبة.

وعن سعد بن خالد عن عمه راشد بن سعد المقراني قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لما عرج بي مررت برجال تقطع جلودهم بمقاريض من نار فقلت من هؤلاء ؟

قال الذين يتزينون للزينة قال : ثم مررت بجب منتن الريح فسمعت فيه أصواتا شديدة فقلت من هؤلاء يا جبريل ؟

فقال نساء كن يتزين للزينة ويفعلن ما لا يحل لهن

ثم مررت على نساء ورجال معلقين بثديهن فقلت من هؤلاء يا جبريل قال: هؤلاء الغمازات النمازات وذلك قول الله عز و جل { ويل لكل همزة لمزة } هذا مرسل وقد رويناه موصولا فيما مضى. :ج٥ص٣٠٩ شعب الإيمان.

:دمعراج واقعه: حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله

عليه وسلم وفرمايل دمعراج په شپه کې ماپه جهنم کې وروکتل، نوخلک ول چې دوي مرداري (مړژکي) خوړلی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي مادجبريل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه اې جبريل عليه السلام داڅوک دي؟

جبريل عليه السلام وفرمايل دا هغه خلک دي چې دوی به دخلکو غوښې خوړلي (په غيبت کولوسره).

وَأَخْرَجَ أَحْمَدُ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ الله عَنْهُ قَالَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بنبي الله صلى الله عليه وسلم قَالَ: « وَنَظَرَ فِي النار فَإِذَا قَوْمٌ يَأْكُلُونَ الْجِيف! قال: مَنْ هَؤُلاء يَاجِبْرِيلُ» ؟ قَالَ الذين يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاس » .:ج٢ص١٩ مسند احمد.:ج٨ص٦٧ الدر المنثور.

:دغيبت کول بدنجس خوراک ده: حضرت ابن مسعودرضي الله عنه فرمائي چې چازياته بده(مرداره) ګوله خوراک ندی کړي تربدي ګولې ده مؤمن دغيبته څخه.

:تشريح: مطلب دا ده چې ترغيبته بد مردارنجس خوراک بل نشته.

وعن ابن مسعود قال ما التقم احد لقمة شرا من اغتياب مؤمن الحديث.:ج٤ص٢٨٠ فتح الباري.

:په بدلقب سره چاته بلنه مه ورکوئ: حضرت حصين وايي ما دحضرت عکرمة رضي الله عنه څخه د دي ايات{ ولا تنابزوا بالألقاب } دمعنٰی په برابرپوښتنه وکړه! ده راته وويل چې دايوبل ته دخلکوپه ياکافراويامنافق سره ويل دي.

اوپه الأذکار النووي کي وايي چې علماء په تحريم اوحرام والي کي پدي متفق دي سي يوانسان پداسي لقب سره څوک وبولي چې دی يې بدګڼي خواه دا لقب ددي شخص صفت وي ياپې دمورياد پلارياد بل قريب صفت وي.

وعن حصين قال سألت عكرمة عن قوله . { ولا تنابزوا بالألقاب } هو قول الرجل للرجل يا كافر يا منافق

قال: ونا سعيد نا خالد بن عبد الله عن حصين عن عكرمة قال: وهو قول الرجل يا كافر يا فاسق. :ج٥ص٣٠٨ شعب الإيمان.

وفي أذكار النووي اتفق العلماء على تحريم تلقيب الإنسان بما يكرهه سواء كان صفة له أو لأبيه أو لأمه أو غيرهما مما يكره.:ج٢ص٢٨ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

نني عصرکي ځوانان يوبل ته په زوی زوی يانورو ناروا نومونو..... سره وايي،

دمور او دپلار،اودخور، او دانا اودبابا په کنځولو يو وبل ته سره وايي داټول حرام فحش اوناجائزعملونه دي. :مصنف.

:غيبت له زناڅخه بد دی: حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي غيبت له زناڅخه بد دی.

:تشريح: غيبت ځکه له زناڅخه بددی چه صاحب دزنا دا دزناګناه محسوس وي او دا وايي چې ماګناه وکړه نوتوبه باسي، اوصاحب دغيبت له غيبته څخه توبه نه باسي، ځکه دی وايي چې غيبت څه ګناه نده، اويا صاحب دغيبت ته الله جل جلاله بخښنه نه کوي ترڅوچې دا بنده بخښنښ دغيبت څخه نه وي ورته کړي.

وعن أنس بن مالك عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: الغيبة أشد من الزنا فإن صاحب الزنا يتوب وصاحب الغيبة ليس له توبة.:ج٥ص٣٠٦ شعب الإيمان.

وفي رواية أنس قال صاحب الزنا يتوب أي يتصور منه التوبة أو يتوب غالبا لأنه ذنب عظيم عنده وصاحب الغيبة ليس له توبة أي غالبا لأنه يحسبه هينا وهو عند الله عظيم لكن البلية إذا عمت طابت أو ليس له توبة مستقلة لتوقف صحتها على رضا صاحبها.:مرقاة المفاتيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم.

وعن أبي سعيد وجابر قالا : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " الغيبة أشد من الزنا " . قالوا : يا رسول الله وكيف الغيبة أشد من الزنا ؟ قال : " إن الرجل ليزني فيتوب فيتوب الله عليه " – وفي رواية : " فيتوب فيغفر الله له وإن صاحب الغيبة لا يغفر له حتى يغفرها له صاحبه " .: مشكاة المصابيح.

وفي رواية أنس رضي الله عنه قال: " صاحب الزنا يتوب وصاحب الغيبة ليس له توبة " . روى البيهقي الأحاديث الثلاثة في " شعب الإيمان " .: مشكاة المصابيح.

:غيبت کونکی اوسود خور: غيبت کونکی تر سود خورسړي بدترين انسان دی ځکه حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چې دسود (ربا) رنګونه (ډولونه) تراويا قسمونوڅخه زيات دي، خوهغه آسانه سود کول په ګناه کې دومره ګناه لري لکه څوک چې په اسلام کې دخپلي مورسره زناوکړي، اويودرهم دسود په نفع اوګټه کې راوړل ترپنځه دېرش زناوٌپه ګناه کې زيات دی، اوډېرشرسود او أخبث (زيات ګناه والا) سود دالله جل جلاله په نزد بيا ديو مسلمان عزت اوحرمت پايمالول

دي(په يو مسلمان کې د درازي ژبې چلول، د ده په حقارت کې او یاورته په کنځلوکې)« "اوبیاېې دا ایت تلات وکړو: { والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتانا وإثما مبينا }».

تشریح: چې دهغه کمې درجې دسود خور ګناه دا ښول شوی ده سبحان الله دغیبت ویونکې شخص ګناه چې هغه ډېر شر سود او أخبث سود(ربا) ښول شویده د الله جل جلاله په نزد دا به څومره زیاته ګناه وي.

وأخرج البيهقي في الشعب عن ابن عباس عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : " إن الربا نيف وسبعون بابا أهونهن بابا مثل من نكح أمه في الإسلام ودرهم الربا أشد من خمس وثلاثين زنية وأشر الربا وأربى وأخبث الربا انتهاك عرض المسلم وانتهاك حرمته "ثم قرأ : { والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتانا وإثما مبينا }.:ج۱۳ص۱۲۵ تفسيرالدر المنثور.:ج٥ص۲۹۹ شعب الإيمان.

:مسلمان به ډېرعزتمندلرې: حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلي الله عليه وسلم وکعبي شريفي ته وکتل اودايې وويل څومره زيات ده حرمت ستا!

په بل روايت کې داسي راغلي دي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم وکعبي شريفي ته وکتل اودايې وويل مرحبا بک من بيت ما أعظمک وأعظم حرمتک !

او رسول الله صلي الله عليه وسلم داوويل سي دمؤمن عزت بيادالله جل جلاله په نزد ترکعبي عزت مند ده (يعني والله جل جلاله ته مؤمن ترکعبي عزت مند اوقدر مند ده) رسول الله صلي الله عليه وسلم پدي کتلوکې وکعبي شريفي ته وفرمايل الله تعالى اې کعبي تاته ديوه څيزحرمت درکړي ده، خو دمؤمن څخه يې درې شيان حرام کړيدي، وينې تويول (مرګ) دمؤمن حرام ده، مال دمؤمن حرام ده، اوپه مؤمن سره بدګمان ساتل حرام ده.

وعن مجاهد عن ابن عباس قال نظر رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى الكعبة فقال: ما أعظم حرمتك

وفي رواية أبي حازم لما نظر رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى الكعبة قال: مرحبا بك من بيت ما

أعظمك وأعظم حرمتك وللمؤمن من أعظم حرمة عند الله منك إن الله حرم منك واحدة وحرم من المؤمن ثلاثا دمه وماله وأن يظن به ظن السوء.:ج٥ص٢٩٦ شعب الإيمان.

وأخرج الطبراني في الأوسط عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده عن النبي صلى الله عليه وسلم " أنه نظر إلى الكعبة فقال : لقد شرفك الله وكرمك والمؤمن أعظم حرمة منك "

وأخرج الطبراني في الأوسط عن جابر قال " لما افتتح النبي صلى الله عليه وسلم مكة استقبلها بوجهه وقال: أنت حرام ما أعظم حرمتك وأطيب ريحك وأعظم حرمة عند الله منك المؤمن ".:ج١ص٣١٣ الدر المنثور.

<پاملرنه> وعن ابن عباس رضى الله عنهما انه استند الى جدار الكعبة وقال يا كعبة ما اعظم حرمتك على الله لكنى لوهدمتك سبع مرات كان احب الى من ان اوذى مسلما مرة واحدة.:ج٧ص٩٤ تفسير روح البيان.

<پدي حديث كي> عن جابر لما افتتح النبي صلى الله عليه وسلم مكة استقبلها بوجهه وقال : أنت حرام ما أعظم حرمتك وأطيب ريحك وأعظم حرمة عند الله منك المؤمن، وفيه محمد بن محيصن كذاب لكن تعدد الطرق دل على أن للحديث أصلا.:ج٥ص٣٦٦ فيض القدير.

<تنبيه> قال التونسي : اللطيفة الإنسانية في غاية الشرف والعظم ألا ترى إلى قوله سبحانه { ولقد كرمنا بني آدم } فأكد التكرمة بالقسم وفي بعض الكتب المنزلة يقول الله تعالى : " ابن آدم خلقت الأشياء من أجلك وخلقتك من أجلي الأكوان لك عبيد سخرت وأنت عبد الحضرة " . وقال بعض العارفين : نهاية الأكوان الإنسان ولهذا لم يرض سبحانه لأهل الجنة بمنازل الجنان حتى زادهم فيها النظر إلى وجهه في حضرة الإحسان فالإنسان بيت القصيد من المقصود وإليه كل معنى بالحقيقة يعود لأنه النسخة الكاملة والصحيفة التي هي لكل الحقائق شاملة كما قيل

وتحسب أنك جرم صغير . . . وفيك انطوى العالم الأكبر

فهو العين المقصودة في العالم لكونه مجمعا لما تفرق فيه فهو كلي صغير وفيه كل ما في العالم.:ج٥ص٣٦٦ فيض القدير.

:حاضر وخت: استغفرالله په نن عصركي ريښتيونومسلمانانوته نورمسلمانان (ترهګر تروريزم او تروريست) وايي دمسلمانانوپه برناحقه سره وژل ځومره زيات اوج ته ورسيد، استغفرالله دمسلمانانو وبرناحقه مرګ ته مسلمانان لاري سره لټي،

مسلمانان دمسلمانانو مالونه برناحقه اوپه ظلم سره خوري، مسلمان به له مسلمان شخه په آمن کې نه وي، دفساد له وجې به يوله بل سره معاملي نه سي کولای. :مصنف.

:که چاته دي پيغور ورکړې: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي که چابل ورور ته پيغورپه يوه ګناه سره ورکړي، نو دا پيغور ورکونکی به مړنسي ترڅوچې ده هغه ګناه نه وي کړي (دا هغه ګناه ښيئ چې ګناه ګاره له هغې ګناه څخه توبه ترې کښلي وي).

وعن خالد بن معدان عن معاذ قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " من عير أخاه بذنب لم يمت حتى يعمله " يعني من ذنب قد تاب منه . رواه الترمذي وقال : هذا حديث غريب وليس اسناده بمتصل لأن خالدا لم يدرك معاذ بن جبل.:ج۳ص۵۲ مشكاة المصابيح.:ج۵ص۲۹۳ شعب الإيمان.

:**بد رواج**: پيغور ويو چاته ورکول ډېرناوړه بدعمل ده. :مصنف.

دچاپه مصيبت خوشحالي مه کوه!:حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي دورور په بلا (مصيبت) سره خوشحالي مه ظاهره کوه، الله تعالیٰ جل جلاله به پدا (مصيبتي) ورور رحمت وکړي له دامصيبت څخه به يې خلاص کړي اوتابه په لتاړکړي.

وعن واثلة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " لا تظهر الشماتة لأخيك فيرحمه الله ويبتليك " . رواه الترمذي وقال: هذا حديث حسن غريب.:ج۳ص۵۲ مشكاة المصابيح.:ج۵ص۳۱۵ شعب الإيمان.

:دګناه څخه چې توبه وکاږي ودي کس ته به ياګنځل نه کوې: حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه په يوداسي سړي تيرشوچې داسړي يو وخت يوه ګناه کړي وه، اوخلکو ودي ګناګاره ته ګنځل کول اوپيغورونه يئ په ورکول، حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه وداخلکو ته وويل که داسړی په يوه کوهي کې لويدلي وای ، نواياتاسودی نه را ايستلئ؟

خلکوورته وويل دکوهي څخه مو دی را ايستلئ، حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه ودي خلکوته وويل چې کنځل نومه ورته کوئ، دالله حمدونه پدي ووايئ چې

تاسویئ له دي (له داسي ګناه کولو) څخه معاف کړې يئ.

خلکو: حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه ته وويل ايا دي سړي سره بغض ونه ساتو؟

حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه: ورته ووېل دده دعمل (ګناه يابدعمل) سره بغض وساتئ نوبده چې ده داګناه ده، کله چې دي سړي دا بدعمل پرېښوي نودی زماورور دی بدندی.

وعن أيوب عن أبي قلابة أن أبا الدرداء مر على رجل قد أصاب ذنبا وكانوا يسبونه فقال : أرأيتم لو وجدتموه في قليب ألم تكونوا تستخرجنه ؟

قالوا : بلي

قال : فلا تسبوا أخاكم واحمدوا الله الذي عافاكم

قالوا : أفلا نبغضه ؟

قال : إنما أبغض عمله فإذا ترك فهو أخي.:ج٥ص٢٨٩ شعب الإيمان (التبصرة . لابن الجوزى).

:پاملرنه: مسلمان ته ديهودي په نوم بلنه مه ورکوئ، او فاسق چې توبه وکاږي بيا وروسته ترتوبې دفاسق په نامه سره دی مه يادوئ.

وقال ابن زيد: معنى {ولا تَنابزوا بالألقاب} لا يقل أحد : يا يهودي ، بعد إسلامه ، ولا يا فاسق ، بعد توبته.:ج٧ص٢٤٥ تفسير البحر المديد.

:کوم څوک که ګناه کوي: حضرت عمر رضي الله عنه فرمائي که يوڅاذلالت کاوه نو دا شخص سمي لاري ته برابرکړئ، اوله الله جل جلاله څخه دده دهدايت سوال کوئ، اودشيطان ملګري مه جوړيږئ ودي شخص ته (چې بيابدعمل په ضدپر وکوئ).

وعن عمر بن الخطاب قال إذا رأيتم أخاكم زل زلة فقوموه وسددوه وادعوا الله أن يتوب عليه ويراجع به إلى التوبة ولا تكونوا أعوانا للشيطان عليه.:ج٥ص٢٨٩ شعب الإيمان.

:دابه نه وايې چې الله فلاني ته بخښنه نه کوي: حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي يوه سړي داوويل چې الله جل جلاله و فلاني کس ته بخښنه نه کوي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي الله تبارک وتعالیٰ جل جلاله وويل څوک

دی سي دی په ما قسم اخلي چې زه به فلاني ته بخښنه نکوم، الله تبارک وتعالی جل جلاله وويل ما فلاني ته بخښنه کړې، او اې قسم خوړونکې بنده ما ستا دنيکيو عمل ختم کړو.

وعن جندب أن رسول الله صلى الله عليه وسلم: حدث أن رجلا قال والله لا يغفر الله لفلان وقال الله من ذا الذي يتألى علي لا أغفر لفلان فإني غفرت لفلان وأحبطت عملك أو كما قال.:ج۵ص۲۸۹ شعب الإيمان:وصحيح مسلم.

:ښه انسان څوک دی: ښه بهتر خصلة والانسان هغه څوک دی چې په ځان کې ډېر عيبونه ويني، او ونورو مسلمانانو ته دښه نيت خاوند وي.

وعن إبراهيم بن أدهم عن عمران القصير قال كان يقال إن خير خصلة أو أفضل خصلة تكون في الإنسان أن يكون أشد الناس خوفا على نفسه وأرجاه لكل مسلم.:ج۵ص۲۸۸ شعب الإيمان.

:په مؤمن لعنت ويل داسي ده لکه قتل دمؤمن: رسول الله صلى الله عليه وسلم دري خبري يو وخت وفرمايلي:

:اول: که چا په دروغو سره دکفر په ملت قسم واخست، نو دا شخص چي څنګه قسم اخستلی دی هم هغسې دی.

(مطلب دا که قسم خور وويل چې يهودی يا مجوسي به يم او حال داوي چې دی پدي قسم کې دروغجن وي نو يهودی يا مجوسي شو).

:دوهم: او که چا په دنيا کي خپل نفس په يو شي سره قتل کړو نو په آخرت کي به پدغه رنګه شي سره په جهنم کې په عذاب کيږي(جهنم ته به دا کس ځکه ځي چې ده مسلمان نفس قتل کړو).

:دريم: او په مؤمن لعنت ويل داسي ده (په اصل تحريم کې) لکه قتل دمؤمن، او که چا يو مؤمن په کفر (دکفر په لفظ کلمه) سره وويشتي نو دا ويشتل لکه قتل دمؤمن داسي ده((کنځل کول ومؤمن لره فسق ده)).

وعن ثابت بن الضحاك عن النبي صلى الله عليه وسلم: قال من حلف بملة غير الإسلام كاذبا فهو كما قال ومن قتل نفسه بشيء عذب به في نار جهنم ولعن المؤمن كقتله ومن رمى مؤمنا بكفر فهو كقتله، رواه البخاري في الصحيح .:ج۵ص۲۸۲ شعب الإيمان.

الكبيرة الرابعة و الأربعون : اللعان :

قال النبي صلى الله عليه وسلم : [سباب المسلم فسوق و قتاله كفر] و قال صلى الله عليه وسلم : [لعن المؤمن كقتله] أخرجه البخاري.: الكبائر – الذهبي.

لعن المؤمن كقتله أي في أصل التحريم وإن كان القتل أغلظ زاد في رواية البخاري عقبه ومن قذف مؤمنا بكفر فهو كقتله.:ج١ص١٢٥ الديباج على مسلم.

:يلعنه:قوله تعالى : {وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ} قال قتادة والربيع : المراد "باللاعنون" الملائكة والمؤمنون. قال ابن عطية : وهذا واضح جار على مقتضى الكلام. وقال مجاهد وعكرمة : هم الحشرات والبهائم يصيبهم الجدب بذنوب علماء السوء الكاتمين فيلعنونهم. قال الزجاج : والصواب قول من قال : "اللاعنون" الملائكة والمؤمنون ، فأما أن يكون ذلك لدواب الأرض فلا يوقف على حقيقته إلا بنص أو خبر لازم ولم نجد من ذينك شيئا.

قلت : قد جاء بذلك خبر رواه البراء بن عازب رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : في قوله تعالى : {يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ} قال : "دواب الأرض". أخرجه ابن ماجة عن محمد بن الصباح أنبأنا عمار بن محمد عن ليث عن أبي المنهال عن زاذان عن البراء ، إسناد حسن.

فإن قيل : كيف جمع من لا يعقل جمع من يعقل ؟ قيل : لأنه أسند إليهم فعل من يعقل ، كما قال : {رَأَيْتُهُمْ لِي سَاجِدِينَ} [يوسف : ٤] ولم يقل ساجدات ، وقد قال : {لِمَ شَهِدْتُمْ عَلَيْنَا} [فصلت : ٢١] ، وقال : {وَتَرَاهُمْ يَنْظُرُونَ إِلَيْكَ} [الأعراف : ١٩٨] ، ومثله كثير ، وسيأتي إن شاء الله تعالى.

وقال البراء بن عازب وابن عباس : "اللاعنون" كل المخلوقات ما عدا الثقلين : الجن والإنس ، وذلك أن النبي صلى الله عليه وسلم قال : "الكافر إذا ضرب في قبره فصاح سمعه الكل إلا الثقلين ولعنه كل سامع" . وقال ابن مسعود والسدي : "هو الرجل يلعن صاحبه فترتفع اللعنة إلى السماء ثم تنحدر فلا تجد صاحبها الذي قيلت فيه أهلا لذلك ، فترجع إلى الذي تكلم بها فلا تجده أهلا فتنطلق فتقع على اليهود الذين كتموا ما أنزل الله تعالى ، فهو قوله : {وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ} فمن مات منهم ارتفعت اللعنة عنه فكانت فيمن بقي من اليهود".:ج٢ص١٦٨ الجامع لأحكام القرآن.

وأخرج عبد الرزاق وعبد بن حميد عن مجاهد في قوله ويلعنهم اللاعنون قال : إذا أجدبت الهائم دعت على فجار بني آدم فقالت : تحبس عنا الغيث بذنوبهم

وأخرج سعيد بن منصور وابن جرير عن مجاهد في قوله ويلعنهم اللاعنون قال : إن البهائم إذا اشتدت عليهم السنة قالت : هذا من أجل عصاة بني آدم لعن الله عصاة بني آدم

وأخرج عبد بن حميد وابن جرير وأبو نعيم في الحلية والبيهقي في شعب الإيمان عن مجاهد في قوله ويلعنهم اللاعنون قال : دواب الأرض العقارب والخنافس يقولون : إنما منعنا القطر بذنوبهم فيلعنونهم

وأخرج عبد بن حميد وابن جرير عن عكرمة في قوله ويلعنهم اللاعنون قال : يلعنهم كل شيء حتى الخنافس والعقارب يقولون : منعنا القطر بذنوب بني آدم

وأخرج عبد بن حميد عن أبي جعفر في قوله ويلعنهم اللاعنون قال : كل شيء حتى الخنفساء.:ج١ص٣٨٨ الدر المنثور.

{أولئك يلعنهم الله} وأصل اللعن الطرد والبعد {ويلعنهم اللاعنون} أي : يسألون الله أن يلعنهم ويقولون : اللهمّ الَعنهم.

تنبيهان : أحدهما : اختلف في هؤلاء اللاعنين ، فقال ابن عباس رضي الله تعالى عنهما : هم جميع الخلائق إلا الجنّ والإنس ، وقال عطاء : هم الجنّ والإنس ، وقال الحسن : هم جميع عباد الله ، وقال مجاهد : البهائم تلعن عصاة بني آدم إذا أمسك المطر وتقول : هذا من شؤم ذنوب بني آدم.

ثانيهما : هذه الآية توجب إظهار علوم الدين منصوصة ومستنبطة وتدل على امتناع أخذ الأجرة على ذلك. وقد روى الأعرج عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أنه قال : إنكم تقولون أَكثر أبو هريرة عن النبيّ صلى الله عليه وسلم وأيم الله لولا آية في كتاب الله ما حدّثت أحداً بشيء أبداً وتلا : {إنّ الذين يكتمون} الآية".:ج١ص٩٥ تفسير السراج المنير.

:**پاملرنه**: وعن أبي ذر رضي الله عنه أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : " ليس من رجل ادعى لغير أبيه وهو يعلمه إلا كفر ، ومن ادعى ما ليس له فليس منا وليتبوأ مقعده من النار ، ومن دعا رجلا بالكفر أو قال عدو الله وليس كذلك إلا حار عليه " متفق عليه. وهذا لفظ رواية مسلم .:ج٢ص٢٠٢ رياض الصالحين.

:لعنت ويل داسي مازي وړه خبره نده: حضرت أبي الدرداء رضي الله عنه وايي چې مادرسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل بنده چې كله لعنت په يوشي وو ايي، نو دا لعنت وآسمان ته وخيژي، هلته ودي لعنت ته دآسمان دروازي ورته (پر) بندي شي، بيا دا لعنت وځمكې ته راكښته شي، نو دځمكې دروازي هم ودي لعنت ته بندي شي، بيا دا لعنت ښئ او چپ خواته ولاړشي، نو كله چې دا لعنت كوم ځاى دتقرر(ځاى دناستي) پيدانكړي نو دا لعنت

بیرته راشي وهغه چاته چې دا لعنت پر ويل شوي ده، نو که دا لعنت پر(باندې)ويل شوی شی (ياشخص) دلعنت مستحق ؤ نودی يئ اخستونکی شي د دي لعنت، او که داشخص(يادشی) دلعنت مستحق نه ؤ نو دا لعنت بیرته ويونکي شخص ته راشي او دده پرذمه شي(يعني د ده په غاړه کې ور ولويږي او دا ويونکی د دي لعنت اخستونکی شي؛ نوپه حديث مبارک کې ودي خبري ته اشاره ده چې بهتره داده سي لعنت ونه ويل شي په يو شي هم دمخلوق څخه مطلقاً که څه هم دامخلوق اهل دلعنت وي، او که دچامرګ په کفرثابت شوی وي، لکه فرعون ابوجهل ابلس نولعنت ويل پري پروانه لري، اويامذموم ګڼل شوي وي، لکه کافران فاسقان مبتدعين، سود خواره رشوت خوړونکي، یاړانده ته دلاری ناسم ادرس ورکونکي، یالواطت کونکو ...... خلکوباندي لعنت ويل پروانه لري).

وعن أبي الدرداء قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " إن العبد إذا لعن شيئا صعدت اللعنة إلى السماء فتغلق أبواب السماء دونها ثم تهبط إلى الأرض فتغلق أبوابها دونها ثم تأخذ يمينا وشمالا فإذا لم تجد مساغا رجعت إلى الذي لعن فإن كانت لذلك أهلا وإلا رجعت إلى قائلها " . رواه أبو داود.:ج٣ص٥١ مشكاة المصابيح.:ص١٣٣ ص١٣١ طريقه محمدية.

وعن ابن العباس أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال: لعن الله من تولى غير مواليه و لعن الله من غير تخوم الأرض و لعن الله من كمه أعمى عن السبيل و لعن الله من لعن والديه و لعن الله من ذبح لغير الله و لعن الله من وقع على بهيمة و لعن الله من عمل عمل قوم لوط ثلاث مرات.:ج٤ص٣٥٤ شعب الإيمان – البيهقي.

وعن أبي الطفيل قال : سئل علي : هل خصكم رسول الله صلى الله عليه و سلم بشيء ؟ فقال : ما خصنا بشيء لم يعم به الناس إلا ما في قراب سيفي هذا فأخرج صحيفة فيها : " لعن الله من ذبح لغير الله ولعن الله من سرق منار الأرض وفي رواية من غير منار الأرض ولعن الله من لعن والده ولعن الله من آوى محدثا " . رواه مسلم.: مشكاة المصابيح.

لعنت مه واياست!: حضرت سمرة بن جندب رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل دالله جل جلاله په لعنت سره (پريوچا) لعنت مه واياست، او دالله جل جلاله په غضب سره هم (پريوچا) لعنت مه واياست، اودالله

جل جلاله په جهنم (دوزخ) سره هم پرچا لعنت مه وایاست.

وعن سمرة بن جندب قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " لا تلاعنوا بلعنة الله ولا بغضب الله ولا بجهنم " . وفي رواية " ولا بالنار " . رواه الترمذي وأبو داود.:ج۳ص۵۱ مشكاة المصابيح.

:مسئله: کله چې لعنت پرمسلمان روا نه ده، نوپريوه چارپای دلعنت ويل هم جواز نلري:

عمران بن الحصين رضي الله عنه روايت کوي چې مونږ دحضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يوسفرکي ؤ، او د انصارو يوه ښځه په اوښه باندې سوره وه او اوښه يې شړله، دي ښځې په هغې اوښي لعنت او وايو (چې پرتا دي لعنت وي زر زر درځه)، حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل د دې اوښي څخه سامان راکوز کړئ، او دا اوښه پريږدئ (سورلی پرې مه کوئ) ځکه چې په دې لعنت ويلې شوی دی عمران بن الحصين رضي الله عنه وايي ماته اوس هم هغه منظر رايادېږي، چې دا اوښه به په خلکوکې روانه وه خوهيچا ورته تعرض نه کولو (چې پردي اوښه دي سور شي، اويا دي پري خپل سامان ويسي، ځکه په هغې اوښي لعنت ويلی شوی ؤ).

وعن عمران بن الحصين رضي الله عنه قال: بينما رسول الله صلى الله عليه وسلم في بعض أسفاره وامرأة من الأنصار على ناقة فضجرت فلعنتها فسمع ذلك رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال : " خذوا ما عليها ودعوها فإنها ملعونة " قال عمران : فكأني أراها الآن تمشي في الناس ما يعرض لها أحد . رواه مسلم .

:دنن خلک: دنن عصرنارينه اوخاص ييابنځې دلعنتونو پر ويلوسره يوپربل باندې ډېر سره دلاوروي اوپدي بدعمل سره مبتلاء دي پر ژبو د دوي دلعنت ويل: دخدای په غضب اخته شئ اې وشرميږئ اوپه قهر دخدای جل جلاله ګرفتار شئ وجهنم ته دي الله بوځه بس دا ښراوي به کوي، اود درباري الهی څخه دمردود کيدلو ښراوي کوي، دا لعنت ويل خو د دوي دخبرو تکيه کلام ګرځيدلي ده.

اوحال داده چې دغه ټول الفاظ دلعنت الفاظ دي ددي استعمالول حرام عمل ده اودويونکي لپاره د دين اوددنيا دوراني سبب ګرځي.

:ص۴۸ بي خونده ګناهونه لمفتي محمد شفيع صاحب.

:لعنت او مؤمن: حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي دي: نسي کيدلي مؤمن کس لعنت ويونکی.

په بل روايت کي راځي چې نه ښايي مؤمن(په بل روايت کې راځي صديق) لره چې دی لعنت ويونکی وي.

وعن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " لا يكون المؤمن لعانا " . وفي رواية : " لاينبغي للمؤمن أن يكون لعانا " رواه الترمذي.:ج۳ص۵۱ مشكاة المصابيح.

قال عليه الصلاة و السلام : [لا ينبغي لصديق أن يكون لعانا] .: الكبائر – الذهبي.

:لعنت ويونكي په قيامت كې: حضرت أبي الدرداء رضي الله عنه وايي چې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: لعنت ويونكي اشخاص به په ورځ کې دقيامت شاهدان پرچانه جوړيږي، اونه به دوي شفاعت کونكي جوړيږي.

وعن أبي الدرداء قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " إن اللعانين لا يكونون شهداء ولا شفعاء يوم القيامة ". رواه مسلم :ج۳ص٤٥ مشكاة المصابيح.

و في صحيح مسلم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال : [لا يكون اللعانون شفعاء و لا شهداء يوم القيامة] الكبائر – الذهبي.

لا يكون اللعانون أي يكثر اللعن المحرم شرعا ولا شهداء يوم القيامة أي على الأمم بتبليغ رسلهم إليهم الرسالات وقيل معناه لا يرزقون الشهادة وهي القتل في سبيل الله.: الديباج على مسلم.

(پاملرنه) ابی درداء رضي الله عنه وايي چې حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل ډېر لعنت ويونكي به دقيامت په ورځ نه دچا شفاعت كولې شي، اونه به دچا دپاره ګواهی ورکولې شی.

وعن أبي الدرداء رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " لا يكون اللعانون شفعاء ولا شهداء يوم القيامة " رواه مسلم .

و في الحديث: [ليس المؤمن بطعان و لا بلعان و لا بالفاحش و لا بالبذيء] و البذيء : هو الذي يتكلم بالفحش و رديء الكلام.: الكبائر – الذهبي.

:فائده: وعن سالم قال ما لعن ابن عمر خادما له قط إلا واحدا فأعتقه. و عن الزهري سمعته يقول كانوا يضربون رقيقهم و لا يلعنونهم.:ج۴ص۲۹۵ شعب الإيمان – البيهقي.

:پاملرنه: دا صغائرګناهونه دي.

وأما الصغائر: النظر إلى مّحرّم، والتقبيل، والاستمناء بقصد الشهوة لا لتسكينها، واللمس، وخلوة الأجنبية، واللعن ولو لبهيمة، وكذب لا حدفيه ولا إضرار، وهجو مسلم ولو تعريضا وصدقا، والإشراف على بيوت الناس.:ص۳۵۶ رسائل ابن نجم الاقتصادية.

:مسئله: (فصل) إعلم أن لعنة المسلم المصون حرام بإجماع المسلمين و يجوز لعن أصحاب الأوصاف المذمومة كقولك : لعن الله الظالمين لعن الله الكافرين لعن الله اليهود و النصارى لعن الله الفاسقين لعن الله المصورين و نحو ذلك كما تقدم و أما لعن إنسان بعينه ممن اتصف بشيء من المعاصي كيهودي أو نصراني أو ظالم أو زان أو سارق أو آكل ربا فظواهر الأحاديث إنه ليس بحرام و أشار الغزالي رحمه الله إلى تحريمه إلا في حق من علمنا أنه مات على الكفر كأبي لهب و أبي جهل و فرعون و هامان و أشباههم قال : لأن اللعن هو الإبعاد عن رحمة الله و ما ندري ما يختم به لهذا الفاسق و الكافر قال : و أما الذين لعنهم رسول الله صلى الله عليه وسلم بأعيانهم كما قال : [اللهم العن رعلا و ذكوان و عصية عصوا الله و رسوله] و هذه ثلاث قبائل من العرب فيجوز أنه صلى الله عليه وسلم علم موتهم على الكفر قال و يقرب من اللعن الدعاء على الإنسان بالشر حتى الدعاء على الظالم كقول الإنسان لا أصح الله جسمه و لا سلمه الله و ما جرى مجراه و كل ذلك مذموم و كذلك لعن جميع الحيوانات و الجمادات فهذا كله مذموم قال بعض العلماء : من لعن من لا يستحق اللعن فليبادر بقوله إلا أن يكون لا يستحق .: الكبائر – الذهبي.

دمؤمن په عيب پرده اچوه!: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي كه چا ديو مسلمان عورة وليده اوپه عورة(عيب) دده يې پرده واچوله نوداسي مقام په نيكې كې لري لكه يوڅوک چې ښخه شوي ماشومه انجلۍ له قبره څخه راوباسي اونوي ژوند ورکړي.

وعن أبي الهيثم قال جاء قوم إلى عقبة بن عامر فقالوا إن لنا جيرانا يشربون ويفعلون أفنرفعهم إلى الامام قال لا سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من رأى من مسلم عورة فسترها كان كمن أحيا موءودة من قبرها.:ص۱۷۷ الادب المفرد للامام الحافظ محمد بن اسماعيل البخاري.

وعن عقبة بن عامر عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: من رأى عورة فسترها كان كمن أحيا موءودة. :ج٥ص٢٨٠ شعب الإيمان.

:دچاعیب مه لټه: حضرت سهل رحمه الله وايي: دهغو طلب مه کوئ په کومو چې الله تعالیٰ جل جلاله پرده اچولي وي پخپلو بنده ګانو.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي دمسلمانانو په عيبونو مه پسي کيږي، ځکه که څوک دمسلمانانو په عيبونو پسي سي نو الله تبارک وتعالیٰ جل جلاله به دده په عيبونو په پسي سي او الله تبارک وتعالیٰ جل جلاله چې دده په عيبونو پسي سي نو وبه يې شرمه وي که څه هم دی پخپلي کوټې کې دننه وي.

وقال سهل: لا تبحثوا عن طلب ما ستر الله على عباده ، وفي الحديث: " لا تتبعوا عورات المسلمين ؛ فإنَّ مَن تتبَّع عورات المسلمين تتبَّع الله عورته حتى يفضحه ولو في جوف بيته ".:ج٧ص ٢٤٥ تفسير البحر المديد.

:ويل لكل همزة لمزة: ددي ايت چې (ويل لكل همزة لمزة)

ترجمه: هلاکت اوخرابي ده دهرهغه چاد پاره چې طعنه (عیب) ورکوي(لګوی) اوغيبت کوي.

حضرت قتادة رضي الله عنه وايي: داهغه خلک دي چې دخلکو غوښې خوري اوپه خلکو کې طعن لګوي.

وعن قتادة ويل لكل همزة لمزة قال: يأكل لحوم الناس ويطعن عليهم.:ج١٤ص٤٢٣ الدر المنثور.

:دخولې بي اودسي دروغ ويل دي: حضرت ابن عباس اوحضرت عائشة رضي الله عنهما دوي دواړه وايي چې بي اودسي په دوه ډوله ده يوه بي اودسي ستاپه خوله کي ده اوبله بي اودسي ستا دخوب څخه ده، خو دخولې بي اودسي زيانمنه وي، دخولې بي اودسي دروغ اوغيبت ويل دي.

وعن ابن عباس و عائشة أنهما قالا الحدث حدثان حدث في فيك وحدث من نومك وحدث الفم أشد: الكذب والغيبة.:ج٥ص٣٠٣ شعب الإيمان.

:غيبت لمونځ باطله وي: حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چې دوو نفرو دماسپښين يادماذ ديګر لمونځ وکړو ، اودوي دواړه روژتيان هم ؤ، کله چې رسول

الله صلي الله عليه وسلم خپل لمونځ اداء کړ، نورسول الله صلي الله عليه وسلم دا دوو نفرو ته وويل چې اودس اولمونځ دواړه مو راوګرځوئ، اوروژه دورځې ترپايه پسي ورسوئ خود دي روژې قضاء بيابله ورځ راوړئ، هغو دوو نفرو ورته وويل چې ولې يارسول الله صلي الله عليه وسلم !

رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل تاسو دفلاني غيبت وکړو(نوپه غيبت سره يې اودس مات شواوبي اودسه لمونځ ندی روا اوپه غيبت سره يې روژه هم فاسده شوه).

وعن ابن عباس أن رجلين صليا صلاة الظهر أو العصر وكانا صائمين فلما قضى النبي صلى الله عليه وسلم الصلاة قال: أعيدا وضوءكما وصلاتكما وامضيا في صومكما واقضياه يوما آخر قالا: لم يا رسول الله ؟ قال: اغتبتم فلانا .:ج٥ص٣٠٣ شعب الإيمان.

:پوښتنه: اول سوال:غيبت روژه ولې فاسده کړه؟

:دوهم سوال:په غيبت کولوسره اودس اولمونځ ولې د دوي دوو فاسد وبلل شو؟

:جواب:طيبي شرح دمشكاة المصابيح ودي سوالونوته ډېرښه جوابونه ويلي دي:

:داول سوال جواب اودطيبی تحقيق:غيبت روژه ځکه فاسده وي چې الله تعالیٰ جل جلاله ويلي دي:(أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتا .الآية)

ترجمه:آيا خوښوي، څوک له تاسوڅخه، چې هغه خوري غوښه، د وروراخپل، چې (هغه هم) مړ وي.

نو دطيبی تحقيق دا ده که چا په روژه کې غيبت وکړو نو ده مړژګه وخوړه(نوپدي مردار خوراک سره دروژتي روژه فاسده شوه).

:د دوهم سوال جواب دطيبی په تحقيق کې داده:څوک چې غيبت وکړي او اودس بياونکړي نوپه تير اوداسه يې لمونځ ځکه نده صحيح اوفاسد ده چې غيبت کونکي نجسه وينه وڅښله اونجسه غوښه يې وخوړه اوغيبت کونکی ددي مرداريو بارونکی ده.

الحاصل دا: چې ګناهونه کول مخکې ياوروسته ترعبادته دا دعبادت کمال ناقص

کوي، لکه نیکې وروسته په بدې پسې، دبدي زوال واجب ګرځوي.

قال الطيبي وهذا في الصوم ظاهر لقوله تعالى أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتا الحجرات وأما في الصلاة فلأنه شرب دم أخيه ولحمه فحمل النجاسة اه وحاصله أن الإتيان بالمعصية قبل الطاعة ينقص كمالها كما أن الحسنة بعد السيئة توجب زوالها فإن قوله تعالى إن الحسنات يذهبن السيئات ورد فيمن قبل امرأة أجنبية ولعله هنا أظهر الزجر الشديد والتغليظ والوعيد لما يتعلق بالغيبة من حق العباد وربما تذهب العبادة بالكلية حيث يعطى لصاحب الغيبة النافلة الطوية فيبقى المذنب بلا صوم وصلاة فلهذا أمرهما بإعادتهما وقضائه وهذا من قبيل فتوى الخاصة لا من قبيل أحكام العامة.: مرقاة المفاتيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم.

:درواغ بدبويي لري: حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي كله چې بنده دروغ وايي نوملائكة د دي بنده څخه يوميل مسافه لري شي، د دي لپاره ملائكة عليهم الرحمة دومره تري لري شي چې دابنده په بدبويي ددرواغوسره راتګ وکړی.

وعن ابن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إذا كذب العبد تباعد عنه الملك ميلا من نتن ما جاء به " .: رواه الترمذي: ج۳ص۵۰ مشكاة المصابيح.

په بعضی ځایونوکي غیبت کول رواده

(مسئله) سوال: غیبت کول په ټولوځایونوکې ناروا ده اوکه په بعضو حالاتوکي جواز لري؟

:جواب: غیبت په بعضی ځایوکي روا ده حتّٰی چې په بعضی ځایوکي واجب هم ده

(۱) دمجهول (شخص) غیبت کول روا ده.

(۲) چې څوک ښکاره ګناه کوي اونه وربانديې زهیرکیږي اونه وربانديې شرمیږي لکه حدیث کي راغلي (من القى جلباب الحياء عن وجهه فلاغيبة له) ددي شخص غیبت کول روا ده.

(۳) دمشوري په ورکولوکې که څه هم مشوره دنکاح اویادسفر یادشراکت یامجاورت لپاره وي نودلته غیبت کول روا ده چې دخیرخواهي په خاطر دمستشیر لپاره عیب ظاهره کړي.

(۴) لپاره دتحذیر چې خلک ځانونه ترې وساتي یعني صاحب دبدعت وي غیبت

کول یې رواده.

(۵) داستغاثې لپاره که چاته عیب ښکاره کړي چې هغه یې په زجر اومنع سره قادر وي ددې غیبت کول رواده.

(۶) ذکر یې وکړي په وجه داهتمام چې غمخواري وشي یامخلوق یې له شره په امن شي غیبت کول یې رواده.

(۷)چې مستفتي له مفتي څخه استفتا غواړي نو که غیبت وکړي هم باک نلري.

(۸) دمال عیب ښودل چې بائع یئ مشتري ته غیبت وکړي یادثمنوعیب بائع ته وکړي دا رواده.

(۹) په نیت دتعریف چې یوشخص پدغه لقب باندې مشهوروي لکه ګوډ یاړوند باندې یادول جوازلري.

(۱۰) جرح په مجروح کې که څه هم شاهد یاراوي وي بلکه دغه عیب ښودل واجب ده.

(۱۱) یاچاته شکایت کول چې هغه انصاف ورسره وکړي دا رواده.

فالمجموع إحدى عشرة جمعتها بقولي: بما يكره الإنسان يحرم ذكره سوى عشرة حلت أتت تلو واحد تظلم وشر واجرح وبين مجاهرا بفسق ومجهولا وغشا لقاصد وعرف كذا استفت استعن عند زاجر كذاك اهتمم حذر فجور معاند.:ج۹ ص۶۷۴ درالمختارمع الردالمحتار.:فتاوي الأصلية.

دروغ ویل اګر چه په اصل کښې حرام دي، خو په بعضې حالاتوکې جائز وي

(مسئله) امام نووی وایي دا یادساته (پوشه) چې دروغ ویل اګرچې په اصل کښې حرام دي، خوپه بعضې حالاتوکې دڅه شرطونوپه وجود سره بیاجائز ګرځي، چې دهغو وضاحت ماپه کتاب الاذکارکې وای کړي دی، اودهغوخلاصه دا ده چې خبري دمقاصدو دحاصلولو دپاره یوه ذریعه ده، نوهر ښه مقصدچې دهغه حاصلول بغیر د دروغونه ممکن وي نوپه هغه کې دروغ ویل حرام دي، اوکه دهغه مقصد حاصلول بغیر د دروعونه ممکن نه وی، نودروغ پکې جائز دي، بیا که د دغه مقصود حاصلول مباح وي، نو دروغ به هم مباح وي، اوکه د دغه مقصود حاصلول واجب وي، نو دروغ به هم واجب وي:

مثلاً کله يو مسلمان دظالم نه پټ شي چې هغه يې دقتلولو اراده لري، اوياخپل مال د دي ظالم څخه پټ کړی چې هغه يې ترې اخلي، اويا ديو انسان په باره کي ترې همدغه رنګه پوښتنه وشي (چې فلانی څه شو، ياپه کوم ځای کې ده؟) نو په ده باندې دهغه نفر(اودمال) په پټولو کې دروغ ويل واجب دي، اوپدي ټولوصورتونو کې بياهم احتياط پدې کي ده چې توريه اوکړي.

باب بيان ما يجوز من الكذب أعلم أن الكذب وإن كان أصله محرما فيجوز في بعض الأحوال بشروط قد أوضحتها في كتاب : الأذكار (انظر باب النهي عن الكذب وبيان أقسامه من الأذكار) ، ومختصر ذلك أن الكلام وسيلة إلى المقاصد . فكل مقصود محمود يمكن تحصيله بغير الكذب يحرم الكذب فيه ، وإن لم يمكن تحصيله إلا بالكذب جاز الكذب . ثم إن كان تحصيل ذلك المقصود مباحا كان الكذب مباحا ، وإن كان واجبا كان الكذب واجبا ، فإذا اختفى مسلم من ظالم يريد قتله أو أخذ ماله وأخفى ماله وسئل إنسان عنه وجب الكذب بإخفائه ، وكذا لو كان عنده وديعة وأراد ظالم أخذها وجب الكذب بإخفائها ، والأحوط في هذا كله أن يوري . ومعنى التورية : أن يقصد بعبارته مقصودا صحيحا ليس هو كاذبا بالنسبة إليه وإن كان كاذبا في ظاهر اللفظ وبالنسبة إلى ما يفهمه المخاطب ، ولو ترك التورية وأطلق عبارة الكذب فليس بحرام في هذا الحال . واستدل العلماء بجواز الكذب في هذا الحال بحديث أم كلثوم رضي الله عنها أنها سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : " ليس الكذاب الذي يصلح بين الناس فينمي خيرا أو يقول خيرا " متفق عليه . زاد مسلم في رواية : قالت أم كلثوم : ولم أسمعه يرخص في شئ مما يقول الناس إلا في ثلاث . تعني الحرب والإصلاح بين الناس وحديث الرجل امرأته وحديث المرأة زوجها.:ج٢ص١٢٠ رياض الصالحين.

دا به نه وايي چې دا فلانی څومره کمزوري روان دی

:دشل اوضعيفه سړي غيبت کول: دابه نه وايي چې دافلاني څومره کمزوري ضعيفه روان دی، ياضعيفه کمزوري ولاړشوځکه حضرت ابي هريرة رضي الله عنه وايي سي يوسړی درسول الله صلي الله عليه وسلم دمجلس څخه ولاړشوخلکو ددي سړي په ولاړه کې عاجزي (ضعف) وليدله، خلکو وويل يارسول الله صلي الله عليه وسلم دافلانی څومره کمزوري ده، رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل تاسو دخپل وروړ غوښه وخوړه اوغيبت مو وکړئ.

قال أبو هريرة : قام رجل من عند النبي صلى الله عليه وسلم فرأَوْا في قيامه عَجْزاً ، فقالوا : يا رسول الله ، ما أعجز فلاناً! فقال عليه السلام:" أَكَلْتُم لحْمَ أخيكم واغتبتموه ".:ج٧ص٢٤٧ تفسير البحر المديد.

داسى مې هم وليدل: ولا فرق بين غيبة الحي والميت ، لما ورد : " مَن شتمَ ميتاً أو اغتابه فكأنما شتم ألف نبي ، ومَن اغتابه فكأنما اغتاب ألفَ ملَك ، وأحبط الله له عمل سبعين سنة ، ووضع على قدمه سبعين كيةً من نار. :ج٧ص٢٤٧ تفسير البحر المديد.

:چپ تيا کوم مقام لري: عمران بن حصين رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي چې دسړي دشپيتوکالوله عبادت کولوڅخه (چې ډېري خبري ورسره وي) چپ تيا (ترې) بهتره ده.

:تشريح: کله چې يو سړی دشرمجلس کوي، نوريښتياهم د دې شخص دشپيتو کالوترعبادت کولو يوساعت چپ تيا اوسکوت بهتره ده، په چوپتياکي ورته نجات ده.

وعن عمران بن حصين أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : " مقام الرجل بالصمت أفضل من عبادة ستين سنة " .:ج٣ص٣٤ مشكاة المصابيح.

الميم وبضم أي ثباته بالصمت أي بمداومة سكوته عن الشر وقال الطيبي أي منزلته عند الله أفضل من عبادة ستين سنة أي مع كثرة الكلام وعدم التثبت في المقام قال الطيبي لأن في العبادة آفات يسلم عنها بالصمت كما ورد من صمت نجا .:مرقاة المفاتيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم.

:له ژبي ويېرېږه!: سفيان بن عبدالله الثقفي رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ما وويل هغه کوم شی ده چې ته په ما ډېرپه بيرېږې؟

سفيان رضي الله عنه وايي حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم خپله ژبه ونيوله اودايې راته وويل په ژبه سره درباندې بيرېږم.

وعن سفيان بن عبد الله الثقفي قال : قلت : يا رسول الله ما أخوف ما تخاف علي ؟ قال: فأخذ بلسان نفسه وقال : " هذا " . رواه الترمذي وصححه.:ج٣ص٤٩ مشكاة المصابيح.

:دفاسق شخص مدح (صفت) کول: حضرت انس رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل کله چې دفاسق شخص مدح وشي الله تعالیٰ جل

جلاله په غضب (قهر) شي او عرش عظيم وښوري (المطلب چې دا ډېره بده ګناه ده).

:تشريح: لکه فاسق ته ياسيد (قدرمند محترم الفاظ ورته) ويل اويادفاسق صفتونه کول اويانور عزت ورکول دي ته دفاسق مدح ويل کيږي.

شارح دمشکاة طيبى وايي سي مراد داهتزاز العرش څخه دا ده چې يولوي امرواقع شوځکه پدي کي دا مدح کونکى انسان رضاء په هغه څه ښکاره کړه چې په هغه کې دالله جل جلاله ناراضکي اوغضب ده، که دفاسق مدح ځوک حلاله بولي نو دا عقيده (خبره) وکفرته هم مفضى سوه.

وعن أنس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " إذا مدح الفاسق غضب الرب تعالى واهتز له العرش " رواه البيهقي في " شعب الإيمان " .:ج۳ص۴۹ مشكاة المصابيح.

وعن أنس رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله إذا مدح الفاسق بأن قال له يا سيد مثلا غضب الرب تعالى أي على المادح واهتز له أي لأجل مدحه وفي رواية لذلك العرش أي وكاد أن يتحرك ويندك من هيبة أثر عظمة سخطه سبحانه

ونظيره قوله تعالى تكاد السموات يتفطرن منه وتنشق الأرض وتخر الجبال هدا أن دعوا للرحمن ولدا مريم وقال الطيبي اهتزاز العرش عبارة عن وقوع أمر عظيم وداهية دهياء لأن فيه رضا بما فيه سخط الله وغضبه بل يقرب أن يكون كفرا لأنه يكاد أن يفضي إلى استحلال ما حرمه الله تعالى وهذا هو الداء العضال لأكثر العلماء والشعراء والقراء المرائين في زماننا هذا وإذا كان هذا حكم من مدح الفاسق فكيف بمن مدح الظالم وركن إليه ركونا وقد قال تعالى ولا تركنوا إلى الذين ظلموا فتمسكم النار.:مرقاة المفاتيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم.

:پاملرنه: باب النهي عن مخاطبة الفاسق والمبتدع ونحوهما بسيد ونحوه:

وعن بريدة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " لا تقولوا للمنافق سيد ، فإنه إن يك سيدا فقد أسخطتم ربكم عز وجل " رواه أبو داود بإسناد صحيح.:رياض الصالحين.

:دژبي حفاظت کوه: حضرت انس رضي الله عنه وايي چې يو اصحابى وفات شوي وه، نويوه سړي وويل داوفات شوي صحابى ته په جنت سره زيرى قبول کړه، رسول الله صلي الله عليه وسلم دا ويونکي شخص ته وفرمايل ته څه خبريې چې شائد ده دي لايعني خبره کړي وي، اويادي دهغه څه بخل کړي وي چې په ورکولو نه کميده

(لکه يوڅوک چې يوسوالي شی لکه چارى کولنګ زينه چوکی وغيره اشيا دکار لپاره په خواست درڅخه وغواړې چې بيرته يې درته راوړم نو دا شيان ورکوئ).

وعن أنس قال : توفي رجل من الصحابة . فقال رجل : أبشر بالجنة . فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " أو لا تدري فلعله تكلم فيما لا يعنيه أو بخل بما لا ينقصه ". رواه الترمذي:ج۳ص۴۹ مشكاة المصابيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم.

:جامع نصيحت: حضرت أبي هريرة رضي الله عنه وايي سي رسول الله صلي الله عليه وسلم وويل ايا تاسو پوهيږئ کوم دی زيات هغه شی چې خلک وجنت ته داخله وي؟

رسول الله صلي الله عليه وسلم وويل دا تقوىٰ اوحسن اخلاق کول.

اورسول الله صلي الله عليه وسلم وويل اياتاسوپوهيږئ کوم دی زيات هغه شی سي خلک وجهنم ته داخله وي؟

رسول الله صلي الله عليه وسلم وويل دا دوه خولې دي يوه خوله اوبل فرج.

وعن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " أتدرون ما أكثر ما يدخل الناس الجنة ؟ تقوى الله وحسن الخلق . أتدرون ما أكثر ما يدخل الناس النار ؟ الأجوفان : الفم والفرج " رواه الترمذي وابن ماجه.:ج۳ص۴۷ مشكاة المصابيح.

:ښه اخلاق په ځان کي راوله: کوچيانو وحضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم ته دعرفات په ورځ په عرفات کي وويل يارسول الله صلي الله عليه وسلم کوم شی دخير ده چې وخلکوته ورکول سوي ده!

رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وويل خلکوته ترښه اخلاقوبل ښه (بهتره) څيز ندي ورکول سوي.

وعن أسامة بن شريك قال قالت الأعراب بعرفات يا رسول الله فما خير ما أعطى الناس فقال إن الناس لم يعطوا شيئا خيرا من خلق حسن.:۱۷ص ۱۰۷ معجم الطبراني الكبير.

:غيبت په قاريانوکي: حضرت الفضيل بن عياض رضي الله عنه ويلي دي چې هرشي لره دښايست جوړښته اودښايست جوړ قاريانو لره دغيبت پريښول دي.

وقال الفضيل بن عياض أنه قال: لكل شيء ديباج، وديباج القراء ترك الغيبة.:ص۳۰ الجليس الصالح

والأنيس الناصح.

:ابن سيرين څه وايي: په حضرت ابن سيرين رحمه الله دوه ذمي طبيبان تيريده نو حضرت ابن سيرين رحمه الله ته وويل شول په دوي دوو کې کوم يو ښه طبيب ده؟

حضرت ابن سيرين رحمه الله ورته وويل زه بيريږم که وو ايم غيبت به شي.

ومر بابن سيرين طبيبان ذميان، فقيل له أيهما أطب؟ فقال أخاف أن تكون غيبة.:ص١٦٩ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:ابن سيرين وايي: حضرت عبد الله ابن المبارک رحمه الله وايي سي ما حضرت سفيان رحمه الله ته وويل چې حضرت ابو حنيفة رحمه الله بيخي زيات له غيبته لري ده؟ ماهيڅ کله د ده څخه د چا غيبت نده اوريدلي.

عبد الله ابن المبارک رحمه الله وايي چې حضرت سفيان رحمه الله را ته وويل سي په خداى قسم حضرت ابو حنيفة رحمه الله عقلمند ده ترهغه چاچې دى دغيبت په کولو سره پخپلو نيکيو بل څوک مسلط کړي او دا نيکې د ده په غيبت کولو ترې ويسي.

عبد الله المبارك: قلت لسفيان: ما أبعد أبا حنيفة عن الغيبة؟ ما سمعته يغتاب أحداً قط؛ قال: هو والله أعقل من أن يسلط على حسناته ما يذهب بها.:ص١٦٩ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:وخپل نفس ته متوجى شه: وحضرت ربيع بن خثيم رحمه الله ته وويل شول سي ته د چاعيب نه وايي؟

حضرت ربيع بن خثيم رحمه الله ورته وويل زه د خپله نفسه څخه راضي نه يم چې د بل وعيب ويلو ته فاريغه شم.

قيل للربيع بن خثيم: ما نراك تعيب أحداً؛ قال: لست عن نفسي راضياً فأتفرغ لذم الناس، وأنشد:لنفسي أبكي لست أبكي لغيرها ... لنفسي في نفسي عن الناس شاغل.:ص١٦٩ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:په انسان کي عيب وي: وسقراط ته وويل شول چې د انسانانو څخه داسي څوک شته چې عيب پکښې نه وي؟

سقراط ورته وويل که په انسان کې عيب نه واى نو دى به نه مړکيدلاى.

قیل لسقراط: هل من إنسان لا عیب فیه؟ قال: لو كان إنسان لا عیب فیه لكان لا یموت.:ص١٦٨ ربیع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:حضرت زهري ته يو وخت كنځل وشول: یو سړي وحضرت زهري رحمه الله ته كنځل وکړه، حضرت زهري رحمه الله ورته وويل که زه داسي يم لکه دا ته چي وايي نو داخوماته شرده، اوکه چيرې داسي نه يم لکه داته چي وماته وايي نودابيا تالره شرده.

حضرت زهري رحمه الله به ويل: که مامريي ته وويل چې خدای دي وشرموه نودا مريي بس آزاد ده.

شتم رجل الزهري فقال: أن كنت كما قلت فهو شر لي، وأن لم أكن كما قلت فهو شر لك. وكان يقول: متى قلت لمملوك أخزاك الله فهو حر.:ص١٦٨ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:كوچيان څه وايي: كوچيان وايي فلانى د دستي پيغوره نه بيريږي، اونه له راتلونكي اوره (دجهنم) بيريږي، لكه چارپاى (ځيناور) خورى هغه څه چې دى يې پيدا كړي، او وطي(جماع) كوي دهغه څه سره چې په پسي شي.

أعرابي: فلان لا يخاف عاجل عار، ولا آجل نار، كالبهيمة تأكل ما وجدت، وتنكح ما لحقت.:ص ١٦٨ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:پوښتنه: اولنى غيبت چاكړي وه؟

:جواب: اول چې په دنياكي غيبت كړى داكس ابليس ؤ سي دادم عليه السلام غيبت يئ وكاوه.

وأول من اغتاب إبليس اغتاب آدم.:ص١٧٠ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:دحضرت علي وينا: حضرت علي رضي الله عنه وايي كه څوک دنوروخلكوپه عيبونوكي ګوري اوبديې ګڼي او وروسته بيا داعيبونه وخپل نفس (ځان)ته خوښوي (دى يئ كوي) نو دا سړى احمق دى.

علي رضي الله عنه: من نظر في عيوب الناس فأنكرها، ثم رضيها لنفسه فذلك الأحمق بعينه.:ص ١٧٠ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:دغيبت څخه توبه كښل: الله تعالیٰ جل جلاله وحضرت موسي عليه السلام ته

وحي وکړه که غیبت کونکی توبه وهم کاږي له غیبته کولوڅخه نودی به آخرنی شخص وي سي وجنت له به داخلیږي، اوکه په غیبت کولو باندې همیشني ۀ نوبیابه دی اولنی شخص وي چې وجهنم ته به داخلیږي.

أوحى الله إلى موسى أن المغتاب إذا تاب فهو آخر من يدخل الجنة، وإن أصر فهو أول من يدخل النار.:ص۱۷۰ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:ابن القرية څه وايي: حجاج وابن القرية ته وويل سي شري شخص څوک دی؟

ابن القرية ورته وويل چې شري دخلکوهغه شخص دی سي دی دخلکوپه لغزشونو پسي وي اوپخپله همیشه ګناهونه کوي.

قال الحجاج لابن القرية: من شر الناس؟ قال: الذي يطلب عثرات الناس وهو مصر على الذنوب. :ص۱۷۰ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:حضرت أبوهريرة څه وايي: حضرت أبوهريرة رضي الله عنه فرمائي که زه په حالت دفرضي روژې کې دورځې یوه کوزه اوبه قصداً وڅښنم دابهتره ده ماته تردي چې دیو مسلمان غیبت وکړم.

قال أبو هريرة: لئن أقوم إلى كوز ماء فأشربه في رمضان أحب إلي من أن اغتاب مسلماً.:ص۱۷۲ ربيع الأبرار المؤلف: الزمخشري.

:متقدمين علماء وايي: متقدمین علماء خو داسي فرمائي که داسي ووایې چې دفلاني جامه لنډه یا اُوګده ده نوهم دي غیبت وکړو، اوته د ده دنفس ذکرکوې نو دا به څومره ګناه وي.

ذكر عن بعض المتقدمين أنه قال لوقلت أن فلاناثوبه قصير أوثوبه طويل يكون غيبة فكيف اذا ذكرت عن نفسه.:ص٥٤ تنبيه الغافلين لابي ليث.

:غیبت څوک زیات کوي: **:اول**: غیبت دویونکوخلکومیوه ده (پردامیوه دغیبت سره راټول وي).

:دوهم: غیبت دګنهګارانو میلمستیاده.

:دریم: غیبت دښځو دڅیرېدلو ځای ده.

:څلورم: غیبت د ذلیلوخلکو کتغ (سالن) دمیلمستیاده.

:**پنځم**: او د متقيانو ناخوښ شی غيبت دی.

:**شپږم**:د پاچاهانو لپاره غيبت داسي ده لکه باغونه.

:**اووم**:غيبت د قاريانو ميوه ده.

:پاملرنه: بشربن الحارث الحافي وايي: سي قاريان په دوو خويونو هلاک دي اول په غيبت کولو سره دوهم په ځان خوښولو سره (بس يو ځان يې ترپامه ورته انسان ښکاريږي وبس).

وذكر عن بعض الحكماء أنه قال الغيبة فاكهة القراء وضيافة الفساق ومراتع النساء وادام الكلاب الناس سؤ ومزابل الاتقياء.:ص٥٥ تنبيه الغافلين لابي ليث.

قال بعضهم: هي فاكهةُ القراء، ومراتعُ النساء، وبساتينُ الملوك، ومَزبلةُ المتقين، وإدام كلام الناس. هـ.:ج٧ص٢٤٩ تفسير البحر المديد.

وحدثني محمد بن الجنيد نا محمد بن حماد الأبيوردي قال : سمعت فضيل بن عياض يقول الغيبة فاكهة القراء.:ج٥ص٣١٦ شعب الإيمان.

الحسن بن عمرو قال سمعت بشر بن الحارث الحافي يقول هلك القراء في هاتين الخصلتين الغيبة والعجب.:ج٥ص٣١٦ شعب الإيمان.

:داحاضرخلک: زمونږپه عصرکې خوداسي بدعادت دی چې دروغ ويل غيبت کول بهتان لګول کوم عيب ندی اونه داعملونه کول کوم بد شيان خلک بولی نراوښځې ټول په مبتلاء دي، حتٰی چې بعضي علماء اوطلباء کرام ورېه اوبعضي مجاهدين ورېه هم زيات وخت په غيبت کولو دروغ ويلوسره اخته اوپه مبتلاء وي.

بس چې يوڅونارينه ياښځې سره رايوځای شي نويومسلمان وروربه په چنګکونو (لکه قصابان) سره راوځړوي اوخامې غوښې به ترې راپري کوي اوسره خوري به يې هيڅ يوبه هم هغه بل نه ترې منع کوي چې دا مرداري مړژګي غوښې مه خوره، هريوه ته به خپل ځان بزرګ ښکاري په مولويانو ملايانو، پيرانو، اوپه مجاهدينو اوپه هرچابه لګيږي چې دا ښه خلک ندي، هغه يې وکړو او داسي وکړل، اوپه داخپل ګريوان کې به نه ګوري چې مونږ نو دځانونو اصلاح کله کړې ده، اسلام دبل په حق سره دچهاپي وهلو اجازه نده درکړي، اسلام دنيا ټوله يوکورګرځولي ده که څوک

دبل په حق چېا په وهي نو دي خپل ځان دبد فعل دسزاء و ورلو ته هم تيار کړي، بيانو دی دهيڅ رحم او دعافيت مستحق نده، په مونږکه يو چا څه ظلم وکړو، نوبه دا وايو چې مسلماني ايا داسي وي، اوجهنم به دي ځای وي، خوکه مونږ دخلګو سره ظلمونه کو نو بيا کومه پروانه لري، دا څنګه انصاف ده.

داخبره يادلرئ چې غيبت کول(ديو چاپه عزت حمله کول ده) دروغ ويل په کورنی اوجامعه داسلام کې نفرت اونفاق پيداکوی، نوکله چې ملا، طالب دمقتديانو غيبت کوي اومقتديان دعلماء کرامو غيبتونه کوي، نو دا جامعه فلج شوه، نيتونه يې سره بدشول، اوکرکه د دوی سره پيدا کيږي، اومسلمانان دکفارو سره دمقابلي ځواک له لاسه ورکوي. :مصنف.

:مصيبت: پدي عصرکې په خاص ډول دسحرا کليوالو خلکوته دامصيبت راپيښ ده چې په مسجدکې به په غيبت کولو دروغ ويلو اوپه فحش ويلوسره لګياوي، اويابه په مسجدکي دځناورو دصفتونو، اويادقبيح والي ددوی مجلسو نه به سره شروع کړي، مسجدشريف د ذکرالله لمونځ کولو تلاوت لوستلو ځای ده نه د دلهو او دباطلو ځای. :مصنف.

:دغيبت څخه توبه کښل: فقيه أبو الليث فرمائي که دچاغيبت وشي اوهغه ته داخبري ورسيږي نوله هغه څخه دمعافی غوښتلو پرته به توبه صحيح نه وي.

اوکه دچاغيبت وکړي اوهغه ته داخبري (دذم اودخفګان) ور ونه رسيږي نودالله تعالیٰ جل جلاله په دربارکي دي استغفار وغواړي اوتوبه دي وباسي، او د دي بدناروا عمل دنه کولو وعده دي وکړي نوتوبه يې صحيح ده.

اوامام نووي دقاضي خان په حواله فرمائي که دچا غيبت وشي (په عزت يئ حمله وشی) اوهغه مړشي يادغيبت کونکي څخه داسړی ډېرليري وي چې بخښنه ترې وغواړي، نودي داغيبت کونکی شخص توبي کاږي او استغفرالله دي وايي.

او دا بيا کوم اعتبارنه لري چې دچاغيبت وشي اوهغه مړشي بيانو دورثه ؤ داقاربو د ميت څخه دغيبت کولو تحليل غواړي.

وقال الفقيه أبو الليث قد تكلم الناس في توبة المغتابين هل تجوز من غير أن يستحل من صاحبه قال

بعضهم تجوز وقال بعضهم لا تجوز وهو عندنا على وجهين أحدهما إن كان ذلك القول قد بلغ إلى الذي اغتابه فتوبته أن يستحل منه وإن لم يبلغ فيستغفر الله ويضمر أن لا يعود لمثله اه.:ص٥٥ تنبيه الغافلين لابي ليث.

يستحب لصاحب الغيبة أن يبرئه منها ليخلص أخاه من المعصية ويفوز هو بعظيم ثواب الله في العفو وفي القنية تصافح الخصمين لأجل العذر استحلال وقال النووي رأيت في فتاوى الطحاوي أنه يكفي الندم والاستغفار إلى الغيبة وإن بلغت فالطريق أن يأتي المغتاب ويستحل منه فإن تعذر لموته أو لغيبته البعيدة استغفر الله تعالى ولا اعتبار بتحليل الورثة.:مرقاة المفاتيح باب حفظ اللسان والغيبة والشتم.

:ديوبزرګ دښځې واقعه: ديوه زاهد واقعه څه داسي راغلي ده چې زاهد (بزرګ) دخپلي ښځې لپاره مالوچ (پونبه) واخستل، نو دزاهدښځې وويل مالوچ خرڅونکي دا بد خلک دي اوله تاسره دوی خيانت کړيده پدي مالوچوکې، بزرګ ورته وويل سي تاپدي خبره باندې خيانت وکړو، او دا زاهدودي خپلي ښځې ته طلاق ورکړ کله چې له زاهد څخه وپوښتل شول چې بي بي ته دي ولي طلاق ورکړو! زاهد وويل زه غيرت مندشخص يم او دا ويره لرم چې مالوچ خرڅونکي به ټول دقيامت په ورځ ددي ښځې مقابل(دعوه ګير) جوړشي، نو وبه ويل شي چې دفلاني دښځې له مالوچ خرڅونکو سره جګړه ده اومالوچ خرڅونکي به پوري نيښتي وي، نوله دي امله ماهغې ته طلاق ورکړ.

وذكر أن بعض الزهاد أنه اشتري قطناً لامرأته فقالت المرأة ان باعة القطن قوم سوء قدخانوک في هذا القطن فطلق الرجل امرأته فسئل عن ذالک فقال اني رجل غيور فاخاف أن يكون القطانون كلهم خمصماء هايوم القيامة فيقال ان امرأة فلان تعلق بها القطانون فلاجل ذالک طلقتُها.:ص٥٧ تنبيه الغافلين لابي ليث.

:غيبت پدين يو ټکه تندره: غيبت كول پدين (ايمان) باندې يوټکه تندر وراچول ده، که څوک غواړي چې خپلي نيکې ښي اوچپ طرفونوته ولي(وُبيشي) نو دخلکو غيبتونه دي کوي.

والغيبة صاعقة الدين فمَن أراد أن يُفرّق حسناته يميناً وشمالاً ؛ فليغتب الناس.:ج٧ص٢٤٩ تفسير البحر المديد.

:پاملرنه: قال قيس سمعت أبا بكر رضي الله عنه يقول يا أيها الناس إياكم والكذب فإن الكذب مجانب للإيمان إسناده صحيح على شرط الشيخين .: مسند الإمام أحمد بن حنبل.

:دغيبت مثال: غيبت كول داسي مثال لري لكه يومنجنيق چې ودروې اوپدي منجنيق كښې بني اوچپ طرفونو يا شرق اوغرب ته خپلي نيكي پكښې ولې.

وقيل: مثلُ صاحب الغيبة مثل مَن نصب منجنيقاً فهو يرمي به حسناته يميناً وشمالاً ، شرقاً وغرباً. :ج٧ص٢٤٩ تفسير البحر المديد.

:دُعا: دغيبت خو ډېرذم ويل شوى ده الله تبارک وتعالى جل جلاله دي پخپل حفاظت اولطف سره ترې ټوله امت ته نجات راكړي؟ اللهم آمين، ثم آمين، ثم آمين.

والأحاديث والحكايات في ذم الغيبة كثيرة ، نجانا الله منها بحفظه ورعايته.:ج٧ص٢٤٩ تفسير البحر المديد.

:دا روايت ته هم لږ وګوره؟: د آخرت په ورځ به يو سړي ته خپله عمل نامه وركول شي او دا سړى به ووايي سي زمانيكې خويوه هم پدي عمل نامه كي نه معلوميږي دانيكې چېري دي، دابه ورته وويل شي چې ستانيكې ختمي شوى دي دخلكوپه غيبت كولو سره.

{ إن الرجل ليؤتى كتابه منشورا فيقول يارب فأين حسنات كذا وكذا عملتها ليست في صحيفتي ، فيقول له : محيت باغتيابك الناس } .:ج٢ص١٥ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:دغيبت تعريف: غيبت دا ده چې ته داسي خبري په يوچاكي وكړې چې داخبري په هغه كس كي وي.

:دبهتان تعريف: بهتان چې ترغيبت كولوسخته ګناده دا ده چې ته داسي خبري په يو چاكي وكړې چې دا خبري په هغه كس كي نه وي.

:دإفک تعريف: اوإفک (دروغ) دي ته وايي چې كومه خبره ته واورې بس خلكو ته يې كوې.

فالغيبة أن تقول ما فيه، والبهتان ما ليس فيه، والإفك أن تقول ما بلغك.:ج٢ص٢٢ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:غيبت چه وكړې نوغاښونه دغوښوڅخه خلال كړه: حضرت عبدالله بن مسعود

رضي الله عنه وايي سي مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ناست ؤ، يو سړی راڅخه ولاړ شو نويو سړي په ده پسي د وروسته خبري شروع کړي، رسول الله صلي الله عليه وسلم دا خبر کونکي شخص ته وويل غاښونه دي د غوښو څخه خلال (پاک) کړه.

دا سړي (غيبت کونکي) ورته وويل چې غاښونه د څه څخه خلال (پاک) کړم ما خو غوښه نده خوړلي؟

رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وويل تا د وروغوښه وخوړه.

وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال: { كنا عند النبي صلى الله عليه وسلم فقام رجل ، فوقع فيه رجل من بعده ، فقال النبي صلى الله عليه وسلم تخلل.

فقال : ومم أتخلل ؟ ما أكلت لحما.

قال : إنك أكلت لحم أخيك }.: ج۲ص۱۲ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:دأسامه اودسلمان رضي الله عنهم چې غيبت شوي ؤ: واقعه څه داسي وه سي حضرت سلمان رضي الله عنه ډېرغريب انسان وه ده په يوه غزاکي دوو اصحابو کرامو ته وويل چې مادرسره بوځې لنګر(سالن) به زه درپخوم، (هغو ورسره بوتلو)خدمت يې ورته کاوه، اوډوډۍ به يې ورتياره وله، يو وخت حضرت سلمان رضي الله عنه ددوي دخدمت څخه بيده شوی ؤ، ملګري يې چې راغلل حضرت سلمان رضي الله عنه ته يې وويل سي دغرمي ډوډۍ دي ولي نده پخه کړې؟

حضرت سلمان رضي الله عنه ورته وويل بيده شوي وم!

هغوي ورته وويل ورسه درسول الله صلي الله عليه وسلم لنګرته درسول الله صلي الله عليه وسلم (دلنګر مشرحضرت أسامه بن زيد رضي الله عنه ؤ) که په لنګرکې څه ورسره وي هغه به يې درکړي؟

حضرت سلمان رضي الله عنه راغي وحضرت أسامه بن زيد رضي الله عنه ته هغه مبارک ورته وويل دلته له ماسره دخوراک څه نشته.

حضرت سلمان رضي الله عنه ملګروته راغلی او ورته يئ وويل دحضرت أسامه رضي الله عنه سره هم څه نه ول.

نو دا دحضرت سلمان رضي الله عنه ملګرو وويل دا أُسامه زمونږ سره وران (خفه) دی د ده سره خوراکه شته خو هسي له مونږ څخه یې پټه کړي ده.

دا دوو نفرو وويل مونږ یې معلومات کووته مه ځه اې سلمانه تاخوچې مونږ داوبوچینی ته ولیږو چینه داوبو هم دربانديږ وچه شي (یعنی دومره شوم انسان يې) نوپه حضرت سلمان رضي الله عنه پسي یه داخبره وکړه چې تاته چینه وچه شي، اوپه حضرت أسامه رضي الله عنه پسي يې هغه وويل چې له مونږسره یه بخل کړي دخوراک شی یې راڅخه پټ کړي دی اوراسره وران دي، اومعلومات یې په حضرت أُسامه رضي الله عنه پسي شروع کړوچې په لنګرکې څه پاته دي که نه!

بس دواړه صحابه کرام راغلل (دلنګرپه ځای کې) داسي پټ پټ ګوري چې څه پاته دي که نه، رسول الله صلي الله علیه وسلم دواړه راوغوښتل او ورته یې وويل چې څه وجه ده چې دخولو څخه مو دغوښو وینې رواني دي اوخولې موپه سرو وينو سره لړلي دي، هغوي حيران شول چې مونږ خوتیرییګاه هم غوښې ندي خوړلي، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وويل تاسو دأسامه رضي الله عنه اودسلمان رضي الله عنه غوښې خوړلي دي(غیبت مو دحضرت أُسامه رضي الله عنه او دحضرت سلمان فارسي رضي الله عنه کړي ده).

ونزلت أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتا الآية في رجلين من أصحاب رسول الله صلّى الله عليه وسلّم اغتابا رفيقيهما ، وذلك أنّ رسول الله (صلى الله عليه وسلم) كان إذا غزا أو سافر ، ضمّ الرجل المحتاج إلى رجلين موسورين يخدمهما ، ويحقب حوائجهما ، ويتقدّم لهما إلى المنزل ، فيهيّئ لهما ما يصلحهما من الطعام ، والشراب ، فضم سلمان الفارسي ح إلى رجلين في بعض أسفاره ، فتقدّم سلمان ، فغلبته عيناه ، فلم يهيّئ لهما شيئاً ، فلمّا قدما ، قالا له : ما صنعت شيئاً ؟ قال : لا . قالا : ولِمَ ؟ قال : غلبتني عيناي ، فقالا له : انطلق إلى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) واطلب لنا منه طعاماً وإداماً ، فجاء سلمان إلى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وسأله طعاماً ، فقال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) (انطلق إلى أُسامة بن زيد وقل له : إن كان عنده فضل من طعام ، وإدام ، فليعطك) .

وكان أُسامة خازن رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وعلى رحله ، فأتاه ، فقال : ما عندي شيء ، فرجع سلمان إليهما ، وأخبرهما بذلك ، فقالا : كان عند أُسامة ، ولكن بخل ، فبعثا سلمان إلى طائفة

من الصحابة ، فلم يجد عندهم شيئاً ، فلمّا رجع سلمان ، قالا : لو بعثناه إلى بئر سميحة لغار ماؤها ، ثمّ انطلقا يتجسّسان هل عند أُسامة ما أمر لهما به رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فلمّا جاءا إلى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قال لهما : (ما لي أرى خضرة اللحم في أفواهكما) قالا : يا رسول الله ، والله ما تناولنا يومنا هذا لحماً ، فقال : (ظللتم تأكلون لحم سلمان ، وأسامة).:ج٩ص٨٢ الكشف والبيان . المؤلف: أبو إسحاق أحمد بن محمد بن إبراهيم الثعلبي النيسابوري.

وعن ابن عباس أن سلمان كان يخدم رجلين من الصحابة ويسوي لهما طعاما فنام عن شأنه يوما فبعثاه إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم يبغي لهما إداما وكان أسامة على طعام النبي صلى الله عليه وسلم فقال ما عندي شيء فأخبرهما سلمان فعند ذلك قولا لو بعثناه إلى بئر سمحة لغار ماؤها فلما راحا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لهما (مالي أرى خضرة اللحم في أفواهكما فقالا ما تناولنا لحما فقال إنكما قد اغتبتما) ونزلت أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتا.:ج٣ص٣٤٨ تخريج الأحاديث والآثار الواقعة في تفسير الكشاف للزمخشري المؤلف: جمال الدين أبو محمد عبد الله بن يوسف بن محمد الزيلعي.

وقعت بعض أحداث غزوة تبوك في رمضان سنة ٩هـ.:ج٣ص١١ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

:ځان کم ګڼه: په هر انسان دا واجب ده چې خپل نفس متهم کړي، دبل شخص په نقصان کې دي نه واقع کيږي، حضرت عمررضي الله عنه چې به خلکوته خطبه ويله، دابه يې ويل ټول خلک ترعمره پوهه اوهوښيار دي حتى ښځې هم ترعمرافقهي دي.

ويجب أن يتهم نَفْسَه في كل ما يقع له من نقصان غيره، هذا أمير المؤمنين عمرُ قال وهو يخطب الناس: "كُلّ الناسِ أفقه من عمر حتى النساء ". هـ. :ج٧ص٢٤٩ تفسير البحر المديد.

:دنفسه ويېرېږه: حضرت ابوبکرالصديق رضي الله عنه پخپل هغه وصيت کې چې حضرت عمر رضي الله عنه يې خليفه کاوه دايې ورته وويل کوم په اولني شي سره زه چې په تا ييريږم هغه ستا نفس دى هغه نفس چې په ماپين د دواړو اړخونو ستاکې ده.

وقال أبو بكر الصديق في وصيته لعمر رضي الله عنهما حين استخلفه : إنَّ أوَّل ما أحذِّرُكَ نفسك التي بين جنبيك.: جامع العلوم والحكم.

:هغه سخت ترينه دښمن ستا : حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چې ستادښمن هغه څوک نده چې تاقتل کړئ او وجنت له دي داخل کئ، اوکله چې ته

دښمن قتل کړئ نو داستادپاره نور (رحمت) دی، ترهغه زیات دښمن ستانفس ستادی هغه نفس چې په مابین ددوو اړخونوستاکې ده.

وعن أنس عن النَّبيِّ صلى الله عليه وسلم ، قال: (ليس عدوُّك الذي إذا قتلك أدخلك الجنة ، وإذا قتلته كان لك نوراً ، أعدى عدوِّك نفسك التي بين جنبيك).:ج۳۲ص۱۲۵کنز العمال.

:ژبه غشي لري: حضرت سفیان رحمه الله فرمائي که زه واي یوسړی په غشي سره وولم داخبره ماته بهتره ده، ترهغه څه چې یوڅوک په ژبه (دژبې په خبر بدګویی) سره وولم.

الحسن بن عمرو قال: وسمعت بشر بن الحارث يقول قال الفضيل: سمعت سفيان يقول لأن أرمي رجلا بسهم أحب إلي من أن أرميه بلساني.:ج۵ص۳۱٦ شعب الإيمان.

:صدیقین څوک دي: حضرت سهل بن عبد الله وایي: دصدیقینو د اخلاقو څخه دا ده چې دوی په الله جل جلاله سره قسمونه نه اخلي نه په دروغو اونه په ریښتیاوو، اونه غیبت کوي، اونه د دوی څخه غیبت کیږي.

أبا محمد الجريري قال: سمعت سهل بن عبد الله يقول من أخلاق الصديقين أن لا يحلفوا بالله لا صادقين ولا كاذبين ولا يغتابون ولا يغتاب عنهم.:ج۵ص۳۱۷ شعب الإيمان.

:شر دانسانانو څوک دی!: حضرت مالک بن دینار رحمه الله فرمائي: سړي ته دا شر(ذلالت) کافي ده چې خپله صالح نه وي، اودی په صالحینو خلکوکې لویدلی وي(غیبتونه یې کوي).

جعفر بن سليمان قال: سمعت مالك بن دينار يقول كفى بالمرء شرا أن لا يكون صالحا وهو يقع في الصالحين .:ج۵ص۳۱٦ شعب الإيمان.

:داشر دي بس ده: حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه وایي: انسان ته داشر (بدبختی)کافی ده چې خلک پخپلو زړونوکې په ده باندې لعنت وایي، خلکو دحضرت أبا الدرداء رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه داسي انسان به څنګه پیږنو چې خلک په زړونوکې لعنت پروایي؟

حضرت أبا الدرداء رضي الله عنه ورته وویل سي داکس وکوم ځای ته چې ورشي هغه خلک د ده ورتګ بدګڼي اوپربوج شی(بس دایې علامه ده).

أخبرني الحارث بن نبهان عن سليمان أن أبا الدرداء قال: كفى بالمرء من الشر أن يلعنه الناس بقلوبهم قالوا وكيف ذاك قال: يكرهون مجيئه إذا جاءهم.:٢ص٤٨٤ الجامع في الحديث لعبد الله بن وهب بن مسلم القرشي أبو محمد المصري.

:هرڅوک به دخپلو خبرو سره مخ شي: الله جل جلاله فرمائي:

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ (١٨)سورة ق.:قرآن کريم.

:ترجمه: نه وځي (دخلې نه دانسان) څه خبره مګر د ده سره يوساتونکي فرښته ددي (قول خبري) دليکلو دپاره تياره ناسته وي.

:الله جل جلاله فرمائي:

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا (٤) سورة الزلزلة.: قرآن کريم.

:ترجمه: پدغه ورځ(دقيامت) به دا ځمکه خپل ټول حالونه (چې انسانانو پر کړيدي)ووايي (اوبيان به يې کړي).

:پوښتنه: له غيبت څخه څنګه ځانونه خلاص کړو؟

:جواب: :**اول**:حسد مه کوئ.

:**دوهم**: دزړه براسکي په خبروسره مه باسئ(يعني ډېري خبري مه کوئ).

:**دريم**: په خلکو بدګماني مه کوئ.

:**څلورم**:مخالفت مه کوئ.

:**پنځم**: دځان د نفس پاکي مه بيانوئ ځکه بيا دځان دبرائت دښکاره کيدلو دپاره دنورو غيبت کوئ.

:**شپږم**:خلک خوار مه ګڼئ. :مصنف رحمه الله.

(پاملرنه) وعن المستورد أنه حدثه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال " من أكل برجل مسلم أكلة فإن الله يطعمه مثلها من جهنم ومن كسي ثوبا برجل مسلم فإن الله يكسوه مثله من جهنم ومن قام برجل مقام سمعة ورياء فإن الله يقوم به مقام سمعة ورياء يوم القيامة " . صحيح.: سنن أبي داود باب الغيبة.

(من أكل برجل مسلم) أي بسبب اغتيابه والوقيعة فيه أو بتعرضه له بالأذية عند من يعاديه (أكلة) بالضم أي لقمة أو بالفتح أي مرة من الأكل (من جهنم) أي من نارها أو من عذابها (ومن كسي)

بصيغة المجهول (ثوبا برجل مسلم) أي بسبب إهانته

قال في النهاية معناه الرجل يكون صديقا ثم يذهب إلى عدوه فيتكلم فيه بغير الجميل ليجيزه عليه بجائزة فلا يبارك الله له فيها انتهى (ومن قام برجل الخ) قال في اللمعات ذكروا له معنيين أحدهما أن الباء للتعدية أي أقام رجلا مقام سمعة ورياء ووصفه بالصلاح والتقوى والكرامات وشهره بها وجعله وسيلة إلى تحصيل أغراض نفسه وحطام الدنيا فإن الله يقوم به أي بعذابه وتشهيره أنه كان كذابا وثانيهما أن الباء للسببية وقيل هو أقوى وأنسب أي من قام بسبب رجل من العظماء من أهل المال والجاه مقاما يتظاهر فيه بالصلاح والتقوى ليعتقد فيه ويصير إليه المال والجاه أقامه الله مقام المرائين ويفضحه ويعذب عذاب المرائين انتهى

وفي المرقاة الباء في برجل يحتمل أن تكون للتعدية وللسببية فإن كانت للتعدية يكون معناه من أقام رجلا مقام سمعة ورياء يعني من أظهر رجلا بالصلاح والتقوى ليعتقد الناس فيه اعتقادا حسنا ويعزونه ويخدمونه لينال بسببه المال والجاه فإن الله يقوم له مقام سمعة ورياء بأن يأمر ملائكته بأن يفعلوا معه مثل فعله ويظهروا أنه كذاب

وإن كانت للسببية فمعناه أن من قام وأظهر من نفسه الصلاح والتقوى لأجل أن يعتقد فيه رجل عظيم القدر كثير المال ليحصل له مال وجاه انتهى.:ج١٣ص١٥٥ عون المعبود شرح سنن أبي داود.

:دښځو دغيبت واقعه: حضرت انس رضي الله عنه وايي رسول الله صلي الله عليه وسلم يوه ورځ خلک په روژه نيولو سره امرکړل داسي امر چې داخلک به يوهم همدا روژه ترهغونه خوري ترڅو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته دخوړلوامرنه وي کړي، کله چې مابنام شو هر سړی به رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راتللو اودابه يې ورته ويل دورځې روژتي وم نوماته اجازه وکړه چې زه روژه وخورم، رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم ورته اِجازه وکړه، حتّٰی چې يوسړی راغلو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يې وويل يارسول الله صلي الله عليه وسلم دوه پيغلي جينکيانی ستا داهله څخه تړوله ورځ روژتياني ولي، نوته اِجازه ورته وکړه چې دوی دواړي روژه وخوري؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي سړي دسوال څخه اعراض وکړو، داسړی بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلو او وی ويل يارسول الله صلي الله عليه وسلم که هغه دوو ښځوته دروژې دخوړلو ورته اِجازه وکړي؟ رسول

الله صلي الله عليه وسلم ورته وويل دوي روژه نده نيولي او څنګه به روژه نيولي وي هغه چاچې دخلکوغوښې خوري، اورسول الله صلي الله عليه وسلم سوال کونکي سړي ته وويل ورشه دا ښځو ته امر وکړه که دوی دواړه روژتيان وي قئ دي ووهي، وښځوته چې سړی راغلي او درسول الله صلي الله عليه وسلم خبره يې ورته وکړه، نودواړو ښځو قئ وواهو ګوري چې هري ښځې دوينو ټوټې قئ کړي، سړی ورسول الله صلي الله عليه وسلم ته راغلي او دښځو واقعه يې ورته بيان کړه چې ښځوخو دوينو ټوټې قئ کړي، رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل که دا ښځې مړې شوی ولی ياپکښې باقی وای(په بدنونو صورتونود دوي کي) دا دغيبت غوښې پاته ولي نو دا ښځې به دجهنم اورسوځلي وای.

وعن أنس أن النبي صلى الله عليه وسلم أمر الناس أن يصوموا يوما ولا يفطرن أحد حتى آذن له فصام الناس فلما أمسوا جعل الرجل يجيء إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فيقول ظللت منذ اليوم صائما فأذن لي فلأفطر فيأذن له حتى جاء رجل فقال يا رسول الله إن فتاتين من أهلك ظلتا منذ اليوم صائمتين فأذن لهما فلتفطرا فأعرض عنه ثم عاد إليه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما صامتا

وكيف صام من ظل يأكل لحوم الناس اذهب فمرهما إن كانتا صائمتين يستقيئا ففعلتا فقاءت كل واحدة منهما علقة علقة فأتى النبي صلى الله عليه وسلم فأخبره فقال النبي صلى الله عليه وسلم لو ماتتا أو بقيا فيهما لأكلتهما النار.:ج٥ص٣٠١ شعب الإيمان.

:دچاقدر دومره مه کوه: يوچا وحضرت حسن رحمه الله ته وويل چې دا خبره ماته رسيدلي ده سي ته زما غيبت کوې؟

حضرت حسن رحمه الله ورته وويل دومره هم نه يې راباندې ګران چې زه تا پخپلو نيکيوکې حاکم (چورکونکی) وګرځوم (چې په غيبت کولو دانيکې را څخه چوريوسې).

قال رجل للحسن: بلغني أنك تغتابني! فقال ما بلغ قدرك عندي أني أحكمك في حسناتي.:ج٢ ص٢٦ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:پوښتنه: دغيبت دغوښودخوړلوسره ولي تشبيه ورکول شوي ده، شيان خونورهم ډېر دي؟

اول جواب: دغيبت تشبيه دخپل مړه ورور دغوښو دخوړلو سره ځکه ورکول شوي ده چې د انسان زړه دعزت په زخمي کيدلوسره دردکوي، لکه دانسان بدن چې دده دغوښوپه پريکولوسره دردکوي داسي يې پخپله بي عزتي سره هم زړه درد کوي، کله ناکله خو دانسان زړه دبدن دغوښو دقطع کولوڅخه زيات پخپل ابرو عزت سره دردکوي، داځکه چې انسان ته غيرت ابرو ترخپلو غوښو اوتر خپلو وينو قدرمن ده(وي).

{ أيحب أحدكم أن يأكل لحم أخيه ميتا } ووجه التشبيه أن الإنسان يتألم قلبه من قرض عرضه ، كما يتألم بدنه من قطع لحمه لأكله بل أبلغ ؛ لأن عرض العاقل عنده أشرف من لحمه ودمه.:ج۲ص۱۰ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

دوهم جواب:الله تعالى جل جلاله غيبت دمړه ورور دغوښې په خوړلوسره تشبه ورکړي د دغه کار(غيبت کولو) انتهايي کرکجن تصوريې وړاندي کړيده.:مصنف.

دريم جواب:دمرداري غوښې خوړل خوپخپله دکرکې وړده داخولاڅه چې هغه غوښه دکوم حيوان نه بلکي دانسان اوانسان هم کوم بل څوک نه بلکې دهغه خپل وروروي.:مصنف.

څلورم جواب: بل داچې سواليه اسلوب کي دغه تشبيه نوره هم اغيز ناکه ګرځول شويده ترڅوچې هرڅوک خپل وجدان دغي پوښتني ته راجع اوفيصله وکړي چې ايادی دخپل مړه ورور دغوښې وخوړلوته حاضر دی؟ که نه؟.:مصنف.

پنځم جواب: دغيبت اساسي دليل په غيبت کولوسره دزړه ازارول ندي بلکي ديو چاپه غياب کښې دهغه بدي بيانول پخپل ذات کې مطلق حرام عمل دی صرف نظر لدي نه چې هغه ورباندې خبر دی او که نه، اوهغه ته پدي کوم ضرر ورسيږي يانه ورسيږي.:مصنف رحمه الله.

:مسلمان څوک ده: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي مسلمان هغه څوک ده چې دده دژبې اودلاسه څخه مسلمانان په آمن کي وي، اومهاجرهغه څوک ده چې ده هغه څه پري ايښي وي سي الله تعالى جل جلاله نهي ترې کړي وي.

وعن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده والمهاجر من هجر ما نهى الله عنه.:صحيح البخاري باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده.

(مسئله) ابن مسعود رضي الله عنه وايي حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل مسلمانانو ته كنځل كول فسق ده، او د دوي وژل (په ناحقه سره) كفرده(ددي مؤمن څخه مراد بغيرماسيوا باغى مؤمن ده، ځكه دباغى مؤمن په وژلو سره الله جل جلاله امركړى).

وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " سباب المؤمن فسوق ، وقتاله كفر " متفق عليه .

سباب المؤمن فسوق وقتاله كفر بل هو مخصوص بغير الباغي لأن الله تعالى أمر به في الآية فلو كان كفرا لما أمر به بل الحديث مع حديث أبي بكرة رضي الله عنه المذكور في الباب محمول على قتال العصبية ونحوه.:ج٢ص١٥٢ عمدة القاري شرح صحيح البخاري.

:مسلمان دي ځان ترې وساتي!: حضرت جنيد رحمه الله فرمائي:

:**اول**:هغه شى چې زړه فاسده وي داسي فساد پكښې راولي څنګه چې په عسلو كښې سُركه وركړه كړئ دا شى سوء الخلق (بدچلند) ده.

:**دوهم**:كوم شى چې نيكي خوري دا شى حسد ده.

:**دريم**:كوم شى چې نيكي ختم وي دا شى خيانت او بغض ده.

:**څلورم**:كوم شى چې انسان په قيامت مفلس وي دا تكبر او فخركول دي.

:**پنځم**:كوم شى چې زړه د حق څخه ړنده وي دا متابعة دنفس او دهواء ده.

:**شپږم**:كوم شى چې بنده له اعمال الصالحه څخه منع كوي دا غفلت او سرلوړي ده.:ص١٥١ علم القلوب.

:په خبرو جهنم مه ګټه!: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي بنده خبري كوي په خبره سره، او دا بنده ته نه معلوميږي(ګمان او فكرددي خبري په قباحت كي نه كوي) چې پدي خبره كښې څه دي، خو دا بنده پدي خبره سره په جهنم كي وغورځول شي.

(يعني دومره غټه غوټه دعذاب پدي يوه خبره په جهنم كي په وركړل شي چې

دمشرق اودمغرب دمسافى څخه هم لري وي، نوپه خبروكي دي انسانان فكركوي چې فضول خبره ونه کړي)

وعن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن العبد ليتكلم بالكلمة ما يتبين ما فيها يهوي بها في النار أبعد ما بين المشرق والمغرب.:صحيح مسلم.

(يزل بها في النار أبعد ما بين المشرق والمغرب) يعني أبعد قعرا من البعد الذي بينهما والقصد به الحث على قلة الكلام وتأمل ما يراد النطق به.:ص٥٩٤ التيسير بشرح الجامع الصغير.

قوله ما بين المشرق لفظ بين يقتضي دخوله على المتعدد والمشرق متعدد معنى إذ مشرق الصيف غير مشرق الشتاء وبينهما بعد كبير ويحتمل أن يكون اكتفى بأحد المتقابلين عن الآخر مثل سرابيل تقيكم الحر قال وقد ثبت في بعضها بلفظ بين المشرق والمغرب.:ج١١ص ٣١١ فتح الباري شرح صحيح البخاري.

:پوښتنه: يو روايت دابن عباس رضي الله عنه څخه رانقل شوي ده غيبت كتغ سالن خوراک دسپيو خلكودى، نو دغيبت تشبيه دسپو دخوراک سره ولي وركول شوي ده؟

:جواب:دغيبت تشبيه دسپو دخوراک اودغوښو دشكولو سره ځكه وركول شوي ده، چې داخلک دنورو خلكو اعراض عزتونه داسي سره شكوي لكه سپي چي دمرداري مړزكي څخه راشكول دغوښوكوي داسي سپو خلكوته هم بي دخلكو دعيبونو څخه مجلس كول بل رنګه نه ګرميږي اونه مجلس كول ددوي سور سره اخلي اونه بى غيبته مجلس خوند وركوي.

وعن ابن عباس رضي الله عنه: الغيبة إدامُ كلابِ الناس. اهـ. وتشبيههم بالكلاب في التمزيق والتخريق، فهم يُمزقون أعراض الناس، كالكلاب على الجيفة، لا يطيب لهم مجلسٌ إلا بذكر عيوب الناس. وفي الحديث: " رأيت ليلة أُسري بي رجالاً لهم أظفار من نحاس، يَخْمشُون وجوههم ولحومَهم، فقلت: مَن هؤلاء يا جبريل؟ فقال: هؤلاء الذين يأكلون لحوم الناس ويقعون في أعراضهم ".:ج٧ص ٢٤٨ تفسير البحر المديد.

:پاملرنه::**اول**: دبدوخلكو داعادتونه وي چې يوه تحفه وركړي وروسته دى پكښې غيبتونه كوي.

:**دوهم**: دیو چاکره ډوډۍ وخوري او شپې ورسره وکړي بیا د ډوډۍ او د دې کور دخلکو غیبتونه کوي.

:**دریم**: یو څوک چاته عزتونه ورکړي دی به بدپسې زغږي چې دا احمق ؤ.

:**څلورم**: یو چاته به عزتونه ورکړي خودی به ورته غل وي چې څه یې ورځخه یوړه په پوریا په بل کوم رنګ چې یې لاس پرې برشي بس دا به دی ځان ته حلال مال ګڼي چې ترې کښلي به یې بیانشي.

:**پنځم**: داسې بدعادت لرو مخامخ که دیوانډیوال یاتربره سره مخ شوې بس ښه دې وایې خو که درځخه نهام شو بیانو دغیبتونو او دکنځلو او دلعنتونو خوله درپسې خلاصه کړي.

:**شپږم**: که چا دیو چا سره دیوې روپۍ یادیوه شي یو وخت په نافهمي کي تیره بیره وکړه نو داسړی د ده دښمن شو که مخکې یې هرڅو مره ښه ورسره کړي وي داټول برباد شول او ګناه لازمه شوه. :مصنف.

:**دخلکو غیبت هم وربند کړه**: **اول روایت**: که چامنع کړو یو څوک په وروسته دورور مسلمان دغیبت کولو ځخه، نوحقه ده په الله جل جلاله سره چې دا دغیبت بندونکی سړی د جهنم ځخه آزاد کړي.

وأحمد بإسناد حسن وجماعة : { من ذب عن عرض أخيه بالغيبة كان حقا على الله أن يعتقه من النار } .:ج۲ص۱۵ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:**دوهم روایت**: که چا ردکړي په وروسته دورور خپل پسې چې کومي خبري په ده پسې کیږي، ردبه کړي الله جل جلاله مخ د ده په ورځ دقیامت کې د جهنم داورځخه.

والترمذي وحسنه : { من رد عن عرض أخيه رد الله عن وجهه النار يوم القيامة }. :ج۲ص۱۵ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:**دریم روایت**: که چامنع کړي په دنیا کي هغه خبري چې په وروسته دورور خپل یې کیږي، الله تبارک وتعالی جل جلاله به په ورځ دقیامت ده ته یوه ملائکة راولیږي دی به د جهنم ځخه منع کوي.

وعن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : { من حمى عن عرض أخيه في

الدنيا بعث الله عز وجل ملكا يوم القيامة يحميه من النار }.:ج۲ص۱۵ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:**څلورم روایت**:که څوک پداسي وخت کې له مسلمان څخه دفاع نه کوي چې هلته دهغه سپکاوي توهين کيږي اودهغه پرپت عزت باندې تعرض کيږي نوالله تعالی جل جلاله به هم پداسي وختونوکې دهغه ملاترحمايت نه کوي، چې هلته هغه دخدای جل جلاله دمرستي غوښتونکي وي.

في الحديث : { إن من اغتيب عنده أخوه المسلم فاستطاع نصره فنصره نصره الله في الدنيا والآخرة ، وإن لم ينصره أذله الله في الدنيا والآخرة }.:ج۲ص۱۵ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:**اوله پاملرنه**: که غيبت کونکي دا احساس کړه چې دغيبت مرتکب کيږم اويا دغيبت مرتکب شوی دی، نو پرفرض ده چې الله جل جلاله ته سم دستي توبه وکړي اوله دغه حرام کارنه لاس واخلي غيبت يوداسي بدشی ده که بخښنه هم په وغواړي هغه کس به ترې خفه وي.:مصنف.

:**دوهمه پاملرنه**: که دکوم ژوندي انسان غيبت يې کړي وي چې هغه سړی په بی خبره وي اوغيبت کونکی دبښني غوښتني پخاطر ورشي ورته ووايي چې ماستا غيبت کړيۀ نو دا کار به نورهم د اذيت موجب وګرځي، نو غيبت بدشی ده که بخښنه هم له دا ژوندي انسان څخه په وغواړي بيابه هم هغه کس خفه وي.:مصنف.

:غيبت کبيره ګناه ده: غيبت کول هغه ناوړه بدي خبري چې په وروسته دخپل ورور يۀ څوک کوي داکبيره ګناه ده، که چاويل چې غيبت کول صغيره ګناه ده داضعيفه اوباطل قول ده، اجماع پدي راغلي چې غيبت کبيره ګناده، تعجب هغه چاته ده چې دمرداري مړزګي خوراک حرام اوکبيره ګناه بولي اوغيبت کول کبيره ګناه نه بولي، حال داچې الله تعالی جل جلاله غيبت ته دخپل مړه ورور دغوښو سره تشبيه ورکړي ده.

والعجب ممن يعد أكل الميتة من الكبائر ولا يعد الغيبة كبيرة ، والله تعالى أنزلها منزلة أكل لحم الآدمي في حال كونه ميتا ، وقد جزم الرافعي قبل هذا بأن الوقيعة في أهل العلم وحملة القرآن من الكبائر وفسروا الوقيعة بالغيبة .

والقرآن والأحاديث متظافرة على ذلك أي كونها كبيرة مطلقا ، وفي الصحيح : { سباب المسلم

فسوق } .

وأخرج البيهقي بإسناد حسن عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : { إن من أكبر الكبائر استطالة الرجل في عرض رجل مسلم بغير حق } .

وفي الصحيحين في خطبة النبي صلى الله عليه وسلم عام حجة الوداع : { إن دماءكم وأموالكم وأعراضكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا في شهركم هذا في بلدكم هذا } .:ج٢ص١٧ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

عد الغيبة المحرمة كبيرة هو ما جرى عليه كثيرون ويلزم منه أن السكوت عليها – رضا بها – كبيرة أيضا على أنه يأتي أن ترك إنكار المنكر مع

القدرة عليه من الكبائر ، والغيبة من عظائم المنكرات فقال الزركشي: والأشبه أن السكوت على الغيبة مع القدرة على دفعها كبيرة .انتهى .

قال الأذرعي: إطلاق القول بأنها من الصغائر ضعيف أو باطل ، وقد نقل القرطبي المفسر وغيره الإجماع على أنها من الكبائر ويوافقه كلام جماعة من أصحابنا كما سبق في حد الكبيرة ، وقد غلظ أمرها في الكتاب والسنة ، ومن تتبع الأحاديث فيها علم أنهما من الكبائر ولم أر من صرح بأنها من الصغائر غير الغزالي وصاحب العدة.:ج٢ص١٦ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:مخامخ که دچاذم بیان کړې: که دیو چاپه مخ کي دده ذم اوقبیح شیان وریادوې دا هم غیبت کول دي، اوکه د ده په غیاب کي دا ناوړه شیان وایې دا هم غیبت ده.

أن يذكر به مما هو فيه بحضرته أو غيبته.:ج٢ص٢٢ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

:پاملرنه: اکثره وخت یوڅوک مخامخ ورته ناست وي اودی عیبونه پکښې بیانوي دي ته کنځل هم ویل کیږي.: ج٣ص١٩٧ الدررالبهية لعثيمين.

:مسلمان عزت مندلره: غیبت ډیربد حرام عمل ده دا په ډیرو رنګونو سره کیږي:

که یو چاته ووایې چې اې سوره، یااې توره، یا اې ګک (چیک) سترګې، احوله، یا اې ضعیفه، یا اې عاجزه، یا اې بدخویه، یا اې لنډیه یافلاني لنډي ده، یا اې غټ سرې، یاشین سترګې، یاپیت پزې، یا اې ډیرډوډۍ خوره(غټ نسې).

یا دا ووایې چې دفلاني خو داسي خرابه لنګوټه وه، یایې سم تک ندي زده، یایې سر زړولی وي چې روان وي، یابل داسي کار وښیې چې دی(هغه نفر) په خفه کیږي

ياددي ضدخبري پکښې وکړې ولوکه داستابدويل پرليکلوهم وي بس داټول غيبتونه دي.

(ياداچې فلانی خو دفلاني قوم دي هرقوم چې وي چې داسړی په خفه کيږي داغيبت دی، ياداچې فلانی خودنجار زوی ده، ياداچې دی د اهنګر زوی ده، يادا چې فلانی خو درنګ ريږ زوی ده، چې مراد ترينه ستا د ده نقص عيب وي دا ټول غيبتونه دي).

اوياداسي ووايي چې فلانی درواغجن ده، يادمور اوپلار آزاری ده.

او ياداسي ووايي چې فلانی زکات نه ورکوي، يا داچې زکات ومستحق ته نه ورکوي، يا داچې فلانی بي آدبه دی، ياداچې فلانی ډېرخوبي ده، ياداچې فلاني غټې ياکوچني جامې جوړوي، ياداچې دفلاني کور قلعه سمه نده جوړه، ياداچې فلانی خرابه دابه ياخراب موټر لري، ياداچې دفلاني عيال بي تربيي دی، ياداچې دفلاني ښځه ډېره وځي، ياداچې دفلاني ښځه زړه ده، ياداچې دفلاني ښځه بی حياء يابدشکله ده، ياداچې دفلاني ښځه مردار خوره ده وغيره وغيره.... داټول غيبت کول دي او دا ټول غيبتونه دي (مطلب داچې په هره خبره څوک چې په خبرشي اوپه خپه کيږي دابس غيبت د ده ده او داخبره مه پکښې کوئ؟).

الفصل الثاني: في تحريم الغيبة: اعلم أن الغيبة من أقبح القبائح وأكثرها انتشار في الناس حتى لا يسلم منها إلا القليل من الناس وهى ذكرك الانسان بما يكره ولو بما فيه سواء كان في دينه أو بدنه أو نفسه أو خلقه أو ماله أو ولده أو والده أو زوجته أو خادمه أو عمامته أو ثوبه أو مشيته أو حركته أو بشاشته أو خلاعته أو غير ذلك مما يتعلق به سواء ذكرته بلفظك أو بكتابك أو رمزت إليه بعينك او يدك أو رأسك أو نحو ذلك فاما الدين فكقولك سارق خائن ظالم متهاون بالصلاة متساهل في النجاسات ليس بارا بوالديه قليل الأدب لا يضع الزكاة مواضعها ولا يجتنب الغيبة وأما البدن فكقولك أعمى أو أعرج أو أعمش أو قصير أو طويل أو أسود أو أصفر وأما غيرهما فقولك فلان قليل الأدب متهاون بالناس لا يرى لأحد عليه حقا كثير النوم كثير الأكل وما أشبه ذلك أو كقولك فلان أبوه نجار أو إسكاف أو حداد أو حائك تريد تنقيصه بذلك أو فلان سيء الخلق متكبر مراء معجب عجول جبار ونحو ذلك أو فلان واسع الكم طويل الذيل وسخ الثوب ونحو ذلك.:ج١ص١٨٠ المستطرف في كل

فن مستظرف.

لأن المسلم أشرف وأعظم حرمة ، وسواء في ذلك مما يكرهه في بدنه كأحول أو قصير أو أسود أو ضدها ، أو في نسبه كأبوه هندي أو إسكاف أو نحوهما مما يكرهه كيف كان ، أو خلقه كسيء الخلق عاجز ضعيف .

أو فعله الديني ككذاب أو متهاون بالصلاة أو لا يحسنها أو عاق لوالديه ، أو لا يعطي الزكاة أو لا يؤديها لمستحقيها

أو الدنيوي كقليل الأدب ، أو لا يرى لأحد حقا على نفسه ، أو كثير الأكل أو النوم .

أو ثوبه كطويل الذيل قصيره وسخه.

أو داره كقليلة المرافق أو دابته كجموح ، أو ولده كقليل التربية ، أو زوجته ككثيرة الخروج أو عجوز أو تحكم عليه أو قليلة النظافة ، أو خادمه كآبق.

أو غير ذلك من كل ما يعلم أنه يكرهه لو بلغه.:ج٢ص٢٢ الزواجر عن اقتراف الكبائر.

قد ذكرنا في الباب السابق أن الغيبة : ذكرك الإنسان بما يكره، سواء ذكرته بلفظك أو في كتابك، أو رمزت أو أشرت إليه بعينك أو يدك أو رأسك . وضابطه : كل ما أفهمت به غيرك نقصان مسلم فهو غيبة محرمة، ومن ذلك المحاكاة بأن يمشي متعارجا أو مطأطئا أو على غير ذلك من الهيئات، مريدا حكاية هيئة من يتنقصه بذلك، فكل ذلك حرام بلا خلاف، ومن ذلك إذا ذكر مصنف كتاب شخصا بعينه في كتابه قائلا : قال فلان كذا مريدا تنقيصه والشناعة عليه، فهو حرام، فإن أراد بيان غلطه لئلا يقلد أو بيان ضعفه في العلم لئلا يغتر به ويقبل قوله، فهذا ليس غيبة، بل نصيحة واجبة يثاب عليها إذا أراد ذلك، وكذا إذا قال المصنف أو غيره : قال قوم أو جماعة كذا، وهذا غلط أو خطأ أو جهالة وغفلة، ونحو ذلك فليس غيبة، إنما الغيبة ذكر الإنسان بعينه أو جماعة معينين .

ومن الغيبة المحرمة قولك : فعل كذا بعض الناس أو بعض الفقهاء، أو بعض من يدعي العلم، أو بعض المفتين، أو بعض من ينسب إلى الصلاح أو يدعي الزهد، أو بعض من مر بنا اليوم، أو بعض من رأيناه، أو نحو ذلك إذا كان المخاطب يفهمه بعينه؛ لحصول التفهيم .

ومن ذلك غيبة المتفقهين والمتعبدين، فإنهم يعرضون بالغيبة تعريضا يفهم به كما يفهم بالصريح، فيقال لأحدهم : كيف حال فلان ؟ فيقول : الله يصلحنا، الله يغفر لنا، الله يصلحه، نسأل الله العافية، نحمد الله الذي لم يبتلنا بالدخول على الظلمة، نعوذ بالله من الشر، الله يعافينا من قلة الحياء، الله يتوب علينا وما أشبه ذلك مما يفهم منه تنقصه، فكل ذلك غيبة محرمة، وكذلك إذا قال : فلان يبتلى بما

ابتلينا به كلنا، أو ماله حيلة في هذا، كلنا نفعله، وهذه أمثلة وإلا فضابط الغيبة : تفهيمك المخاطب نقص إنسان كما سبق، وكل هذا معلوم من مقتضى الحديث الذي ذكرناه في الباب الذي قبل هذا عن صحيح مسلم وغيره في حد الغيبة، والله أعلم .

فصل : اعلم أن الغيبة كما يحرم على المغتاب ذكرها، يحرم على السامع استماعها وإقرارها فيجب على من سمع إنسانا يبتدىء بغيبة محرمة أن ينهاه إن لم يخف ضررا ظاهرا، فإن خافه وجب عليه الإنكار بقلبه ومفارقة ذلك المجلس إن تمكن من مفارقته.:ج٢ص٢٢٩ الأذكار النووية للإمام النووي.

:مسئله:

فإن قدر على الإنكار بلسانه أو على قطع الغيبة بكلام آخر لزمه ذلك، فإن لم يفعل عصى، فإن قال بلسانه أسكت وهو يشتهي بقلبه استمراره، فقال أبو حامد الغزالي : ذلك نفاق لا يخرجه عن الإثم، ولا بد من كراهته بقلبه، ومتى اضطر إلى المقام في ذلك المجلس الذي فيه الغيبة وعجز عن الإنكار أو أنكر فلم يقبل منه ولم يمكنه المفارقة بطريق حرم عليه الاستماع والإصغاء للغيبة، بل طريقه أن يذكر الله تعالى بلسانه وقلبه، أو بقلبه، أو يفكر في أمر آخر ليشتغل عن استماعها، ولا يضره بعد ذلك السماع من غير استماع وإصغاء في هذه الحالة المذكورة، فإن تمكن بعد ذلك من المفارقة وهم مستمرون في الغيبة ونحوها وجب عليه المفارقة، قال الله تعالى : { وإذا رأيت الذين يخوضون في آياتنا فأعرض عنهم حتى يخوضوا في حديث غيره وإما ينسينك الشيطان فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين } [الأنعام : ٦٨] .:ج٢ص٢٢٩ الأذكار النووية للإمام النووي.

:مسئله:

(مسئله) كه يو مريض په مياشت درمضان كي سهاركړو اودى روژتي ؤ يعني دروژې نيت يې كړي ؤ بيا له سهاره وروسته جوړشو اوبيايې روژه پدغه ورځ كښې پسي وخوړه كفاره باندې نشته صرف ديوې ورځې دروژې قضاء به راوړي.

مريض أصبح صائما ثم صح ثم أفطر لاكفارة عليه.:ج٣ص ٣٩٤ الفتاوي التاتارخانية.

په كوم حالت كي مريض ته دروژې خوړل جوازلري

(مسئله)سوال: مرض كوم مرض معتبردى چې روژتي ته جوازلري چې فرضي روژه پكښې وخوري؟

:جواب: په تجنيس الناصري كي راغلي چې مريض ته دروژې خوړل روادي كه څه هم دروژې نيولوتوان اوطاقت لري ځكه دى داسي حكم لري لكه مسافر.

:پاملرنه: كه مريض په ولاړه دلمانځه طاقت نه درلود بياپروانلري چې فرضي روژې وخوري له امام أبي حنيفة رحمه الله څخه همدا روايت راغلى ده.

وفي تجنيس الناصري : وللمزيض أن يفطر وان أطاق الصوم كالمسافر.

المريض اذالم يقدر أن يصلي قائما فأراد أن يفطر في شهر رمضان لاباس به ،وروي عن أبي حنيفة رحمه الله هكذا.:ج٣ص ٤٠٤ الفتاوي التاتارخانية.

كه روژتي موسمي تبي درلودي

(مسئله)سوال:كه روژتي موسمي تبي لري اويوه ورځ پدي ګمان روژه وخوري چي نن ورځ زه ناجوړه كيږم اوبيا ناجوړه نشي؟

:جواب:که یو شخص روژه نیولي وه اوپداسي عذر اوګمان سره دا روژه درمضان دمیاشتې وخوري چې نن ورځ هغسې زما دمرض ده ناجوړه کیږم که روژه ونیسم بیامې دا ضعیفه کوي، اوحال بیاداسي پیښ شي چې پدي ورځ کي ناجوړه نشي، نوپدي خوړونکي شخص دروژې قضاء اوکفاره دواړه باندې واجب دي.

ومن كان له حمى غب فلما كان اليوم المعتاد أفطر على توهم أن الحمى تعاوده وتضعفه فأخلفت الحمى تلزمه الكفارة كذا في الخلاصة.:ج١ص٢٠٧ هندية .:ج١ص٩٧ قاضي خان.

وإذا أفطرت على ظن أنه يوم حيضها فلم تحض ألأ ظهر وجوب الكفارة كما لو أفطر على ظن أنه يوم مرضه أو أفطر بعد إكراهه على السفر قبل أن يخرج ثم عفي عنه.:ج٢ص٢٩٨ البحر الرائق.

(پوښتنه) که روژتي دافطار په وخت پدي ګمان روژه ماته کړي چې لمرغروب کړي اوبیاحال داثابت شي چې لمرغروب نه ؤکړي نوپدي خیال اوګمان سره دروژتي خوروژه فاسده شوه شرعاً اوکفاره باندې لازم نده، اویامجاهد خوراک وکړي چې جنګ به پیښ شي اوجنګ واقع نشي قضاء دروژې باندې شته اوکفاره باندې لازم نده، نودلته معتادي مریض ته ولي دکفارې حکم ده دي مریض خوهم په اعتماد دتبې دراتللو ده یقین درلود ځکه یې روژه وخوړه خوچې رانغله داخودده قصورنده؟

:جواب:موسمي تبې لرونکی شخص که روژه پدي ګمان وخوري چې نن ورځ زه ناجوړه کیږم اوبیاناجوړه نشي دا دکفارې حکم په ده په اجماع ثابته ده، اوپه مجاهد چې کفاره نشته ځکه چې جنګ مخکې اول دواري وخوراک کولوته احتیاج لري چې قوت مجاهدپیدا کړي بخلاف المرض.

قوله (لو أفطر) أي كل من المعتاد والمتيقن قوله (والمعتمد سقوطها) كذا صححه في البزازية وقاضيخان في شرح الجامع الصغير في المعتاد حمى وحيضا وشبهه بمن أفطر على ظن الغروب ثم ظهر عدمه وعليه مشى الشرنبلالي وهو مخالف لما في البحر حيث قال وإذا أفطرت على ظن أنه يوم حيضها فلم تحض الأظهر وجوب الكفارة كما لو أفطر على ظن أنه يوم مرضه اه

وكتبت فيما علقته عليه جعل الثانية مشبها بها لأنها بالإجماع بخلاف مسألة الحيض فإن فيها اختلاف المشايخ والصحيح الوجوب كما نص على ذلك في التاترخانية اه ولذا جزم بالوجوب في المسألتين في السراج و الفيض

والحاصل اختلاف التصحيح فيهما ولم أر من ذكر خلافا في سقوطها عمن تيقن قتال عدو والفرق كما في جامع الفضولين أن القتال يحتاج إلى تقديم الإفطار ليتقوى بخلاف المرض.:ج٢ص١٢٠ شامي.

:پاملرنه: دا حکم دکفارې پدي نفرهلته دی چې ده دشپي څخه دروژې نيولونيت کړی وي وروژې ته اوبياله طلوع الفجره وروسته روژه وخوري، اوکه چېرې دي سرې دروژې نيولو نيت نه وه کړی پدي ورځ کښې بياکه خوراک وکړي نوکفاره باندې نشته صرف قضاء دروژې به راوړي.

لمرأة إذا أفطرت على أنه يوم الحيض ثم إنها لم تحض في يومها ذلك الأظهر أن عليها الكفارة لوجود الافطار في يوم ليس فيه شبهة الأباحة، قال مولانا رحمه الله هذا اذا نوي الصوم ثم أفطر بعد طلوع الفجر فان لم ينوي الصوم في ذالک اليوم کان عليه القضاء دون الكفارة.:ج١ص٩٧ قاضي خان.

:نکته: په کتاب التجنيس کي صاحب دهدائی وايي که موسمي تبولرونکي روژتي په اول دورځې کي پدي عذر او ګمان دا روژه درمضان وخوره چې نن ورځ مې نو بت دتبي ده ناجوړه کيږم که روژه ونيسم بيامې ضعيفه کوي، اوحال بيا داسي پيښ شي چې پدي ورځ کي ناجوړه نشي، نوپدي خوړونکي دروژې قضاء دروژې باندې واجب ده اوکفاره باندې نشته.

من له نوبة الحمي فأفطر في أول اليوم قبل أن تظهر الحمي علي ظن أن الحمي تعتريه فتضعفه فلابأس به.:ج٢ص٤٠٣ کتاب التجنيس لصاحب الهداية.

په روژه کي ضررعام ده

(مسئله) په روژه کي ضررعام ده، نوکه روژتي ته ضرر نه ؤخو ومال ته يې ضرر ؤ مثلا ده روژه نيولای شواي خوملګرو يې روژه خوړه اوپه دوي باندې د ده روژه سخته وي ځکه د دوي نفقه سره شريکه وي نو پداسي حال کي روژتي ته هم دروژې خوراک رواده.

وَأَطْلَقَ الضّرَر ولم يقيّده بضرر بدنه لأَنه لَو لَم يضره الصّوم لكن كان رُفقاؤه أو عامتهم مفطرين والنّفقة مشتركة بينهُم فالإِفطار أفضل كذَا في الخلاصة والظهيرِيةِ ؛ لِأَنَّ ضَرَرَ الْمَالِ كَضَرَرِ الْبَدَنِ.

:ج٢ص٤٦٥ بحرالرائق.

تی ورکونکي ښځه عامه ده

(مسئله) تی ورکونکي ښځه عامه ده که يئ خپله مور وي اوياکه په بيع مزدوري سره تی ورکونکي وي، اويامفت تی ورکوي، بشرط چې دښځي دخپل صحت او دتندرستي دخرابی له وجې وي، يا دبچي دضرر خوف وي، نوکه يې پداسي حالت کې دماشوم دپيو دورکولو لپاره روژه وخوړه جواز لري.

سواء كانت المرضع اماللرضيع ام كانت مستاجرة لارضاع غيرولدها في رمضان اوقبله فان فطرها جائز على الظاهر عندالحنفيه.:ج٢٨ص٥٤ الموسوعة الفقهيه.

(قوله أو مرضع) هي التي شأنها الإرضاع وإن لم تباشره ، والمرضعة هي التي في حال الإرضاع ملقمة ثديها الصبي نهر عن الكشاف (قوله أما كانت أو ظئرا) .

أما الظئر فلأن الإرضاع واجب عليها بالعقد ، وأما الأم فلوجوبه ديانة مطلقا وقضاء إذا كان الأب معسرا أو كان الولد لا يرضع من غيرها ، وبهذا اندفع ما في الذخيرة ، من أن المراد بالمرضع الظئر لا الأم فإن الأب يستأجر غيرها بحر ونحوه في الفتح .

وقد رد الزيلعي أيضا ما في الذخيرة بقول القدوري وغيره إذا خافتا على نفسهما أو ولدهما إذ لا ولد للمستأجرة وما قيل إنه ولدها من الرضاع رده في النهر بأنه يتم أن لو أرضعته والحكم أعم من ذلك فإنها بمجرد العقد لو خافت عليه جاز لها الفطر .ا هـ .

وأفاد أبو السعود أنه يحل لها الإفطار ولو كان العقد في رمضان كما في البرجندي خلافا لما في صدر الشريعة من تقييد حله بما إذا صدر العقد قبل رمضان.:ج٣ص٤٦٣ شامي.

(مسئله) که خاوندمال داروي چې يوه دايي په مزدوري دبچي دښېدو دپاره په کرايه سره نيولی شي نو دبچي و اصلي مور ته بيا دروژې خوړل جواز نلري.

او مرضع اماكانت اوظئرا على الظاهر.....قال الرافعي ولايحل للوالدة اذا لايجب عليها الارضاع... بل مبنى على ظاهرالرواية من انه لافرق بينهما الا ان الام لايتحقق خوفها على ولدها الا عند تعينها. :ص١٥١ رافعی.

(مسئله) که خاوند دبچي غريب وي چې د دايي په اجرت قدرت نلري، يابچی دبلي ښځي شېدي نه رويي نو دبچي و اصلي مور ته بيا روژه نه نيول جواز لري، اوپر

مور دشپړو ورکول لازم ده.

واما الام فلوجوبه ديانة مطلقا، وقضاء اذا كان الاب معسرا اوكان الولد لايرضع من غيرها .:ج۲ص۴۲۲ شامی.

رسول الله صلي الله عليه وسلم دڅو رمضانونو روژې نيولي وي

(مسئله)سوال:حضرت محمدصلي الله عليه وسلم پخپل مبارك ژوندكي دڅو رمضانونو روژې نيولي وي؟

:جواب:حضرت محمدصلي الله عليه وسلم پخپل نيک بخته مقدس ژوندكي دنهو (۹) رمضانونو روژې نيولي وي.

وقد صام عليه السلام ثمانية أو تسعة رمضانات خمسة منها كانت تسعة وعشرين يوماً والباقي ثلاثين وقد قال عليه السلام : "شهرا العيد لا ينقصان" أي : حكمهما إذا كانا تسعاً وعشرين مثل حكمهما إذا كانا ثلاثين في الفضل وقد صح أن دور هذه الأمة هو الدور القمري العربي الذي حسابه مبني على الشهر لا الدور الشمسي الذي مبني حسابه على الأيام.:۷ص۳۱۱ : تفسير روح البيان.

وصام النبي صلّى الله عليه وسلم تسعة رمضانات في تسع سنين، وتوفي النبي صلّى الله عليه وسلم في شهر ربيع الأول سنة إحدى عشرة من الهجرة.:۳ص۱۳ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

وقد صام النبي صلى الله عليه وسلم صام تسعة رمضانات؛ لأن رمضان شرع في السنة الثانية من الهجرة، فصام الرسول الله صلى الله عليه وسلم من السنة الثانية إلى السنة العاشرة، فأكثر هذه الأشهر كما جاء في حديث ابن مسعود كانت ناقصة، أي: أنها كانت تسعة وعشرين.:ج۱۳ص٤ شرح سنن أبي داود لعبد المحسن العباد.

څوک چې په مياشت درمضان کي بيهوشه شو

(مسئله) که چادروژې نيولونيت دپشلمي شخه وکړي وروسته بياپه ورځ کي بيهوشي پر راغله او دڅو ورځو پوري بيهوشه پروت ؤو، نودکومي ورځې نه چې بيهوشي شروع شوي ده، دهغه اولي ورځې قضاء خوبه نه راوړي، البته ددي نه دوروستو ورځو قضاء راوړل باندې بياواجب ده.

:پوښتنه: ددي اولني ورځې دبيهوشي قضاء ولي باندې نشته؟

:جواب:ددي ورځې دروژې قضاء خوپدي باندې پري نشته چې ددي ورځې روژه

موجوده شوه(داپه هغه صورت کي چې دي نفر دورځې خوراک بيانه وي کړي) ځکه دا بيهوشه کس دروژې دنيولو نيت کړي وه.

امام مالک رحمه الله وايي: چې قضاء دباقي روژو باندې نشته ځکه دی مبارک وايي چې په اولني نيت سره ټولي باقي روژې اداء کيږي.

او داحنافومذهب داده: چې دهري ورځې دروژې لپاره جلاجلانيت ضروري دی.

(قوله ومن أغمي عليه في شهر رمضان) يعني بالنهار (لم يقض اليوم الذي حدث فيه الإغماء) لوجود الصوم فيه وهو الإمساك المقرون بالنية إذ الظاهر وجودها منه.

(قوله وقضى ما بعده) لانعدام النية فيه وإن أغمي عليه من أول ليلة منه إلى آخره قضاه كله إلا يوم تلك الليلة لأنه نوع مرض ومن جن في شهر رمضان كله لم يقضه.:ج١ص٤٥٩ الجوهرة النيرة.

لا يقضي اليوم الذي حدث فيه الإغماء إذا كان نوى الصيام وأما الجنون فإن استوعب الشهر كله فلا يقضي وإن لم يستوعب قضى ما جن فيه:فقه العبادات في الفقه الحنفي.

وقال مالك: لا يقضي ما بعده لأن صوم رمضان عنده يتأدى بنية واحدة بمنزلة الاعتكاف ، وعندنا لا بد من النية لكل يوم لأنها عبادات متفرقة ، لأنه يتخلل بين كل يومين ما ليس بزمان لهذه العبادة.: العناية شرح الهداية كتاب الصوم.

که ليونی په مياشت دروژې کي پرسد شو

(مسئله) که يو ليونی شخص دروژې دمياشتې په دوران کي پسدشو، باقي روژې به نيسي، اودتيرو شو روژو قضاء به راوړي، اوکه چېرې دروژې مياشت تيره شوه او وروسته بيا دا ليونی پرسدشو نوبيا درمضان دمياشتې دروژو قضاء باندې نشته، ځکه په قضاء راوړلو کي مشقت اوحرج ده دانه چې دی اهل دخطاب دروژو نه ؤو.

اوامام زفررحمه الله اوامام الشافعي رحمه الله وايي: که ليونی په دوران دروژې دمياشتې کي پرسدشو نو دتيرو روژو قضاء باندې نشته، ځکه واي دی دروژو اهل نه ؤو.

او امام مالک رحمه الله وايي: که ليونی دروژې دمياشتې وروسته پرسدشو نو قضاء دروژو به راوړي امام مالک رحمه الله يئ په بيهوشه نفرقياسه وي.

:پوښتنه: که يو سړی بيهوشه شو دروژې په مياشت کي اوچې کله پرسد شو نو دتيرو روژو قضاء به راوړي، او دليوني په مسئله کې پرليوني دتيرو روژو قضاء

نشته دا څه فرق سره لري؟

:جواب: بیهوشي یو نوع مرض ده چې امتدادیئ کم او نادر ده بخلاف الجنون.

(قوله وإذا أفاق المجنون في بعض شهر رمضان قضى ما مضى منه) لأن السبب قد وجد وهو الشهر والأهلية فلزمه القضاء.:ج۱ص٤٥٩ الجوهرة النيرة.

(ومن جن رمضان كله لم يقضه) خلافا لمالك هو يعتبره بالإغماء.

ولنا أن المسقط هو الحرج والإغماء لا يستوعب الشهر عادة فلا حرج ، والجنون يستوعبه فيتحقق الحرج (وإن أفاق المجنون في بعضه قضى ما مضى) خلافا لزفر والشافعي رحمهما الله.

هما يقولان لم يجب عليه الأداء لانعدام الأهلية ، والقضاء مرتب عليه ، وصار كالمستوعب.

ولنا أن السبب قد وجد وهو الشهر والأهلية بالذمة ، وفي الوجوب فائدة وهو صيرورته مطلوبا على وجه لا يخرج في أدائه ، بخلاف المستوعب لأنه يخرج في الأداء فلا فائدة وتمامه في الخلافيات ، ثم لا فرق بين الأصلي والعارضي ، قيل هذا في ظاهر الرواية.

وعن محمد رحمه الله أنه فرق بينهما لأنه إذا بلغ مجنونا التحق بالصبي فانعدم الخطاب بخلاف ما إذا بلغ عاقلا ثم جن ، وهذا مختار بعض المتأخرين.: فتح القديركتاب الصوم.

که روژتي په حالت دروژې کي لیونی شو

مسئله سوال: که روژتي په حالت دروژې کي لیونی شونو دده روژه څه حکم لري؟

:جواب: که روژتي په روژه کي لیونی شو او اوبه وڅښي یاخوراک په حالت دلیونتوب کي وکړي، نو پدي لیوني دیوې روژې نیولو قضاء پیاباندې واجب ده که پسد شو.

صائم جن وشرب في حال جنونه، فعليه القضاء.:ج۲ص٦٨٥ المحيط البرهاني.

که روژتي مالګه وخوړه

مسئله سوال: که روژتي مالګه وخوړه روژه دده څه حکم لري؟

:جواب: که دروژې په حالت کي روژتي عادتاً عمداً لږ لږ مالګه وخوړه نوپه اول واري سره روژه دده فاسده شوه اوکفاره هم په واجب شوه، اوکه خلاف عادته یئ ډېره مالګه په یوپلا (وار) سره وخوړه بیا کفاره باندې نشته او روژه یې فاسده شوه.

وإن أكل الملح إن كان قليلا وجبت الكفارة وإن كان كثيرا فلا كفارة.:ج۲ص ۳٤ الجوهرة النيرة.

أو أكل ملحا كثيرا دفعة :مراقي الفلاح سقوله (دفعة) أما إذا أكله بدفعات فبأول دفعة قليلة يجب القضاء والكفارة.:٦٧١ طحطاوي.

وفي الملح لا تجب الكفارة إلا إذا اعتاد أكله وحده كذا في التبيين ولو أكل الملح تجب الكفارة هو المختار كذا في الخلاصة قال الصدر الشهيد هو الصحيح كذا في شرح النقاية للشيخ أبي المكارم. :ج١ص٢٠٥ الفتاوى الهندية.

دلږ مالګي او د ډېري مالګي دفرق وجه يې سره څه ده

(پوښتنه) دلږ مالګي او د ډېري مالګي دفرق وجه يې سره څه ده؟

:جواب:: اوله وجه داده: لږ مالګه بدن ته فائده رسوي او ډېره مالګه بدن ته ضرر رسوي.

ذاق في رمضان من الملح قليلا كفر و لو كثيرا لا لأن قليله نافع و كثيره مضر.:ص٣٦١ الأشباه والنظائر.

: دوهمه وجه: په لږ مالګه سره سړی خوند اخلي عادتاً اوډېره مالګه طبيعت نه خوښوي.

أو أكل ملحا كثيرا دفعة واحدة فإن ذلك مما لا يقبله الطبع ولا تنقضي به شهوة البطن. أما أكل القليل منه فإن فيه الكفارة مع القضاء لأنه يتلذذ به عادة.:ج١ص٥٦٥ ص٩٠٥ الفقه على المذاهب الأربعة.

كه روژتي ګچ وخوړ، اويايې شګه تيره كړه

(مسئله) كه روژتي په دوران دفرضي روژې كي په قصداً دځمكې عادي خاوره وخوړه، اويايې ګچ وخوړ، اويايې شګه تيره كړه، اويايې وسپنه وخوړه، نوپه ده باندې صرف ديوې ورځې دروژې قضاء باندې واجب ده.

وإذا أكل الصائم الطين أو الجص أو الحصاة متعمدا فعليه القضاء ولا كفارة عليه وقد بينا هذا ومراده طين الأرض فأما إذا أكل الطين الارمني تلزمه الكفارة رواه بن رستم عن محمد رحمهما الله تعالى لأن هذا مما يتداوى به فإنه والغاريقون سواء.

قال: ابن رستم قلت لمحمد فإن أكل من هذا الطين الذي يقلى ويؤكل قال لا أدري ما هذا والصحيح أنه تلزمه الكفارة لأنه يؤكل تفكها ويؤكل على سبيل التداوي فقد ينفع المرطوب.:ج

۳ص۱۸۱ المبسوط للسرخسي.

كه چا په فرضي روژه كې خاوره وخوړه

(مسئله) سوال: كه چا په فرضي روژه كې خاوره وخوړه ددي نفر روژه څه حكم لري؟

:جواب: دا مسئله درې صورته لري:

اول صورت: كه روژتي داسي خاوره وخوړه چه په هغه خاوره باندې سره سر پر يمنځل كيږي نو روژه دده فاسده شوه صرف ديوې ورځې دروژې قضاء باندې لازم ده او كفاره باندې نشته.

دوهم صورت: اوكه روژتي دخاوري له خوراك سره عادت درلود اوده په حالت دروژې كي خاوره وخوړه مطلقاً هره خاوره چي وي نو روژه فاسده شوه قضاء اوكفاره دواړه باندې واجب دي.

ولو أكل الطين الذي يغسل به الرأس فسد صومه وإن كان يعتاد أكل هذا الطين فعليه القضاء والكفارة.:ج۱ص۲۰۲ الفتاوى الهندية:ص٦٦٦ طحطاوي.

دريم صورت: اوكه چېرې روژتي ارمنى خاوره(چې ميټ هم ورته ويلي كيږي) وخوړه بيا مطلقاً كفاره اوقضاء دروژې باندې لازم ده.

(پوښته) دارمني خاوري او د دا نورو عادي خاورو په خوراك كي بيا څه فرق ده؟

:**اول جواب**: ارمني خاوره د دواء لپاره خوړل كيږي، خو په اصل كي دا دوا نده انسان ډنګره وي او بلأخره يې له ډيره رنځونو سره مخ كوي.

:**دوهم جواب**: دارمني خاوري په خوړلو ځكه كفاره پري لازميږي چې دا كامل خوراك دى، او دعادي خاوري خوړل بيا ناقص خوراك دى.

:پاملرنه: يو روايت د امام محمد رحمه الله څخه داهم راغلي ده چې په مطلق خاوره خوړلو سره كفاره په روژتي لازم ده.

الصائم إذا أكل طينا إذا كان طينا غير الأرمنى يلزمه القضاء ولاكفارة عليه لأنه إفطار ناقص وإن أكل طينا أرمنيا فعليه القضاء والكفارة لأنه إفطار كامل ولأنه يؤكل للدواء.:ج۲ص۳۹۲ التجنيس والمذيد.

الطين الأرمني :نوع من الطين معروف في العراق ، يداوي به الجلد.:ج۲ص۳۹۲ حامش التجنيس والمذيد.

وإذا أكل الصائم الطين أو الجص أو الحصاة متعمدا فعليه القضاء ولا كفارة عليه وقد بينا هذا ومراده طين الأرض فأما إذا أكل الطين الارمني تلزمه الكفارة رواه بن رستم عن محمد رحمهما الله تعالى لأن هذا مما يتداوى به فإنه والغاريقون سواء.

قال: ابن رستم قلت لمحمد فإن أكل من هذا الطين الذي يقلى ويؤكل قال لا أدري ما هذا والصحيح أنه تلزمه الكفارة لأنه يؤكل تفكها ويؤكل على سبيل التداوي فقد ينفع المرطوب.:ج ۳ص ۱۸۱ المبسوط للسرخسي.

ولو أكل الطين الذي يؤكل تفكها فعن محمد لا كفارة فيه إلا أن مشايخنا قالوا بوجوبها استحسانا وعنه أنه كفر في الطين مطلقا.:ج۱ص۳۵۷ مجمع الأنهر.

:مسئله: افطر فى الرمضان مرة بعد اخرى بتراب اومدر لاجل المعصية فعليه الكفارة زجرا له.:ص۱۰۶ قنية.

د خاوري خورا ک شرعاً څه حکم لري

(مسئله) سوال: دخاوري خوړل شرعاً څه حکم لري؟

:جواب: خاوره ياخټه خوړل شرعاًمکروه عمل ده، اوپه فقه مالکي کي بيا دخاوري او دخټي خوړل حرام عمل ده.

وأكل الطين مكروه، وفي فتاوي أبي الليث ذكر شمس الأئمة إذا كان يخاف على نفسه من أكل الطين بأن كان يورث علة لا يباح له أكل الطين.:ج۸ص۲۱۰ البحر الرائق.

مذهب المالكية في المباح والمحرم : المحرم : ويحرم تناول النجس من جامد أو مائع ، والخنزير البري ، والبغل والفرس والحمار ، ولو كان حمارا وحشياً تأنس . والأرجح تحريم أكل الطين والتراب والعظام والخبز المحروق بالنار ، منعاً لأذى البدن.:ج٤ص١٤٩ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

په روژه کي پاڼې خوړل

(مسئله) سوال: په حالت دروژې کي که روژتي شپيشتي يانور بلګونه د درختو وخوري نو روژه د ده څه حکم لري؟

:جواب: که دروژې په حالت کي روژتي عمداً شپيشتي(شوتله) يا دنورو هغه ددرختو بلګونه اوپاڼې وخوري چې عادتاً خوړل کيږي نوپدغه روژتي قضاء اوکفاره دواړه باندې واجب دي.

مسئله که روژتي د انګورو دتاک پاڼې په هغه حالت کي وخوري چه دا پاڼې غټې شوي وي بیاکفاره باندې نشته صرف قضاء به راوړي ځکه دا عادتاً نه خورل کیږي، اوکه دانګورو دتاک پاڼې په ابتداء دشروع کي وخوري چي داپاڼې کوچني وي بیا کفاره او قضاء دواړه باندې واجب دي.

وإن أكل ورق الشجر فإن كان مما يؤكل كورق الكرم فعليه القضاء والكفارة وإن كان مما لا يؤكل كورق الكرم إذا عظم فعليه القضاء دون الكفارة.:ج۲ص۲۹۷ البحر الرائق.:ص۲۵۵ بدائع الصنائع.

الصائم اذا أكل ورق الشجر فإن أكل مما يؤكل كورق الكرم الذي يقال له بالفارسية !رامد كند تاك! في الابتداء عليه القضاء والكفارة .:ج۲ص۳۸۹ التجنيس والمذيد.

وان أكل مالايوكل عادةً كورق الكرم اذا كبر فعليه القضاء دون الكفارة لأنه لايوكل عادةً لأنه صار غليظاً. :ج۲ص۳۹۰ التجنيس والمذيد.

که روژتي پترول وڅښي

مسئله که روژتي په فرضي روژه کی پترول یاډیزل وڅښي نو روژه فاسده شوه، خوصرف دیوې ورځې دروژې قضاء به راوړي، اوکفاره باندې نشته ځکه په څښلو دپترولو کي جنایت ناقص ده غذا نده اوکفاره جنایت کامل غواړي.

وكذا شرب ما لا يشرب من السوائل كالبترول فالقضاء دون كفارة لقصور الجناية بسبب الاستقذار والعيافة ومنافاة الطبع ، فانعدم معنى الفطر ، وهو بإيصال ما فيه نفع البدن إلى الجوف ، سواء أكان مما يتغذى به أم يتداوى به. ولأن هذه المذكورات ليست غذائية ، ولا في معنى الغذاء.:ج۲۸ص۳۲ الموسوعة الفقهية الكويتية.: فتاوي اصلية.

که په روژه کي چاوچه غوښه وخوره

مسئله سوال: که چاوچه غوښه په روژه کي وخوره دا څه حکم لري؟

:جواب: دا مسئله دوه صورته لري:

اول صورت: که روژتي په فرضي روژه کي خامه وچه غوښه عمداً وخوره یایې خامه وازګه وخوره، روژه ماته شوه قضاء اوکفاره دواړه باندې واجب دي.

إذا أكل لحما غير مطبوخ أو شحما غير مطبوخ على المختار.:ج۱ص۲۰۵ هندية.

وإن أكل لحم الميتة إن كان قد صار فيه الدود وأنتن فلا كفارة وإن لم يدود ولم ينتن ففيه الكفارة

لأنه إنما حرمت وكرهت لأجل الشرع لا لأجل الطبع فصارت كأكل الطعام المغصوب والمثرود بمرقة نجسة.:ج٢ص ٣٤ الجوهرة النيرة.

دوهم صورت: اوكه روژتي خامه چنچنه خوساشوي غوښه وخوره، نو روژه ماته شوه قضاء باندې واجب ده اوكفاره باندې نشته ځكه طبيعت يې نه خوښوي، اوكه چنجنه خوساشوي نه وه بيا قضاء اوكفاره دواړه باندې واجب دي، چنجنه خوسا شوي غوښه خوړل خو شرعاً مكروه ده نه طبعاً نوګويا غصب شوي شى روژتي وخواړي، اويا په پليتي سره ككړه غوښه وخوري.

وإن أكل لحم الميتة إن كان قد صار فيه الدود وأنتن فلا كفارة وإن لم يدود ولم ينتن ففيه الكفارة لأنه إنما حرمت وكرهت لأجل الشرع لا لأجل الطبع فصارت كأكل الطعام المغصوب والمثرود بمرقة نجسة.:ج٢ص ٣٤ الجوهرة النيرة.

دسزا په طور په شاګردانو باندې روژه نيول

(مسئله) سوال: كه استاذ يادمدرسي والاپه طالبانودسزا په ډول روژه نيوله دا روژه څه حكم لري؟

:جواب: د سزا په طوركه استاذ يا دمدرسي والاؤ په شاګردانو باندې روژه نيوله دا جواز لري، او شاګردانوته ددې روژې په نيولوثواب هم ملاويږي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چې كله ماشومان د او :٧:كالوشي نودوي په لمانځه كولوسره امركړئ، اوچې دلسوكالوشي بياكه دوي لمنځونه نه كول وهل پري وركړئ.

داسې وهل نه چې يواندام يې ورمات كړل شي، بلكې كمزوري وهل وركړې دا ځكه چې دلمانځه سره عادي وګرځول شي، اګركه شرعاً دوي مخاطب نه دي، بياهم دلمانځه په كولو ثوابونه وركول كيږي.

:پوښتنه: په روژه سره به هلک په څوكلنى كې باندې امركيږي؟

:جواب: دروژې اودلمانځه دسن يوحكم ده، خو داخبره هم په پام كې لره چې هلک به هله روژې نيسي چې دده عمر اوصحت دا اجازت وركوي چې په آساني سره روژه نيولى شي.

:پاملرنه: هلک دي د شراب خوري او د بل حرامي توب څخه هم مشران را وګرځوي ځکه چې د خير د کارونو سره الفت پيدا ء کړي او شر پريږدي.

(وإن وجب ضرب ابن عشر عليها بيد لا بخشبة) لحديث مروا أولادكم بالصلاة وهم أبناء تسع واضربوهم عليها وهم أبناء تسع واضربوهم عليها وهم أبناء عشر قلت والصوم كالصلاة على الصحيح كما في صوم القهستاني معزيا للزاهدي وفي حظر الاختيار أنه يؤمر بالصوم والصلاة وينهى عن شرب الخمر ليألف الخير ويترك الشر.:ج١ص٣٥٢ الدر المختار المكتبة الشاملة.

:پوښتنه: که هلک په څلور يا پنځه کلنی کي په لمانځه باندې پوهيدي نو به هم په لمانځه کولو امر کيږي که نه؟

:جواب: چې کوچني هلک يا کوچني انجلۍ چپ او ښيي طرف سره وپيږني نو دي په لمانځه کولو سره امر کړل شي.

أخرج أبو داود عن رجل من الصحابة عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه سئل متى يصلي الصبي ؟ فقل: " إذا عرف يمينه من شماله فمروه بالصلاة ".:ج١ص٧١٧ تفسير الدر المنثور.

لنده جامه روژتي په ځان اچولی شي که نه؟

(مسئله) سوال:په کتاب کي مې وامام ابي حنيفة رحمه الله ته منصوب يوه خبره وليده چې دی مبارک وايي مکروه ده روژتي ته دجامولندول اوبياپرځان ياپرسر داجامې راتاوول ايا دا عمل وروژتي ته مکروه ده که نه؟

:جواب:قصداً جامې يا دسمال په اوبو سره چې روژتي شخص دورځې دګرمي له وجې لنده وي اوبياپې پرسريانور بدن اچوي چې په روژه کي ورته يوڅه تخفيف راشي، په مفتٰی به قول روا عمل ده او مکروه نده، ځکه رسول الله صلي الله عليه وسلم دګرمي له شدته په روژه کي په سرمبارک اوبه اچولي دي، او حضرت ابن عمر رضي الله عنه به جامه لنده وله او په ځان به يې را تاووله په حالت دروژې کي له ګرمي څخه.

:پاملرنه: امام ابي حنيفة رحمه الله چې لنده جامه پرسره اچول مکروه بللي ده دا ددي لپاره چې په عبادت کي وايې خلک سست اموخته نشي.

(ولا يكره له المضمضة و لا الاستنشاق وقد فعلهما لغير وضوء و لا الاغتسال و لا (التلفف بثوب مبتل) قصد ذلك (للتبرد) ودفع الحر (على المفتى به) وهو قول أبي يوسف لأن النبي صلى الله

عليه وسلم " صب على رأسه الماء وهو صائم " من العطش أو من الحر رواه أبو داود وكان ابن عمر رضي الله عنهما يبل الثوب ويلقه عليه وهو صائم ولأن بهذه عونا على العبادة ودفعا للضجر الطبيعي وكرهها أبو حنيفة لما فيه من إظهار الضجر في إقامة العبادة.:ص٦٨٢ امدادالفتاح.:ص٥٠الفتاوي الغياثية.:ج٣ص٣٩٨ الفتاوي التاتارخانية.

ما لا يفسد الصوم: الاغتسال أو السباحة، أو التلفف بثوب مبتل، للتبرد لدفع الحر، وإدخال عود إلى الأذن.:ج٣ص٨٧ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ. ما لا يفسد الصوم عند الحنفية.

(ويكره عند الإمام الاستنشاق للتبرد) وصب الماء على رأسه.(وكذا الاغتسال والتلفف بثوب) مبلول لما فيه من إظهار التضجر في إقامة العبادة. (ولا يكره ذلك عند أبي يوسف) لورود الأثر وهذه الأشياء عون على العبادة ودفع للتضجر الطبيعي وبه يفتى.:ج١ص٢٤٨ مجمع الأنهر.

كه روژتې ښځې پخپل فرج کښې دواء واچوله

(مسئله) سوال: كه كومي روژتۍ ښځې په حالت كي دروژې پخپل فرج کښې دواء واچوله ايا روژه يئ ماتيږي كه نه؟

:جواب: كه روژتي ښځې په دوران كي دروژې په مخيني فرج(قبل) اوداخل دننه حصه كي يې دوا واچوله روژه ددې بي بي فاسده شوه، او دا قول مفتٰى به هم دی، البته قضاء دروژې به راوړي اوكفاره باندې نشته، دفرج په بهرنی حصه باندې دوا لګول جوازلري او روژه هم نه فاسده وي.

(مسئله) كه په قبل يادبر كي ښځه ګوته وردننه كړي نو كه دا ګوته لنده وه، نوبس صرف دګوتي په دخول سره روژه فاسده شوه، اوكه ګوته وچه وله نوپه اول وردننوتلو دګوتي روژه نه ماتيږي، اوكه وچه ګوته ياري وردننه باسي بياچې يې راويستله نولنده شوه اوبيايه پسي وردننه استله نوپدا دوهم واري وردننوتلوسره يې روژه فاسده شوه.

(مسئله) كه ښځې دپاكي دپاره دروژې په حالت كي دغسل يا داستنجاء كولو په وخت كي ګوته په فرج كي ورداخل كړه نو روژه يه ماته شوه.

وتكلم المشايخ في الإقطار في قبل النساء، منهم من قال: هو على هذا الخلاف، ومنهم من قال: يفسد الصوم بلا خلاف كالحقنة، وهو الصحيح.:ج٢ص٦٤١ المحيط البرهاني الفصل الرابع فيما

يفسد الصوم وما لا يفسد صومه.

وفي الإقطار في أقبال النساء يفسد بلا خلاف وهو الصحيح هكذا في الظهيرية:ج١ص٢٠٤ الفتاوى الهندية.

لو أدخلت الصائمة أصبعها في فرجها أو دبرها لا يفسد على المختار إلا أن تكون مبلولة بماء أو دهن.:ج١ص٣٣٠ تبين الحقائق مايفسد الصوم...فلو أدخلت المرأة إصبعها في فرجها ولو للتنظيف أفطرت.:١٢٨ فقه العبادات في الفقه الحنفي.

دعلاج په طور په رحم كي دوايي ايښول

(مسئله)سوال:دعلاج په طورپه رحم كي دوايي ايښول جوازلري كه نه؟

:جواب: دروژې په حالت كي دعلاج په طور دمثانى په طرف سوروي (دنر يادښځي)كې دتشخيص لپاره آله ورننباسي، روژه يې فاسده شوه، دقديم فقهاء كرامو په نزد.

اويابنځه په رحم كي دوايي كيږدي، روژه يې فاسده شوه، دقديم فقهاء كرامو په نزد.

او دبعضوحضراتوپه نزد بياروژه نده فاسده خواه داشيان لانده وي اوكه وچ وي، خواه سرېې دباندي وي يانه، ځكه چې معده، او وكلموته وايې له دي لاري څخه منفذ نشته.

بهرحال په عام حالت كې دي روژتي د داسي عمل څخه اجتناب كوي.

وتكلم المشايخ في الإقطار في قبل النساء، منهم من قال: هو على هذا الخلاف، ومنهم من قال: يفسد الصوم بلا خلاف كالحقنة، وهو الصحيح.:ج٢ص٦٤١ المحيط البرهاني.

والإقطار في أقبال النساء قالوا أيضا هو على هذا الخلاف وقال بعضهم يفسد بلا خلاف لأنه شبيه بالحقنة قال في المبسوط وهو الأصح.:ج٢ص٣٤٤ فتح القدير.

والإفطار في أقبال النساء قالوا أيضا على هذا الاختلاف لكن الأصح يفسد بلا خلاف كما في أكثر المعتبرات ،ولو وضعت قطنة فانتهت إلى الفرج الداخل وهو الرحم فسد.:ج١ص٣٦١مجمع الأنهر. :ج١ص٢٠٤ الفتاوى الهندية.:ج١ص٢٥٣ خلاصة الفتاوي.:ص٢٩٦ ماه رمضان لمفتي محمدرضوان.

که روژتی ښځې په فرج کي پنبه کيښوله

(مسئله) که روژتی ښځې په قبل(فرج) کي پنبه کيښوله او داپنبه و داخل دفرج ته ورسدله روژه ددي فاسده شوله ځکه دخول وفرج ته مکمل وشو.

إذا رمت المرأة القطنة في قبلها إن انتهت إلى الفرج الداخل، وهو رحمها انتقض صومها؛ لأنه تم الدخول.:ج۲ص۶۴۳ المحيط البرهاني.

که په مقيم نفر کفاره واجب شي اوبيا دی مسافرشو

(مسئله)سوال:که په يومقيم نفرکفاره دروژې واجب شي اوبيادی په همدغي ورځې کي پسي مسافرشو نو کفاره تري ساقطيږي که نه؟

:جواب:که يومقيم نفر دفرضي روژې نيت کړي وي، اوبيا په يو ډول کفاره باندې واجب شي، اوبياهم پدغه ورځ کښې پسي مسافرهم شي ولوکه داسفر يوچاپه زور سره په وکړی پدغه ورځ کښې، نوکفاره دروژې نه تري ساقطيږي، اوکه چېرې پدي سړي چې داکفاره کله واجب شوه، دکفارې په ورځ مريض شو نوکفاره تري ساقطه شوه.

(پوښتنه) دسفرپه صورت کي ولي کفاره نه تري ساقطيږي اودمرض په صورت کښې کفاره تري ساقطيږي؟

:**اول جواب**: سفرچې ده دا دبندګانو له طرفه واقع شو دالله جل جلاله له جانبه نده واقع شوي ځکه کفاره نه تري ساقطيږي.

:**دوهم جواب**: دمرض په صورت کي ځکه کفاره تري ساقطيږي چې مرض تغير دطبيعت دانسان په باطني بدن کښې مخکې راوستي وه خو وروسته دا مزاج پيښ شو، نوځکه کفاره تري ساقطه شوه.

ولو أفطر وهو مقيم بعد النية فوجبت عليه الكفارة ثم في يومه سافر لم تسقط عنه ولو مرض فيه سقطت لأن المرض معنى يوجب تغير الطبيعة إلى الفساد يحدث أولا في الباطن ثم يظهر أثره فلما مرض في ذلك اليوم ظهر أنه كان المرخص موجودا وقت الفطر فمنع انعقاده موجبا للكفارة. :ج۲ص۳٤۷ فتح القدير.

إذا سافر ثم أفطر أما إذا سافر مختارا أو مكرها بعد لزومها عليه فلا تسقط لأن ذلك من صنع

العباد.: ج١ص١٣٢ فقه العبادات الحنفي متى يسقط وجوب الكفارة.

ولو أكل في أول النهار متعمدا ثمّ أكرهه السّلْطان على السفر لا تسقط عنه الكفَّارة في ظاهر الرواية ولو سافر باختياره لا تسقط عنه بِاتِّفَاقِ الرِّوَايَاتِ.: ١ص١٠٤ قاضي خان.: ج٣ص٨٢ مبسوط.

كه چېرې پخپل لاس سره ځان زخمي کړي

(مسئله) كه چېرې روژتي پخپل لاس سره ځان زخمي کړي او بيا په هم دغه ورځ وروسته پسي مريض شي چې د روژې نيولو طاقت وه نلري پدي مسئله کي اختلاف ده: خو صحيح قول دا ده چې کفاره باندې لازم ده، ځکه دا مرض خو دده له زخمه پيښ شو.

ولو جرح نفسه حتى صار بحال لا يقدر على الصوم قيل لا تسقط الكفارة وهو الصحيح كذا في الظهيرية.: ج١ ص٢٠٦ هندية.

إذا جرح نفسه بعد إفطاره عمدا فإنها لا تسقط على الصحيح كما لو سافر بعد إفطاره عمدا كذا في الظهيرية.: البحر الرائق كتاب الصوم.

ولو جرح نفسه فمرض مرضا شديدا مرخصا للإفطار أو مبيحا؟ اختلف المشايخ فيه قال بعضهم: يسقط. وقال بعضهم: لا يسقط. وهو الصحيح لأن المرض هنا حدث من الجرح وإنها وجدت مقصورة على الحال فكان المرض مقصورا على حال حدوثه فلا يؤثر في الزمان الماضي والله أعلم.:بدائع الصنائع فصل حكم فساد الصوم.

كه مقيم سړي روژه نيولي وه بيا دورځې مسافرشو

(مسئله)سوال:كه مقيم سړي روژه نيولي وه بيادورځې مسافر شو وروسته يې روژه ماته کړه نوپدي سړي د روژې قضاء لازم ده او که کفاره هم پرې واجب ده؟

:جواب:كه مقيم سړی د روژې دنيولو نيت وکړي نو دسفر دشروع کولو څخه مخکې په کورکي خوراک او څښاک ورته کول جواز نلري.

كه چېرې روژتي مقيم پداسي شرعي سفر روان شو چې قصر دلمانځه ورته جواز لري، نوهم دده پرذمه ددغي ورځې روژه نيول واجب ده، اوماتول يې ورته جواز نلري حرام عمل ده دا قول دامام مالک والشافعي وأبو حنيفة رحمة الله عليهم ده، اوهمدا قول دامام الزهري والأوزاعي ومکحول ده.

کوم نفرچې د سپیده داغ پوري مقیم وي یعني چې دخپلي اقامت ګاه په حدودو کې وي، خواه دکورڅخه وتلی وي، یا دسفر کولو اراده لري، نوپدي نفر ددي ورځې روژه نیول ضروري ده اوله صباء ورځې دسفرڅخه بیاورته جوازسته که روژه نیسي اوکه یې نه نیسي، دسفر دشروع په ورځ ده ته دروژې خوړل جوازنلري ځکه پدغه ورځ دغه سفر دهمدغي ورځې دروژې دماتولولپاره شرعي عذرنه بلل کیږي، او روژه ده نیولي وه پداسي حال کي چې دی مقیم وو، خوبیاهم که چیرې مقیم دښارله حدودوڅخه ووځي، اودسفر(دمشقت)له وجې دغه روژه ماته کړي قضاء دیوې روژې باندې لازم ده اوکفاره باندې نشته، ځکه دسفر دشبهي له وجې کامل جرم پاته نه شو.

دامام مالک: رحمه الله څخه دوه روایته راغلي دي په یوه روایت وایي پداسي خلکو قضاء اوکفاره دواړه باندې شته، او په بل روایت کي وایي چې صرف دیوې روژې قضاء باندې لازم ده.

:اعتراض: احناف کفاره ولي پري واجب نه بولي؟

:جواب: نفس سفر دمشقت سبب دی، پدي وجه نفس سفر عذر مقرر کړی شو، نو مطلقاً دمسافر دپاره افطار کول جائز دي،که ده ته په روژه نیولو کي تکلیف وي اوکه نه وي.

لایجوز له الأفطار في یوم خروجه فاذا خرج من بیته مریدا مدة السفر فله أن لا یصوم من الغدان شاء. :ج۳ص۳٤۸ فیض الباري علي صحیح البخاري.

ویتصل بهذه المسائل في إفطار المسافر : ما لو نوى في سفره الصوم لیلا ، وأصبح صائما ، من غیر أن ینقض عزیمته قبل الفجر ، لا یحل فطره في ذلك الیوم عند الحنفیة والمالكیة ، وهو وجه محتمل عند الشافعیة ، ولو أفطر لا كفارة علیه للشبهة.قال ابن عابدین: وكذا لا كفارة علیه بالأولى، لو نوى نهارا.:ج۲۸ص۵۰ الموسوعة الفقهیة الكویتیة.

ولو أصبح صائما في سفره ثم أفطر متعمدا فلا كفارة علیه لأن السبب المبیح من حیث الصورة قائم وهو السفر فأورث شبهة وهذه الكفارة لا تجب مع الشبهة والأصل فیه أن الشبهة إذا استندت إلى صورة دلیل فإن لم یكن دلیلا في الحقیقة بل من حیث الظاهر اعتبرت في منع وجوب الكفارة وإلا فلا.

وقد وجدت ههنا ، وهي صورة السفر لأنه مرخص أو مبيح في الجملة.:ج٢ص١٠٠ بدائع الصنائع.

قَالَ الْمَرْغِينَانِيُّ لَوْ أَنْشَأَ السَّفَرَ بَعْدَ الصُّبْحِ لَمْ يُفْطِرْ بِخِلَافِ لَوْ مَرِضَ بَعْدَهُ صَائِمًا فَإِنَّهُ يُفْطِرُ (لَكِنْ لَوْ أَفْطَرَ) الْمُسَافِرُ الَّذِي أَقَامَ وَالْمُقِيمُ الَّذِي سَافَرَ (فَلَا كَفَّارَةَ) عَلَيْهِمَا (فِيهِمَا) لِقِيَامِ شُبْهَةِ الْمُبِيحِ وَهُوَ السَّفَرُ فِي أَوَّلِهِ أَوْ آخِرِهِ .:ج١ص٢٥٢ مجمع الأنهر.

وفي وقت جواز الفطر للمسافر ثلاث أحوال: الأولى:

أن يبدأ السفر قبل الفجر ، أو يطلع الفجر وهو مسافر ، وينوي الفطر ، فيجوز له الفطر إجماعا – كما قال ابن جزي – لأنه متصف بالسفر ، عند وجود سبب الوجوب.

الثانية : أن يبدأ السفر بعد الفجر ، بأن يطلع الفجر وهو مقيم ببلده ، ثم يسافر بعد طلوع الفجر ، أو خلال النهار ، فإنه لا يحل له الفطر بإنشاء السفر بعدما أصبح صائما ، ويجب عليه إتمام ذلك اليوم ، وهذا مذهب الحنفية والمالكية ، وهو الصحيح من مذهب الشافعية ، ورواية عن أحمد . وذلك تغليبا لحكم الحضر.

ومع ذلك لا كفارة عليه في إفطاره عند الحنفية ، وفي المشهور من مذهب المالكية خلافا لابن كنانة ، وذلك للشبهة في آخر الوقت. ولأنه لما سافر بعد الفجر صار من أهل الفطر ، فسقطت عنه الكفارة .

والصحيح عند الشافعية أنه يحرم عليه الفطر حتى لو أفطر بالجماع لزمته الكفارة . والمذهب عند الحنابلة وهو أصح الروايتين عن أحمد ، وهو ما ذهب إليه المزني وغيره من الشافعية : أن من نوى الصوم في الحضر ، ثم سافر في أثناء اليوم ، طوعا أو كرها ، فله الفطر بعد خروجه ومفارقته بيوت قريته العامرة ، وخروجه من بين بنيانها ، واستدلوا بما يلي:

الثالثة : أن يفطر قبل مغادرة بلده . وقد منع من ذلك الجمهور ، وقالوا : إن رخصة السفر لا تتحقق بدونه ، كما لا تبقى بدونه ، ولما يتحقق السفر بعد ، بل هو مقيم وشاهد ، وقد قال تعالى : { فمن شهد منكم الشهر فليصمه } ولا يوصف بكونه مسافرا حتى يخرج من البلد ، ومهما كان في البلد فله أحكام الحاضرين ، ولذلك لا يقصر الصلاة.

والجمهور الذين قالوا بعدم جواز الإفطار في هذه الصورة ، اختلفوا فيما إذا أكل ، هل عليه كفارة ؟ فقال مالك: لا . وقال أشهب: هو متأول ، وقال غيرهما : يكفر.

وقال ابن جزي : فإن أفطر قبل الخروج ، ففي وجوب الكفارة عليه ثلاثة أقوال . يفرق في الثالث

بين أن يسافر فتسقط ، أو لا ، فتجب.:ج٢٨ص٤٨ الموسوعة الفقهية الكويتية.

حتى بلغ كراع الغميم بضم الكاف والغميم بفتح الغين المعجمة اسم واد أمام عسفان فدعا بقدح من ماء بعد العصر فيه دليل على جواز الفطر للمسافر بعد الشروع في الصوم ومن يقول بخلافه فلا يخلو قوله عن اشكال.:ج٤ص١٧٧ حاشية السندي على النسائي سنن النسائي بشرح الحافظ جلال الدين السيوطي.

ومن أصبح صحيحاً ثم اعتل أفطر بقية يومه ، ولو أصبح في الحضر ثم سافر فله أن يفطر ، وهو قول ابن عمر ، والشعبي ، وأحمد ، وإسحاق ، وقيل : لا يفطر يومه ذلك ، وإن نهض في سفره وهو قول الزهري ، ويحيى الأنصاري ، ومالك ، والأوزاعي ، وابن حنيفة ، والشافعي، وأبي ثور، وأصحاب الرأي.

واختلفوا إن أفطر ، فكل هؤلاء قال : يقضي ولا يكفر . وقال ابن كنانة : يقضي ويكفر ، وحكاه الباجي عن الشافعي ، وقال به ابن العربي واختاره ، وقال أبو عمر بن عبد البر : ليس بشيء ، لأن الله أباح له الفطر في الكتاب والسنة ، ومن أوجب الكفارة فقد أوجب ما لم يوجبه الله .

وظاهر قوله : أَوْ عَلَى سَفَرٍ (إباحة الفطر للمسافر ، ولو كان بيت نية الصوم في السفر فله أن يفطر وإن لم يكن له عذر ، ولا كفارة عليه ، قاله الثوري ، وأبو حنيفة ، والأوزاعي ، والشافعي وسائر فقهاء الكوفة.

وقال مالك: عليه القضاء والكفارة ، وروي عنه أيضاً أنه : لا كفارة عليه ، وهو قول أكثر أصحابه.:ج٢ص٣٩ تفسير البحر المحيط. المؤلف: محمد بن يوسف الشهير بأبي حيان الأندلسي دار النشر: دار الكتب العلمية – لبنان/ بيروت – ١٤٢٢ هـ – ٢٠٠١ م.

واعلم أن إباحة الفطر للمسافر إذا لم ينو الصوم فإذا نواه ليلا وأصبح من غير أن ينقض عزيمته قبل الفجر أصبح صائما فلا يحل فطره في ذلك اليوم لكن لو أفطر فيه لا كفارة عليه لأن السبب المبيح من حيث الصورة وهو السفر قائم فأورث شبهة وبها تندفع الكفارة.:ج٢ص٣٦٥ فتح القدير.:ج٦ ص٢٨٨٣ اعلاء السنن.

يباح الفطر للمسافر بشرط أن يكون السفر مسافة تبيح قصر الصلاة على ما تقدم تفصيله وبشرط أن يشرع فيه قبل طلوع الفجر بحيث يصل إلى المكان الذي يبدأ فيه قصر الصلاة قبل طلوع الفجر فإن كان السفر لا يبيح قصرها لم يجز له الفطر وهذان الشرطان متفق عليهما عند ثلاثة . وخالف الحنابلة في الشرط الأول فانظر مذهبهم تحت الخط (الحنابلة قالوا : إذا سافر الصائم من بلده في أثناء النهار

ولو بعد الزوال سفرا مباحا يبيح القصر جاز له الإفطار ولكن الأولى له أن يتم صوم ذلك اليوم) وزاد الشافعية شرطا ثالثا فانظره تحت الخط (الشافعية : زادوا شرطا ثالثا لجواز الفطر في السفر وهو أن لا يكون الشخص مديما للسفر فإن كان مديما له حرم عليه الفطر إلا إذا لحقه بالصوم مشقة كالمشقة التي تبيح التيمم فيفطر وجوبا) فإذا شرع في السفر بعد طلوع الفجر حرم عليه الفطر فلو أفطر فعليه القضاء دون الكفارة عند ثلاثة وخالف الشافعية فانظر مذهبهم تحت الخط (الشافعية قالوا : إذا أفطر الصائم الذي أنشأ السفر بعد طلوع الفجر بما يوجب القضاء والكفارة وجبا عليه وإذا أفطر بما يوجب القضاء فقط وجب عليه القضاء وحرم عليه الفطر على كل حال) ويجوز الفطر للمسافر الذي بيت النية بالصوم ولا إثم عليه وعليه القضاء خلافا للمالكية والحنفية فانظر مذهبيهما تحت الخط (المالكية قالوا : إذا بيت نية الصوم في السفر فأصبح صائما فيه ثم أفطر لزمه القضاء والكفارة سواء أفطر متأولا أو لا

الحنفية قالوا : يحرم الفطر على من بيت نية الصوم في سفره وإذا أفطر فعليه القضاء دون الكفارة) ويندب للمسافر الصوم إن لم يشق عليه لقوله تعالى : { وأن تصوموا خير لكم } فإن الشافعية قالوا : عليه كان الفطر أفضل باتفاق الحنفية والشافعية أما المالكية والحنابلة فانظر مذهبيهما تحت الخط (المالكية قالوا : الأفضل للمسافر الصوم إن لم يحصل له مشقة

الحنابلة قالوا : يسن للمسافر الفطر ويكره له الصوم ولو لم يجد مشقة لقوله صلى الله عليه وسلم : " ليس من البر الصوم في السفر ").:ج٢ص٥٧٤ الفقه على المذاهب الأربعة.

السفر ليس بعذر في اليوم الذي أنشأ السفر فيه حتى إذا أنشأ السفر بعدما أصبح صائما لا يحل له ان يفطر في ذالک اليوم، بخلاف ما إذا مرض بعد ما أصبح صائما.:ج٣ص٤٠٣ الفتاوي التاتارخانية .:ص٥٤ ص٥٠ الفتاوى الغياثية.

المسافر إذا صام في رمضان ثم أكل متعمداً ،لاكفارة عليه.:ص١٥٠ فتاوى النوازل.:ج٣ص٣٣ المغني – ابن قدامة.

الأعذار التي تبيح الإفطار منها السفر الذي يبيح الفطر وهو ليس بعذرفي اليوم الذي أنشأ السفر فيه كذا في الغياثية فلو سافر نهارا لا يباح له الفطر في ذلك اليوم وإن أفطر لا كفارة عليه بخلاف ما لو أفطر ثم سافر كذا في محيط السرخسي.:ج١ص٢٠٧ الفتاوى الهندية.:ص٢٩٩ شرح الياس.

وقد روى الترمذي عن محمد بن كعب قال أتيت أنس بن مالك في رمضان وهو يريد سفرا وقد رحلت له راحلته ولبس ثياب السفر فدعا بطعام فأكل فقلت له سنة فقال سنة ثم ركب قال الترمذي هذا حديث حسن وفيه حجة لمن جوز للمسافر الفطر في يوم سافر في أثنائه وهو إحدى الروايتين عن

الإمام أحمد وقول عمرو بن شرحبيل والشعبي وإسحاق وحكاه عن أنس وهو قول داود وبن المنذر وقال مالك والشافعي وأبو حنيفة لا يفطر وهو قول الزهري والأوزاعي ومكحول.:ج٧ص٣٩ حاشية ابن القيم على سنن أبي داود.

وكل من المسافر والمريض أهل للوجوب في أول الوقت وإن سقط عنهما وجوب الاداء.:ج٢ ص٤٠٩ شامي.

لو أصبح مقيما صائما ثم سافر فأفطر فإنها تسقط ؛ لأن الأصل أنه إذا صار في آخر النهار على صفة لو كان عليها في أول اليوم يباح له الفطر تسقط عنه الكفارة كذا في فتاوى قاضي خان.: البحر الرائق كتاب الصوم.

قَالَ رَحِمَهُ اللَّهُ (وَلَوْ نَوَى الْمُسَافِرُ الْإِفْطَارَ ثُمَّ قَدِمَ وَنَوَى الصَّوْمَ فِي وَقْتِهِ صَحَّ) أَيْ فِي وَقْتِ النِّيَّةِ وَهُوَ قَبْلَ أَنْ يَنْتَصِفَ النَّهَارُ لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يُنَافِي أَهْلِيَّةَ الصَّوْمِ وُجُوبًا وَأَدَاءً وَإِنَّمَا هُوَ مُرَخِّصٌ فَقَطْ فَإِذَا زَالَ الْتَحَقَ بِالْمُقِيمِ لِانْعِدَامِ الْمُرَخِّصِ وَلَا فَرْقَ فِي هَذَا بَيْنَ أَنْ يَكُونَ الصَّوْمُ فَرْضًا أَوْ نَفْلًا وَلِهَذَا قَالَ صَحَّ لِأَنَّهُمَا لَا يَخْتَلِفَانِ فِي الصِّحَّةِ وَإِنَّمَا يَخْتَلِفَانِ فِي اللُّزُومِ حَتَّى يَلْزَمَهُ أَنْ يَنْوِيَ إذَا كَانَ ذَلِكَ فِي رَمَضَانَ لِأَنَّ السَّفَرَ لَا يُنَافِي وُجُوبَ الصَّوْمِ أَلَا تَرَى أَنَّهُ لَوْ نَوَى الصَّوْمَ وَهُوَ مُسَافِرٌ فِي رَمَضَانَ لَا يَجُوزُ لَهُ أَنْ يُفْطِرَ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ فَهَذَا أَوْلَى غَيْرَ أَنَّهُ لَا تَجِبُ عَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ فِي الْمَسْأَلَتَيْنِ لِوُجُودِ الشُّبْهَةِ وَهُوَ السَّفَرُ فِي أَوَّلِهِ أَوْ آخِرِهِ كَمَا يَسْقُطُ الْحَدُّ بِالنِّكَاحِ الْفَاسِدِ لِلشُّبْهَةِ.:ج١ص٣٤٠ تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق.

:پاملرنه: مسافرسړی چې په دوران دسفرکي پشلمی اونیت دروژه نیولو وکړي، مخکې تر دي چې له دانیت څخه دسپیده داغ مخکې بیرته له نیته رجوع وکړي ((اویاپه ورځ کي و روژې ته نیت وکړي)) دي مسافرته هم دروژه خوړلو اجازه (جواز) نشته، خوبیاهم که په سفر روان شو او دمشقت له وجې په ورځ کښې دا فرضي روژه ماته کړي قضاء دیوې روژې باندې لازم ده اوکفاره باندې نشته.

قوله: (كما يجب على مقيم الخ) لما قدمناه أول الفصل أن السفر لا يبيح الفطر، وإنما يبيح عدم الشروع في الصوم، فلو سافر بعد الفجر لا يحل الفطر.

قال في البحر: وكذا لو نوى المسافر الصوم ليلا وأصبح من غير أن ينقض عزيمته قبل الفجر ثم أصبح صائما لا يحل فطره في ذلك اليوم، ولو أفطر لا كفارة عليه اه.

قلت: وكذا لا كفارة عليه بالاولى لو نوى نهارا، فقوله: ليلا غير قيد.:ج٢ص١٣٣ شامي.:ج١

ص۳۱۷ شرح الوقاية.

که یو نفر په سفر باندې مجبور شو

(مسئله)سوال: که چېرې يو څوک په سفر باندې مجبور شو او دغه شخص په کور کې افطار وکړي مخته له وتلو اويا څښاک وکړي مخته له وتلو څخه اوبیاله سفره پاته شو نو د دې سړي روژه څه حکم لري؟

:جواب: دا مسئله دوه صورته لري:

:**اول**: که چېرې يو شخص په سفرباندې مجبورشو او دغه شخص په کورکې افطار اويا څښاک وکړي مخته له وتلو اوبياله سفره پاته شو نوپدې صورت کې پدې سړي دروژې په خوړلو سره کفاره واجب ده.

:**دوهم**: که چېرې يو شخص په قتل ورپيش کړل شي او دا کس فرضي روژه وخوري چې هغه سي قتل کيږم اوبياورته عفوه وشي نوپدغه صورت کې هم په خوړونکي کس کفاره لازمه ده.

ولو افطر بعد اكراهه على السفر قبل ان يخرج ثم عفى عنه اوشرب بعد ما قدم ليقتل ثم عفى عنه ولم يقتل فانه تجب الكفارة.: ج۲ص٤٨٤ بحرالرائق.

که مقیم په کور کې خوراک وکړي بیامسافرشي

(مسئله)سوال: هغه عاقل بالغ نفرچې درمضان دمياشتې په روژه کې دسفر دشروع څخه مخکې اول په کورکې خوراک وکړي بيا سفرشروع کړي؟

:جواب: دا مسئله درې صورته لري:

:**اول صورت**: که چېرې يو مقيم روژتي دشپې څخه دروژې نيولونيت کړي ؤ او روژه يې نيولي وي دسفر دشروع څخه مخکې دورځې په کورکې خوراک اوڅښل وکړي، نوپدې صورت کې قضاء اوکفاره دواړه باندې واجب ده، د سفر کولو اراده داسړی له کفارې څخه نشي خلاصولی.

:**دوهم صورت**: اوکه چېرې دښارله ابادي څخه په سفر داروژتي تيرشوی وو، اوبيايې فرضي روژه وخوړه نوپدې صورت کې کفاره باندې نشته صرف قضاء دروژې باندې واجب ده.

:**دریم صورت**: که چیرې روژتي دشپي څخه دروژې نیولونیت نه وه کړي دصباء ورځې دروژې نیولوپاره، او دورځې دا نفر روژه په کورکي وخوري نوپدي صورت کښې، دامام ابي حنیفة رحمه الله په قول باندې صرف دیوې ورځې دروژې قضاء باندې واجب ده ځکه درمضان دمیاشتې روژې هم بي نیته نه اداء کیږي اودي نفر نیت دروژې نیولو نیت ندی کړي.

او مام زفر رحمه الله فرمائي: چې پدي نفر قضاء اوکفاره دواړه باندې واجب دي ځکه چې درمضان دمیاشتې روژې بی له نیت نیولوهم اداءکیږي دا په نزد دامام زفررحمه الله.

امام محمد اوامام ابي یوسف رحمهم الله فرمائي: که دي مقیم نفر روژه مخکې له زواله وخوړه نوبیا کفاره اوقضاءدواړه باندې واجب دي.

:پاملرنه: پدا دریم صورت کښې قول دامام ابي حنیفة رحمه الله صحیح اوراجح ده، القول الراجح هوقول ابي حنیفة :ج۱ص۲۰۲القول الراجح.

صائم سافر في نهار رمضان ثم أكل لاكفارة عليه ولوافطر ثم سافر فعليه الكفارة.:ص۱۵۰ فتاوى النوازل.

سئلت :عمن سافر بعد طلوع الفجر فأفطر قبل خروجه من بلده فهل عليه القضاء والكفارة

:فالجواب: إن سافر بعد طلوع الفجر لايفطر ذلك اليوم. لأنه لزمه صومه اذ هومقيم فلايبطله باختياره ،فان أفطر قبل الخروج فعليه القضاء والكفارة، بخلاف مالوأفطر بعد الخروج فعليه القضاء دون الكفارة .:ص۱٦ الفتاوى الكاملة.

ولو أكل في أول النهار متعمدا ثم أكرهه السلطان على السفر لا تسقط عنه الكفارة في ظاهر الرواية ولو،سافر باختياره لا تسقط عنه باتفاق الروايات كذا في الخلاصة.:ج۱ص۲۰۷الفتاوى الهندية.

ولو أصبح المسافر صائماً، ثم بدا له أن يفطر، جاز له ذلك ولا إثم عليه عند الشافعية والحنابلة، عملاً بحديث صحيح متفق عليه عن ابن عباس، ولأن النبي صلّى الله عليه وسلم أفطر في أثناء فتح مكة . ويحرم الفطر ويأثم عند الحنفية والمالكية، وعليه القضاء فقط عند الجمهور، والقضاء والكفارة عند المالكية، لأنه أفطر في صوم رمضان، فلزمه ذلك، كما لو كان مقيماً أو حاضراً.

والخلاصة: أن المالكية يبيحون الفطر بسبب السفر بأربعة شروط: أن يكون السفر سفر قصر، وأن

يكون مباحاً، وأن يشرع قبل الفجر إذا كان أول يوم، وأن يبيت الفطر.:ج٣ص٧٣الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

فلو سافر نهارا لا يباح له الفطر في ذلك اليوم وإن أفطر لا كفارة عليه بخلاف ما لو أفطر ثم سافر كذا في محيط السرخسي.:ج١ص٢٠٧ الفتاوى الهندية.:ص٢٩٩ شرح الياس.:ص٤١٠ مظهرالأنوار.

ومن أصبح غير ناو للصوم فأكل لا كفارة عليه عند أبي حنيفة رحمه الله وقال زفر رحمه الله عليه الكفارة لأنه يتأدى بغير النية عنده وقال أبو يوسف ومحمد رحمهما الله إذا أكل قبل الزوال تجب الكفارة لأنه فوت إمكان التحصيل فصار كغاصب الغاصب ولأبي حنيفة رحمه الله أن الكفارة تعلقت بالإفساد وهذا امتناع إذ لا صوم إلا بالنية.:ج١ص٢٠٦ هداية.

إذا جرح نفسه بعد إفطاره عمدا فإنها لا تسقط على الصحيح كما لو سافر بعد إفطاره عمدا كذا في الظهيرية.: البحر الرائق كتاب الصوم.

که مسافر دورځې په دوران کي روژتي وي اوبيا مقيم شي

(مسئله): سوال: که مسافر دورځې په دوران کي روژتي وي اوبيا مقيم شي؟

:جواب: دا مسئله درې صورته لري:

:**اول**: که مقيم شخص دورځې په دوران کي روژتي وي اوبيا مسافرشي نوباقي ورځ دي مسافرته دروژې خوړل حرام عمل ده.

:**دوهم**: که مسافرشخص دورځې په دوران کي روژتي وي اوبيا مقيم شي نوباقي ورځ دي مقيم ته دروژې خوړل حرام عمل ده.

فإذا صام مقيما فسافر في أثناء النهار أو عكسه حرم الفطر.:ص١٠٠ الأشباه والنظائر.

:**دريم**: که يو مقيم شخص دورځې په فرضي روژه کي مسافرشي او روژه يې وي اوبيا له سفره پدغه ورځ کي بيرته را وګرځي په سبب ديو عذر، اودا شخص اوس په کورکي روژه قصداً وخوري، نوپدي شخص قضاء اوکفاره دواړه باندې واجب دي.

سافر في رمضان ثم رجع إلى أهله لحاجة نسيها فأكل عندهم فعليه القضاء والكفارة.:ص١٤٤ الأشباه والنظائر.

که مسافر روژه ونيسي اوبيايې وخوري

(مسئله) که يو مسافرسړي فرضي روژه له شپې په مياشت درمضان کي ونيسي

خوپه صباورځ کې يې قصداًپه دوران دسفرکې وخوري نوپدې روژتې صرف دروژې قضاءلازم ده اوکفاره باندې نشته.

قلت أرأيت رجلا مسافرا أصبح صائما في شهر رمضان ثم أفطر قال عليه القضاء ولا كفارة عليه. :٢ص١٧٨ الأصل المعروف بالمبسوط.

قلت أرأيت رجلا مسافرا أصبح صائما في شهر رمضان ثم أفطر قال عليه القضاء ولا كفارة عليه

محمد قال أخبرنا أبو حنيفة عن مسلم الأعور عن أنس بن مالك عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه خرج من المدينة إلى مكة في شهر رمضان فشكا إليه الناس في بعض الطريق الجهدفأفطر حتى أتى مكة

محمد عن أبي حنيفة عن الهيثم عن أنس بن مالك أن رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج من المدينة إلى مكة في شهر رمضان لليلتين خلتا من شهر رمضان فصام حتى إذا أتى قديدا شكا إليه الناس الجهدفأفطر بقديد ثم لم يزل مفطرا حتى أتى مكة فأي ذلك فعلت فحسن إن صمت فقد صام النبي صلى الله عليه وسلم وإن أفطرت فقد أفطر النبي صلى الله عليه وسلم وإن سافرت في شهر رمضان.: ٢ص١٧٨ الأصل المعروف بالمبسوط.

كه مسافر يوښار ته داخل شي اونيت د اقامت پکښې ونکړي

(مسئله)سوال:كه يومسافر يوښارته ورشي اونيت د اقامت پکښې ونکړي قصر دلمانځه خو ورته جوازلري ايا دروژو خوړل هم ورته جوازلري كه نه؟

:جواب:كه يومسافر ويوښارته دروژې دمياشتې په دوران كې ورداخل شي اودپنځلسوشپو ځخه كم داقامت نيت پکښې وکړي نودې مسافرته دفرضې روژو خوړل جوازنلري، ځکه دروژو خوړل په حالت دسفركې جوازلري، اوپه اقامت اوسكون كې بيامسافرته دروژو خوړل جوازنلري، داخبره مخالفه دلمانځه ځخه ده.

تنبيه المسافر إذا نوى الإقامة في مصر أقل من نصف شهر هل يحل له الفطر في هذه المدة كما يحل له قصر الصلاة سئلت عنه ولم أره صريحا وإنما رأيت في البدائع وغيرها لو أراد المسافر دخول مصره أو مصر آخر ينوي فيه الإقامة يكره له أن يفطر في ذلك اليوم وإن كان مسافرا في أوله لأنه اجتمع المحرم للفطر وهو الإقامة والمبيح أو المرخص وهو السفر في يوم واحد فكان الترجيح للمحرم احتياطا وإن كان أكبر رأيه أنه لا يتفق دخوله المصر حتى تغيب الشمس فلا بأس بفطر فيه اه

فتقييده بنية الإقامة يفهم أنه بدونها يباح له الفطر في يوم دخوله ولو كان أول النهار لعدم المحرم

وهو الإقامة الشرعية وكذا في اليوم الثاني مثلا والحاصل أن مقتضى القواعد الجواز ما لم يوجد نقل صريح بخلافه تأمل. :ج٢ص٤٣٢ شامي مطلب يقدم هنا القياس على الاستحسان.

كه يومسافر دغرمي مخته كوريابنار ته را داخل شي

(مسئله) كه يو مسافر دغرمي څخه مخته كوريابنارته را داخل شي، او څه شى يې خوړلي هم نه وي، او دروژې نيت يئ هم وكړي، بيا په قصداً سره جماع وكړي، نوپدغه مسافرشخص باندې كفاره نشته((اوپه روژتي ښځه كفاره شته)) اوداحكم دليوني هم ده چې دى راپسدكې شي مخكې له زواله نيت دروژې وكړي بياجماع وكړي نوپدي پسد شوي ليوني هم كفاره نشته.

إذا دخل المسافر مصره قبل الزوال ، ولم يتناول شيئا ونوى الصوم ثم جامع متعمدا لا كفارة عليه ، وكذا إذا أفاق المجنون قبل الزوال فنوى الصوم ثم جامع كذا في السراج الوهاج.:ج١ص٢٠٦ الفتاوى الهندية.

:**پاملرنه**: قوله: لا يجب الإمساك على الصبي إذا بلغ في بعض النهار والكافر إذا أسلم ، والمجنون إذا أفاق ، والحائض إذا طهرت ، والمسافر إذا قدم مصره ، لأنه لم يجب عليهم الصوم في أول النهار ، وجه قوله أن الإمساك تشبها يجب خلفا عن الصوم ، والصوم لم يجب فلم يجب الإمساك خلفا ولهذا لو قال : لله علي أن أصوم اليوم الذي يقدم فيه فلان فقدم بعد ما أكل الناذر فيه أنه لا يجب الإمساك كذا ههنا ولنا ما روي عن النبي صلى الله عليه وسلم { أنه قال في يوم عاشوراء : إلا من أكل فلا يأكلن بقية يومه } وصوم عاشوراء كان فرضا يومئذ ، ولأن زمان رمضان وقت شريف فيجب تعظيم هذا الوقت بالقدر الممكن ، فإذا عجز عن تعظيمه بتحقيق الصوم فيه يجب تعظيمه بالتشبه بالصائمين قضاء لحقه بالقدر الممكن إذا كان أهلا للتشبه ونفيا لتعريض نفسه للتهمة ، وفي حق هذا المعنى الوجوب في أول النهار وعدم الوجوب سواء .

وقوله التشبه وجب خلفا عن الصوم ممنوع بل يجب قضاء لحرمة الوقت بقدر الإمكان لا خلفا ، بخلاف مسألة النذر لأن الوقت لا يستحق التعظيم حتى يجب قضاء حقه بإمساك بقية اليوم ، وههنا بخلافه .: بدائع الصنائع.

(مسئله) ولو نوى المسافر والمجنون والمريض قبل الزوال صح عن الفرض، ولو نوى الحائض والنفساء لم يصح أصلا للمنافي أول الوقت وهو لا يتجزى.:درمختار.

(قوله : صح عن الفرض) ؛ لأن الجنون الغير المستوعب بمنزلة المرض لا يمنع الوجوب شرنبلالية وكل من المسافر والمريض أهل للوجوب في أول الوقت وإن سقط عنهما وجوب الأداء بخلاف من بلغ أو أسلم كما قدمناه (قوله : ولو نوى الحائض والنفساء) أي قبل نصف النهار إذا طهرتا فيه (قوله : لم يصح أصلا) أي لا فرضا ولا نفلا شرنبلالية (قوله : للمنافي إلخ) أي فإن كلا من الحيض والنفاس مناف لصحة الصوم مطلقا ؛ لأن فقدهما شرط لصحته والصوم عبادة واحدة لا يتجزأ ، فإذا وجد المنافي في أوله تحقق حكمه في باقيه ، وإنما صح النفل ممن بلغ أو من أسلم على قول بعض المشايخ ؛ لأن الصبا غير مناف أصلا للصوم ، والكفر وإن كان منافيا لكن يمكن رفعه بخلاف الحيض والنفاس هذا ما ظهر لي وعلى قول أكثر المشايخ لا يحتاج إلى الفرق.:شامی.

كه چېرې سفريامرض د وامداره شو

(مسئله) كه چېرې سفريامرض هميش والي پيداكړو ترداسي حالته چې مريض مړشو، اوياسفر دمسافر دوام وكړي ترداسي حالته چې په داسفركې مسافر مړشو نو قضاء دروژې بياباندې نشته.

واذا استدام السفر أوالمرض، حتي مات فلاقضاء عليه.:ج٣ص٤٠٧ الفتاوي التاتارخانية.

مسافر ته روژه نيول افضل ده اوكه روژه خوړل

(مسئله)سوال:مسافرته روژه نيول افضل ده اوكه روژه خوړل ورته افضل عمل ده؟

:جواب:الأئمة الأربعة وجماهيرالصحابة والتابعين والسلف وايي: مسافركه په روژه نيولوكي تكليف نه محسوسوي، نودمسافر دپاره فرضي روژه نيول روا ده اوصحيح منعقده ده، او دمسافر په فرضي روژو نيولوكي دا هم وايي چې دمسافر لپاره روژه نيول افضل عمل ده ځكه:

:**اول**: دمسافر دپاره درمضان دوه وختونه دي يو وخت خوپخپله درمضان مياشت ده (فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْه) دا عموم دلالت كوي، چې مسافر اومقيم دواړه بنيي.

:**دوهم**: دوهم وخت دمسافر دپاره درمضان نه علاوه هم شته، لكه(فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ) ايت كي ذكرده د :مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ: درمضان دمياشتې دروژو خليفه دي، اوخليفه داصل برابرنشي كيدلي، نو درمضان وخت دمسافر

دپاره افضل دی، او دعبادت په افضل وخت کښې اداکول هم افضل وي چې هغه میاشت درمضان ده.

دریم: حالت که سفرکې کوم تکلیف اوپریشانی دمسافردپاره نه وي لکه په موټر یا په ریل ګاډي کې چې مسافر سپور وي او دآرام او دراحت سامان هم ورسره وي نو د د اسي مسافر دپاره روژه نیول افضل(مستحب) عمل ده، کوم اجازت چې رب کریم ورکړي دا رخصت ده، اوعزیمت چې ده دا روژه نیول ده ځکه الله فرمائي: {وَأَن تَصُومُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ } ترجمه:که تاسو روژه ونیسئ نو دابهتر ده دافطار کولو څخه.

خوکه دروژې افطاریې وکړو نودا هم ورته جائزده البته درمضان شریف دمیاشتې چې کوم فضیلت ؤو دهغه څخه محروم شو.

اوله پاملرنه: خوابن عباس وابن عمر وأبي هريرة رضي الله عنهم په يو روايت وايي: چې دمسافر لپاره روژه نیول جواز نلري، که په سفرکي فرضي روژې ونیسی بیابه ددي روژه قضاء راوړي، اوپه بل روایت بیا دا صحابه کرام رضي الله عنهم وایي: چې مسافرلره روژې نیول مکروه عمل ده.

دوهمه پاملرنه: که دمسافر عام (یاخاص) ملګري دروژې خوړونکي نه ول، اونه داملګري په نفقه (مصارفو) کې سره شریکان ول، نو ودي مسافرته روژه نیول افضل عمل ده، اوکه دمسافرعام ملګري دروژې خوړونکي ول اویا دا ملګري په نفقه (مصارفو) کې سره شریکان ول نو ودي مسافرته بیا دروژې افطار(خوړل) افضل عمل ده، چې وملګرو ته بیا دده حصه ورجلاء کول له نفقي څخه، اویانه موافقت له ملګرو سره بیاتکلیف جوړوي.

نو دا ماهرډاكټر به درته ووايې چي داسي ستني هم شته چې هيڅ خوراك كولو ته به دي زړه نه كيږي اونه به هيڅ اوبه څښې مكمل موړ اوسيرابه به گرځې په مياشتو په مياشتو، بس همداپيچكاري به ډاكټر درته لگوي پدي به له غذا څخه بيغمه يې، په بدن كي به غذائة همدا پيچكاري تحليله وي، بس خپل ژوند كوه، نو دا ده اثر اوترشيح دپيچكاري خوپه بدن كې معتبرشوچې روژه په ماتيږي، دپيچكاري دواء دا حقيقتاً ودبدن ته داخليږي، دا اثر دشيانو نده ځكه روژه باندې ماتيږي.:مصنف.

أما لو داوى بداوء رطب ولم يتيقن بالوصول فقال أبو حنيفة: يفطر، وقالا: لا يفطر.اه.:ج۱ص۱۵۸ لباب.

لقول عليه اسلام الفطر ممادخل ولوجود معنى الفطر وهو وصول مافيه اصلاح البدن الى الجوف ولاكفارة فيه لانعدام الصورة ،وقال ابويوسف ومحمد لايفطر فى الدواء الرطب لاحتمال عدم الوصول كاليابس لان الصوم هوالامساك وذلك في الخوارق المعتادة والجراحة ليست بمنفذ معتادا فلايتعلق به الفطر.:ص٤٧حاشية ۱۰ مختصرالقدرى.

فإن داواها بدواء يابس لا يفسد لأنه لم يصل إلى الجوف ولا إلى الدماغ ولو علم أنه وصل يفسد في قول أبي حنيفة وإن داواها بدواء رطب يفسد عند أبي حنيفة وعندهما لا يفسد هما اعتبرا المخارق

الأصلية لأن الوصول إلى الجوف من المخارق الأصلية متيقن به ومن غيرها مشكوك فيه فلا نحكم بالفساد مع الشك

ولأبي حنيفة أن الدواء إذا كان رطبا فالظاهر هو الوصول لوجود المنفذ إلى الجوف فيبني الحكم على الظاهر.:ج۲ص۹۳ بدائع الصنائع.

(اعتراض) دغوږې په ستن (پيچکاري) لګولو بايد روژه فاسده نه شي ځکه داخو په وريد دويني نه ورکول کيږي دا خوپه غوږنه کې ورکول کيږي؟

:جواب:کومه ستن پيچکاري چې په غوږوورکول کيږي داهم دوينو ورګوته رسيږي چې دا دواء دپيچکاري دبښته موي رنګه باريک ساکنو رګونوپه واسيطه وهغه لوي دوينو شريدته بيا ورسيږي بياله دي ځاى څخه دوينوسره يوځاى کيږي چې ايني زړه او ودماغ ته رسيږي.

:**پاملرنه**: لکه دوني (درختي) خاښونو اوبلګونو (پاڼو) ته چې په باريکه رګونوکې په تدريج اوتمويج اوترشيح سره اوبه ورسيږي دبيخ تني له خوا دارنګه دانسان يني زړه او ودماغ ته هم په تدريج او ترشيح سره په وينوکي دا دواء ، اوبه، اوغذا، ورسيږي.:مصنف.

(اعتراض) کومي اوبه دپيچکاري چې دي داخو دوريد ، يادعضلي له لاري بدن ته استعماليږي دا دواء خو نه تنده ختمه وي اونه مړښت راولي نوبايد روژه نسي په فاسده، روژه بايد په هغه پيچکاري سره فاسده شي چې دقوت لپاره په روژه کي استعمال کړل شي؟

:**جواب**: دا اوبه دپيچکاري درګونو څخه ودماغ ته رسيږي نوځکه روژه فاسده وي، ته نه ګوري ! که داسپيشليټ سرجن ډاکټرانو څخه پوښتنه وکړل شي چې انسان په غوږکښې اوبه واچوي دا ودماغ ياستوني ته رسيږي اوکه نه! دوي به درته ووايي چې نه!

ځکه چې دجديدعلم په سپړلو سره دا معلومه اوثابته شويده چې کومي اوبه په غوږوکي واچول شي دا وکڅوړي د دماغ ته نه رسيږي، ځکه چې دغوږ دباندېني حصى څخه وستوني اودماغ ته د اوبو او دواء ورتللو کومه لار اوسوروي ندي

تللی، او دغوږ دباندېني اودرمياني حصي په مابين کي پرده ده چې په عاموحالاتو کي داپرده بنده وي، نوظاهره خبره ده چې په غوږکي کومي اوبه ورننوځي نوددي اوبو اودواء ځای، دباندېني اودرمياني حصي ترمابين پدي محدوده دايره کي وي، نوولي فقهاءکرام رحمهم الله فرمائي که روژتي شخص په غوږکي چکاک، ياروغن، يا اوبه په غوږکي وڅخولي نوروژه يې ماته شوه.

ددي سوال جواب دادی چې د اوبو او د دو ا ئي په مابين کي بنيادي فرق دادی که اوبه دصحت مند انسان په غوږکي په ناڅاپي ډول ورننوځي نو روژه نه په ماتيږي، ليکن دوائي په غوږکي انسان هلته اچوي چي روژتي نفرپه غوږکي کوم تکليف محسوس کوي، نوفقهاء کرام فرمائي که پدي حالت کي دمرض له وجې دغوږ هغه پرده چې دستوني او دغوږ ترمابين واقع ده اويا د دماغ او دبيروني حصي دغوږ ترمابينځ چې واقع ده که داپرده سوروي شوي وي نومعدي يادماغ ته دواء ورسيده نوچې دواء ورسيده روژه ماته شوه، نو ددي احتمال له وجې فقهاء کرامو دروژې دفساد حکم ورکړيده، ځکه چې دوصول احتمال پيداکيږي دغوږ له لاري وستوني يا ودماغ ته، نولهذا چي دروژې دفاسدوالي کنجائش پيداکيږي، نو دپيچکاری اوبه ايني زړه او دماغ ته رسيږی ځکه روژه په ماتيږي.

وإن صب الماء فيها اختلفوا فيه والصحيح هو الفساد لأنه موصل إلى الجوف بفعله فلا يعتبر فيه صلاح البدن كما لو أدخل خشبة وغيبها إلى آخر كلامه وبه تندفع الإشكالات ويظهر أن الأصح في الماء التفصيل الذي اختاره القاضي رحمه الله فعلى هذا فاعتبار ما به الصلاح في تفسير معنى الفطر إما على معنى ما به في نفسه كما أوردناه في السؤال وبه يندفع تعليل المصنف لتعميم عدم الإفساد في دخول الماء الأذن فيصح التفصيل المذكور فيه.:ج۲ص۳٤۳ فتح القدير.

(ومن احتقن أو استعط أو أقطر في أذنه أفطر) لقوله صلى الله عليه وسلم { الفطر مما دخل } ولوجود معنى الفطر ، وهو وصول ما فيه صلاح البدن إلى الجوف (ولا كفارة عليه) لانعدامه صورة .: فتح القدير باب مايوجب القضاء والكفارة.

که روژتي شخص په غيرمعتاده منافذو دواء وکړه

(مسئله) سوال: امام ابي يوسف او امام محمد رحمهم الله وايي که روژتي شخص په

غیراصیله منافذو دواء بدن ته استعمال کړه پداسي دواء سره روژه نه ماتیږي ځکه ددي دواء رسیدل ومعدي یادماغ ته مشکوک دي؟

جواب: دا مسئله پدي ډول راغلي ده:

امام ابي حنیفة رحمه الله فرمائي: که روژتي دواء وکړه داسي دواء چې دا دواء معدي یادماغ ته ورسیده، اویا روژتي په زخم باندې دواء استعمال کړي چې معدي یادماغ ته ورسیږي نو روژه فاسده شوه.

دلیله: امام ابي حنیفة رحمه الله فرمائي چې معدي یادماغ ته هغه څه ورسیدل چې دبدن اصلاح په راځي په حالت دروژې کي اوحال هم دادی چې دا رسیدل ددواء روژتي کوي اوروژه یې هم په یاد ده، نومشابهت له خوراک سره لري، اوهرچې نیزه (یاغشی) ده نوکه دنیزي غاښ یاتیره ځوکه په خیټه کې پاته شي نو روژه یې فاسده شوه نودلته هم چې دپیچکاري اوبه یاسیروم چې دي داخوهم دماغ اوزړه ته رسیږي اوپا اینه اوزړه اودماغ او وینودرګونوکي پاته وي.

امام ابي یوسف اوامام محمد رحمهم الله وایي: چې روژه پداسي دواء چې دا دواء په غیراصیلة منافذو معدي یادماغ ته ورسیده، اویا روژتي په زخم باندې دواء استعمال کړي چې معدي یادماغ ته ورسیږي، نو روژه نه پرې فاسدیږي.

دلیلهم: ځکه چې په غیراصیلة منافذو معدي یادماغ ته څه ندي رسید لي او روژه هلته ماتیږي چې له منافذو اصلیةۀ څخه ورسیږي، نوداسي مثال لري لکه یو روژتي چې په نیزه ووهل شي اودنیزي تیره سر وخیټي ته ورسیږي نو روژه یې نه فاسدیږي.

پاملرنه: خوامام ابي یوسف اوامام محمد رحمهم الله پدي برابرشک لري اویقین نلري چې ددي غیر اصیلةۀ منافذو (ورید اودعضلي) له لاري چې بدن ته څه داخل شي ایا! دامعدي زړه یادماغ ته ورسیده اوکه نه!

امام ابي یوسف اوامام محمد رحمهم الله وایي: که مونږ دا یقین ولرو چې ددي غیر اصیلة منافذو له لاري چې بدن ته څه داخل شي دا ومعدي (نس) اینی زړه یادماغ ته ور رسیږي نودوی هم روژه فاسده بولي اوپه شک سره واي دفساد دروژې حکم نه باندې کوو.

قال أبوحنيفة: الصائم إذا داوى الجائفة والامة بدواء وصل إلى الجوف فسد صومه وقال ابويوسف ومحمد: لايفسد

لهما: أنه لم يصل إلى جوفه شئ من المنفذ الأصلي وهوالمنافي للصوم فصار كما لوطعن برمح ووصل سنانه إلى جوفه

له: أنه وصل إلى جوفه مايصلح بدنه في حال صومه وهوذاكر له فأشبه الأكل وأماالطعن فان انفصل السنان فسدأيضاً. :ج٢ ص٦٤٨ فتاوى ابي ليث السمرقندى.

فإن داواها بدواء يابس لا يفسد لأنه لم يصل إلى الجوف ولا إلى الدماغ ولو علم أنه وصل يفسد في قول أبي حنيفة وإن داواها بدواء رطب يفسد عند أبي حنيفة وعندهما لا يفسد هما اعتبرا المخارق الأصلية لأن الوصول إلى الجوف من المخارق الأصلية متيقن به ومن غيرها مشكوك فيه فلا نحكم بالفساد مع الشك

ولأبي حنيفة أن الدواء إذا كان رطبا فالظاهر هو الوصول لوجود المنفذ إلى الجوف فيبني الحكم على الظاهر.:ج٢ص٩٣ بدائع الصنائع.

:پوښتنه: په زاد الفقه کي ليکلي دي چې په پيچکاري سره روژه نه ماتيږي!

وان وصل الدواء الى سائر عروق البدن بالآلات الجديدة كمافى العصر الجديد لايفطر صومه لعدم المنفذ الخ.:ص٢١١ زاد الفقه.

:جواب: د زاد الفقه په همدغه مخ کې لاندې حاشيه خپله مصنف پخپل قلم ليکلي ده او دا وايي چې اول ماليکلي ؤو چې په پيچکاري سره روژه نه ماتيږي خو اوس دا خبره ثابته ده چې دغوښې او درګ په پيچکاري سره روژه ماتيږي، او دا مفتٰى به هم ده او دماتيدلو په قول کې احتياط هم ده.

ولاعبرة لمن فرق بين الابرة الوريدية واللحمية كصاحب الفتح الرحماني لعدمم الفارق قال العبد الضعيف الآن قد ثبت أن الدواء تصل بالابرة الى الجوف فيفتى بفطره وفيه الاحتياط ولست من اصحاب الترجيح.:ص٢١١ زاد الفقه.

که روژتي مريض وي اوپيچکاري ته ضرورت ولري

(مسئله) سوال: که روژتي سخت مريض وه او پيچکاري ته ضرورت ولري او ډاکټر ورته ووايي چې پيچکاري به لګوي او په فقه شريفه کي په پيچکاري روژه ماتيږي

نو ودي شخص ته دحل بله كومه لارشته كه نه؟

:جواب:كه روژتي شخص سخت عاجل مريض وه، اويا دتبي دزياتوب انديښنه وي،اويا روژتي ته په علامه اوتجربه معلوميده چې تبه مې خطرناكه كيږي، اويابل ځوک په تجربه ورته ووايي چې دارنګه تبه دفلاني وه بياتري هلاک شو، نودي روژتي ته روژه خوړل جوازلري، اوپيچكاري هم په حالت دروژې كي لګولي شي او افطار دروژې هم كولای شي خو داخبر يادلره چې دپيچكاري په لګولوسره يې روژه ماتيږي.

:**اوله پاملرنه**: كه سخت مريض روژتي دا فرضي روژه پدامذكورحالت وخوري يا پكښې پيچكاري استعمال كړي، وروسته صرف ديوې روژې قضاء په واجب ده، او كفاره باندې نشته.:ج١ص ٤١٤فقه الحنفي في ثوبه الجديد.

:**دوهمه پاملرنه**: روژتيانو مريضانوته بهتره داده چې كه روژه يې نيولي وي نودي پيچكاري تر روژه ماتي پوري وځنډوي اوماښام دي ولګوي.

يجوز الفطر لمن يخاف زيادة المرض أو بطء البرء.:ص٦٩٨ امداد الفتاح.

(لمن خاف زيادة المرض الفطر) وقال الشافعي رضي الله عنه لا يفطر إلا إذا خاف الهلاك مر على أصله في التيمم ونحن نقول إن زيادة المرض وامتداده قد يفضي إلى الهلاك فيجب الاحتراز عنه وطريق معرفته الاجتهاد فإذا غلب على ظنه أفطر وكذا إذا أخبره طبيب مسلم حاذق عدل والصحيح الذي يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض وكذا الأمة التي تخدم إذا خافت الضعف جاز أن تفطر ثم تقضي .:ج١ص٣٣٣ تبين الحقائق.

يباح للمريض في رمضان الفطر، إن خاف زيادة مرضه أوتأخر شفائه بأمارة طبيب له ،ولوكانت التجربة من غير المريض عند اتحاد المرض الخ.:ج١ص٤٣٨ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد.

الحقن في العضل وتحت الجلد اوفي الوريد والاولى عند الامكان تاخير ها الى المساء اما الحقن الشرجية فتفطر.:ج٣ص١٧١٢ الفقه الاسلامي.

(**دمصنف قاصره رايه**) پدي مسئله كي مصنف دالفقة في ثوبه الجديدوالاچې ذكر كوي نو وايي چې دغه ((په پيچكاري سره روژه ماتيدل)) زماقاصره رايه ده خو زه مشوره وركوم ويونكي ددي مسئلې لره چې ډېر ښه پوه پوه علماء اوجيدعلماء كرام

رحمهم الله به له ماسره پدي مسئله کي موافقت ونه کړي اودوي په پيچکاري باندې روژه نه ماتوي نوقاري دي له هغو علماؤ کرامو سره موافقه وکړ ي! خوبياهم دومره وايم چي احتياط په عباداتوکي پکاردی، الاحتياط في العبادات مطلوب! والله اعلم، **نو دفقيربنده قاصره رايه هم بس همدا ده مصنف**.: ج۱ص٤١٤ فقه الحنفي في ثوبه الجديد.

ددماغ دقوت اودصحت مندي حافظي دپاره نسخه

:پاملرنه: خبره چې د دماغ ذکر شوه نو ددماغ دقوت اودصحت مندي حافظي دپاره ديوڅو اهمو شيانو خيال ساتل ضروري ده دا مې په کتابونوکي ليدلي دي.

:**اول**: دالله جل جلاله ذکرکول ددماغ دقوت او د صحت مندي حافظي دپاره مفيد عمل دی.

:**دوهم**:دګناهونوڅخه ځان ساتل د دماغ دقوت او دصحت مندي حافظي دپاره مفيدکار دی.

:**دريم**:په شپه کي دتهجد لمونځ کول د دماغ دقوت او دصحت مندي حافظي دپاره عمل مفيد دی.

:**څلورم**: دمسواک وهل د دماغ دقوت او دصحت مندي حافظي دپاره مفيدکار دی.

:**پنځم**: دقرآن پاک تلاوت کول د دماغ دقوت او دصحت مندي حافظي دپاره مفيد دی.

:**شپږم**:ښه حلال خوراکونه کول د دماغ دقوت او دصحت مندي حافظي دپاره مفيد عمل دی، چې ښه خوراکونه که څوک کوي زړه به يې روغ وي چې زړه يې روغ وي نو زړه بيادماغ ته ښه وينه رسوي نوچي ودماغ ته سمه وينه زړه سپلائی کړي حافظه اوصحت به يې روغ وي.

:**اووم**:د دماغ دقوت اودصحت مندي حافظي دپاره مناسب ورزش کول هم پکاردی.: مصنف.

که روژتي نفر ماريالړم وچيچي

(مسئله)سوال: که روژتي نفر ماريالړم وچيچي روژه يې څه حکم لري؟

:جواب:که یوڅوک ماریالړم وچیچلي اوروژه یې دتداوي اودخوراک له مجبوري څخه ماته کړه نوکفاره باندې نشته.

(اعتراض) که روژتي شخص په دوران دروژې کي مار یالړم وچیچي دا دماریا دلړم زهربدن ته دترشیح له لاري رسیږي له منافذواصلیه ؤ څخه نه رسیږي نوولي روژه نه په ماتیږي او په پیچکاري سره روژه ماته بولئ؟

:**اول جواب**: ماران اولړمان زهری هواء اکسیجن لري هغه وبدن ته ترشیح کیږي، کله چې انسان وچیچي، نودامعمولي لږزهر وینې ته ترشیح شي نوچې وینې ته ورسیږي نومیکروبونه شي اوپه تبه او دردونو سره بدل شي نو انسان له تبي اودردونو څخه ضعیفه شي.

:**دوهم جواب**: دا زهردومره نه وي چې مفطر دروژې شي.

:**دریم جواب**: دماریا دلړم چیچل داخوفعل دروژتي ندی چې روژه په ماته شي، بلکي دا خوداسي مثال لري لکه مچ یامچې چې دروژتي په خوله کي داخله شي اومعدي ته ترې تیره شي نو روژه دروژتي شخص نه په فاسدیږي.

:**پاملرنه**: که ماریالړم روژتي وچیچې او روژه بیاپسي ماته کړي ددواء خوړلو لپاره چې نفع بدن ته ورسوي نودي روژه ماته کړي پروانلري اوصرف دیوې روژې قضاء بیا پري واجب ده.

قوله (ولسعة حية) عطف على العطش المتعلق بقوله وخوف هلاك ح أي فله شرب دواء ينفعه. :ج۳ص٤٦٢ شامي.

ولايفطر الصائم بلدغ الحية ، لأنه ليس بصنعه ولا صلاح لبدنه فيه.:ج۱ص٤١٤ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد.

ولو بعطش أو جوع شديد ولسعة حية(وقضوا) لزوما.:ج۳ص٤٦٢ شامي.:درمختار.

وكذا اذا لدغته حية فأفطر لشرب الدواء قالوا: ان كان ذالک الدواء ينفعه فلاباس به:ص٥٣ فتاوي الخنفية لعلالمة السعد الدين التفتازاني.

که روژتي وچه ګولی تیره کړي

(مسئله)سوال:که یو روژتي په حالت دروژې کي وچه ګولی تیره کړي نو روژه یې

څه حکم لري؟

:جواب:که په حالت دروژې کي يو روژتي بي اوبو وچه ګولی تيره کړي ولو که دهرڅه ګولی وي يعني دقوت ګولی وي اوکه د دواء ګولي وي روژه يې فاسده شوه.

فلا تجب في ابتلاع الجوزة أو اللوزة الصحيحة اليابسة لوجود الأكل صورة لا معنى؛ لأنه لا يعتاد أكله فصار كالحصاة والنواة.:ج۳ص٤٤٤ شامي.

و مما يفطر: ايصال الأغذية بالأبرة إلى الجوف من طعام اوشراب لأنه فى معنى الأكل و الشراب من غير فرق و اما الحبوب الغذائية والد وائية و المشتركة فيفطر من اكلها.:ص۷۲ المناهل الحسان فى درس رمضان.

:**يادلرنه**:که په حالت دروژې کي روژتي ته دزړه تکليف پيښ شي اوبيا مخصوصه ايجاد شوي ګولی تر ژبی لاندي کيږدي، چې دا دمساماتوپه زريعه په مخصوصو رګواوپلوکې جذب شي، اوددي څخه دپيدا شو لاړو پوره اهتمام وکړي چې تيري يې نکړي، نو د دي څخه روژه نه ماتيږي.

ولو مص إهليلجة فدخل الماء حلقه ؟ قال : لا يفسد صومه ذكره في الفتاوى .:ج۲ص۹۹ بدائع الصنائع.

قوله: (ومص إهليلج) أي بأن مضغها فدخل البصاق حلقه ولا يدخل من عينها في جوفه لا يفسد صومه كما في التاترخانية وغيرها.

وفي المغرب: الهليلج معروف عن الليث، وكذا في القانون.

وعن أبي عبيد: الاهليلجة بكسر اللام الاخيرة ولا تقل هليلجة، وكذا قال الفراء اه.:ج۲ص۳۹۶ شامي.

:**يادلرنه**: وفي «البقالي»: إذا أمسك في فمه شيئاً لا يؤكل، فوصل إلى جوفه لا يفسد صومه، وفيه أيضاً: إذا اغتسل فدخل الماء في فمه لا يفسد صومه.:ج۵ص۸ محيط برهانى.

په سترګوکي دورځې دروژې په حالت کي دواء اچول

(مسئله)سوال:په سترګوکي دورځې دروژې په حالت کي دواء وراچول څه حکم لري؟

:جواب: په سترګوکي دورځې دروژې په حالت کي څاڅکي دواء وراچول،

یاروغني ملهم په سترګوکي دورځې دروژې په حالت کي ورواچوي یاسترګې توري کړي داروژه نه فاسده وي، ولوکه څه هم داروژتي په ستوني کي ددواء خوند احساس کړي، اوپه ظاهرکلام کې شوافع هم داحنافوسره موافق دي .

اوکه روژتي ناړي توکړي او اثر د دواء یادرانجو په ناړوکي ووینی عام مشائخ وايي چې روژه نه په فاسدیږي.

:**پاملرنه: او المالكية والحنابلة وايي**: چې په سترګوکي که روژتي دواء ورواچوي روژه فاسده وي خوکه روژتي شخص د دواء خوندپه ستوني کي احساس کړي، سترګه منفذ ده، که څه هم معتاد منفذ نده.

التقطير في العين ، ودهن الأجفان ، أو وضع دواء مع الدهن في العين لا يفسد الصوم ، لأنه لا ينافيه وإن وجد طعمه في حلقه، وهو الأصح عند الحنفية ، والظاهر من كلام الشافعية أنهم يوافقون الحنفية .

وذهب المالكية والحنابلة إلى أن التقطير في العين مفسد للصوم إذا وصل إلى الحلق ، لأن العين منفذ وإن لم يكن معتادا.:ج۲۸ص۷۲ الموسوعة الفقهية الكويتية.

وأما إذا اكتحل، أو أقطر شيئاً من الدواء في عينه لا يفسد صومه عندنا، وإن وجد طعم ذلك في حلقه، وإذا بزق فرأى أثر كحل ولونه في بزاقه، هل يفسد صومه؟ ذكر شمس الأئمة الحلواني رحمه الله: إن فيه اختلاف المشايخ، عامتهم على عدم الفساد.:ج۲ص۶۴۱ المحيط البرهاني.

په حالت دروژې کي که يوڅوک په ذکر کي مائع څيز وروڅڅوي

(مسئله)سوال:دروژې په حالت کي که یوڅوک دذکرپه خوله کي یوڅه مائع څیز وروڅڅوي نو روژه ددي روژتي څه حکم لري؟

:جواب:دروژې په حالت کي که یو روژتي د ذکرپه خوله کي یومائع څیز ور وڅڅوي نوپدي سره روژې ته کوم نقصان نه رسیږي ، خواه دا مائع څیز مثاني ته ورسیږي یانه په قول دامام أبو حنيفة امام محمد امام مالک امام أحمد رحمهم الله، او دا رنګه یوقول دشوافعوهم ده.

:**پاملرنه: اوامام أبو يوسف رحمه الله وايي**: که دامائع څیز مثاني ته ورسیږي نو روژه ماته سوه، اوکه دامائع ورڅڅولي څیز ومثاني ته ونه رسیږي اوپه نل دذکرکي وي

بيا روژه نه په ماتيږي.

استدراك: طب وايي چې د ذكرله لاري ومثاني ته كه كوم څيز ورسيږي، نو دا ودماغ او وايني او وزره ته بيانه رسيږي بس په مثانه كې دا ثابته پروت وي، نو روژه نه باندي ماتيږي. :مصنف.

ح – الحقنة المتخذة في مسالك البول : ويعبر عن هذا الشافعية بالتقطير ، ولا يسمونه احتقانا وفيه هذا التفصيل الأول :

التقطير في الإحليل، أي الذكر: في التقطير أقوال: فذهب أبو حنيفة ومحمد ومالك وأحمد ، وهو وجه عند الشافعية ، إلى أنه لا يفطر ، سواء أوصل إلى المثانة أم لم يصل ، لأنه ليس بين باطن الذكر وبين الجوف منفذ ، وإنما يمر البول رشحا ، فالذي يتركه فيه لا يصل إلى الجوف ، فلا يفطر ، كالذي يتركه في فيه ولا يبتلعه ، وقال المواق : هو أخف من الحقنة .

وقال البهوتي: لو قطر فيه ، أو غيب فيه شيئا فوصل إلى المثانة لم يبطل صومه .

وللشافعية – مع ذلك – في المسألة أقوال:

أحدها: إذا قطر فيه شيئا لم يصل إلى المثانة لم يفطر ، وهذا أصحها ، لأنه – كما قال المحلي – في جوف غير محيل.

الثاني : لا يفطر.

الثالث: إن جاوز الحشفة أفطر ، وإلا لا. وذهب أبو يوسف إلى أنه يفطر إذا وصل إلى المثانة ، أما ما دام في قصبة الذكر فلا يفسد.:ج٢٨ص٤٠ الموسوعة الفقهية الكويتية.

دشوګرمريض ته دروژې خوړل

(مسئله) سوال: دشوګرمريض ته دروژې خوړل څه حكم لري ايادى روژه خوړلى شي كه نه؟

:جواب: كه يوڅوک دشوګرمريض وي اوشوګرهم ددي سړي اوج ته رسيدلي وي اوددي شخص دروژې دنيولوسره دنورمرض دزياتيدلو لويه خطره هم وي اويو مسلمان ډاكټر هم دروژه نيولوڅخه منع كړي وي، نو د داسي مريض دپاره دروژې دنه نيولو اجازت شته دى.

:پاملرنه: كه دا مرض دائمي وي او داحالت هم دا ئمى وي اودصحت يې هيڅ

امید هم نه وي، نودهري روژې فدیه دي ورکوي، اوکه دروژو په نیولوېې یوخت قدرت پیدا کړو نوفدیه باطله شوه روژې به نیسي.

قوله (لمن خاف زيادة المرض الفطر) لقوله تعالى { فمن كان منكم مريضا أو على سفر فعدة من أيام أخر } البقرة ١٨٤ فإنه أباح الفطر مريض لكن القطع بأن شرعية الفطر فيه إنما هو لدفع الحرج وتحقق الربح (الحرج) منوط بزيادة المرض أو إبطاء البرء أو إفساد عضو ثم معرفة ذلك باجتهاد المريض والاجتهاد غير مجرد الوهم بل هو غلبة الظن عن أمارة أو تجربة أو بإخبار طبيب مسلم غير ظاهر الفسق.:ج٢ص٢٨١ ص٣٠٣ البحر الرائق.

قوله (وللشيخ الفاني) أي الذي فنيت قوته أو أشرف على الفناء ولذا عرفوه بأنه الذي كل يوم في نقص إلى أن يموت،وقال علامة الشامي تحت قوله (وللشيخ الفاني)

المريض إذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية لكل يوم من المرض.:ج٢ص٤٢٧ شامي.

دپښتورګو والامريض که دورځې د اوبو څښلو ته ضرورت درلود

(مسئله) سوال: که چېرې دیوسړي ژړی وي یايې دپښتورګو تکلیف وي او په ورځ کي باربار داوبو څښلوته ضروت لري که يې ونه څښي بيايې مرض زياتيږي دانفر روژه خوړلي شي که نه؟

:جواب: که دژړي والامريض وي يايې دپښتورګو ددرد تکلیف وي یايئ دمعدي زخم وي اوپه ورځ کي که ډېر واري اوبه ونڅښي اويا خامخا خوراک ونکړي نوپه تکليف وي اومرض يې زياتيږي اودا تنده اومرض بيا دبراشت نه وي، نو ودي مريضانوته دروژې خوړل جوازلري بلکي روژه خوړل واجب ده ځکه چي ځانونه دمرګ له خطره بچ کړي، اوکه چېرې دا دردونه اوتکلیفونه دبرداشت ؤو بیادفرضي روژوخوړل ورته جوازنلري.

:اوله پاملرنه: که دي مريضانو دصحت دجوړيدلوأميدونه درلودل نودي وروسته له صحته بيا قضاء دروژو راوړي، اوکه چېرې داسي موکه الله جل جلاله ورته مساعده کوله چي دژمي یاپه بل موسم کښې يې يوڅوڅو روژې نيولاى سواى نودي فديه نه ورکوي او روژې دي په هغه موسموکي نيسي، اوکه يې دصحت اُميدونه ترمرګه نه درلودل بيادي فديه دروژو ورکړي،که فديه ورهم کړي او الله جل جلاله

وروسته بیاصحت ورکړو نو به دروژو قضاء راوړي اوفدیه باطله شوه.

ومنها المرض المريض إذا خاف على نفسه التلف أو ذهاب عضو يفطر بالإجماع وإن خاف زيادة العلة وامتدادها فكذلك عندنا وعليه القضاء إذا أفطر كذا في المحيط.

والصحيح الذي يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض هكذا في التبيين.:ج۱ص۲۰۷ هندية.

وذكر الكرخي في مختصره إن المرض الذي يبيح الإفطار هو ما يخاف منه الموت أو زيادة العلة كائنا ما كانت العلة

وروي عن أبي حنيفة أنه إن كان بحال يباح له أداء صلاة الفرض قاعدا فلا بأس بأن يفطر والمبيح المطلق بل الموجب هو الذي يخاف منه الهلاك لأن فيه إلقاء النفس إلى التهلكة لا لإقامة حق الله تعالى وهو الوجوب والوجوب لا يبقى في هذه الحالة وأنه حرام فكان الإفطار مباحا بل واجبا.:ج۲ ص۹٤ بدائع الصنائع فصل وأماحكم فساد الصوم.

دوهمه پاملرنه: که دیو سړي پښتورګو کار پریښي وي اودویني دصفائي کارنشي کولي، اوپداسي سخت تکلیف اخته وي چي دګردو دمصنوعي ماشین په زریعه باندي دویني څخه پالتوکچری اوبي کاره زیاتوب اوبه راباسي، اود ډاکټري په اصطلاح کي دي عمل ته (ډائیلاسز) وایي ، دا وینې په ماشین ځکه تري راباسي چي ددي صفائي لازمه ده، اوکه دا صفائي ونکړي، نو دپښتورګو عمل موقوف شو چي ددي وجې څخه بیاداسړي مري، نوپدي صورت کي که ددي شخص روژه وه نوپدي عمل (ډائیلاسز) سره روژه نه ماتیږي، البته اودس باندي ماتیږي.

وما يدخل من مسام البدن من الدهن لا يفطر هكذا في شرح المجمع ومن اغتسل في ماء وجد برده في باطنه لا يفطر هكذا في النهر الفائق ولو أقطر شيئا من الدواء في عينه لا يفطر صومه عندنا وإن وجد طعمه في حلقه وإذا بزق فرأى أثر الكحل ولونه في بزاقه عامة المشايخ على أنه لا يفسد صومه كذا في الذخيرة وهو الأصح هكذا في التبيين.:ج۱ص۲۰۳ الفتاوى الهندية.

(ولو ادهن أو احتجم لم يفطر لعدم المنافي) وقوله (لما روينا) يعني به قوله عليه الصلاة والسلام { ثلاث لا يفطرن الصائم } الحديث.:ج۳ص۲۸۵ العناية شرح الهداية باب مايوجب القضاء والكفارة.

که دسالنډی مریض(اِنهَیلَر) پمپ په خوله کي استعمال کړي

(مسئله) سوال: که دسالنډي والامریض په دوران دفرضي روژې کي په خوله کي

دسالنډي پمپ استعمال کړي روژه د ده څه حکم لري؟

:جواب:دسالنډي مريض که دسا راکښلودهوساهي لپاره (اِنهَيلَر)اسپرې ياوين ټولين (دسالنډي چلم) په دوران دروژې کښې په خوله کي استعمال کړو نو روژه دده فاسده شوه صرف ديوې ورځې قضاء ييا باندې واجب ده، ځکه پدي پمپ کښې دواء ده، دګرځ په شکل پزی او وستوني ته ورننوځي لهذا روژتي دواء وخوړه.

أنه إذا وجد بدا من تعاطي ما يدخل غباره في حلقه أفسد لو فعل قوله (إنه لو أدخل حلقه الدخان) أي بأي صورة كان الإدخال حتى لو تبخر بخور فآواه إلى نفسه واشتمه ذاكرا لصومه أفطر لإمكان التحرز عنه وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس.:ج۲ص۳۹۵ شامي مطلب يكره السهر إذا خاف فوت الصبح.

لكن لو استخدم مريض الربو بخاخة الهواء عند ضيق النَّفَس، فإنه يفطر؛ لأن ما يعفى عن جنسه كالتراب والهواء مقصور على حالة الابتلاء العام.:ج۳ص۱۷۱۹ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

:پاملرنه:(اِنهَيلَر) يوه طبي آله ده چي ددي په ذريعه سره سږوته دواء رسول کيږي، داستعمال طريقه يې څه داسي ده چي داپمپ ښه وښوروي اوبيامريض شخص په خوله کي دا سپرې (اِنهَيلَر) ته يو دوه پمپه دباؤ ورکړي نوبياوروسته مريض په هوساهي سره بدن ته تنفس کولای شي.:مصنف.

که ډاکټر روژتي مريض ته آکسيجن وفرمايلی

(مسئله)سوال:که روژتي مريضؤ اوډاکټرپه حالت دروژې کي آکسيجن ورکاوی ايا روژه دمريض شخص ماتيږي که نه؟

:جواب: آکسيجن يوبي رنګه اوبي ذئقي ګيس ده، چي دا آکسيجن دژوندلپاره ضروري شی ده،

آکسيجن که روژتي تنفس کاوه ددي حکم دادی که دديآکسيجن ماده دوائي په پائپ کي دأبوپه شکل کي په نظر راتله اوانسان تنفس کوله نو روژه په فاسديږي، اوکه دآکسيجن ماده په پائپ کي دأبو په شکل په نظر نه راتله اومريض تنفس کوله نو روژه نه په فاسديږي.

(أو دخل حلقه غبار أو ذباب أو دخان) ولو ذاكرا استحسانا لعدم إمكان التحرز عنه ، ومفاده أنه

لو أدخل حلقه الدخان أفطر أي دخان كان ولو عودا أو عنبرا له ذاكرا لإمكان التحرز عنه فليتنبه له كما بسطه الشرنبلالي . قوله : أنه لو أدخل حلقه الدخان أي بأي صورة كان الإدخال، حتى لو تبخر ببخور وآواه إلى نفسه واشتمه ذاكرا لصومه أفطر لإمكان التحرز عنه وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس.... وبه علم حكم شرب الدخان.:ج٢ص١٠٦ شامي.

قوله (لا دهن شارب وكحل).... وذكر في الإمداد أو الباب أنه يؤخذ من هذا أنه لا يكره للصائم شم رائحة المسك والورد ونحوه مما لا يكون جوهرا متصلا كالدخان.:ج٢ص٤١٧ شامي مطلب في الفرق بين قصد الجمال وقصد الزينة.:ص٢٢١ روزى كى مسائل مفتي انعام الحق.

دخوب په حالت كي دمريض خولې اوپزي ته ماشين بسته كول

(مسئله) كه روژتي دروژې په دوران كي له ريسپرونكس څخه فائده واخلي (اوځان ته يې بسته كړي) نوروژه يې نه فاسديږي.

يوقسم ماشين ده چي (ريسپرونكس) ورته وايي دا ماشين مريضانوته دخوب په حالت كي خولې اوپزي ته بسته كيږي، ددي دپاره چې مريض بياپه هوساهي سره تفس كولى شي، اوپه تنفس ساوهلوكي نه دشواره كيږي، پدي ماشين كي مريض شخص ته صرف تيزه هوا راځي ماده (ګرزاولوندوالى) پكښې نه وي.

(پوښتنه) مناسب خوداوه كه ريسپرونكس ماشين خولې ته بسته كړل شي په حالت دروژې كي نو روژه په ماته شوي واى؟

:جواب:پدي مشين كي دروژتي مريض خولې اوپزي ته صرف تيزه هوا راځي، او دودونه اودوائي يااوبه اوبله كومه ماده پكښې نه وي.

ولا يفطر أيضا بشم الروائح العطرية كالورد والنرجس.:ج٢ص٥٦٦ الفقه على المذاهب الأربعة.

١٧- شم الروائح العطرية كالورد أو الزهر والمسك أو الطيب.:ج٣ص٨٨ص ١٧١٢ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ ما لا يفسد الصوم عند الحنفية.

لا يكره للصائم شم رائحة المسك والورد ونحوه مما لا يكون جوهرا متصلا كالدخان فإنهم قالوا لا يكره الاكتحال بحال وهو شامل للمطيب وغيره ولم يخصوه بنوع منه وكذا دهن الشارب ٥١.:ج٢ص١٢٣ شامي.:ص٦٧٨ امداد الفتاح شرح نور الايضاح.

كه روژتي دبولو دپاره مثاني ته پيپ ور واچوي

(مسئله) سوال: که دروژتي شخص روښي بولي بندي شي اوډاکټر دي روژتي ته دنر دذکردلاري یادښځې دقبل دلاري پیپ مثاني ته ورواچوي ددي لپاره چي بولي په پیپ کي راشي نوپدي سره روژه ماتیږي که نه؟

:جواب: که دروژتي شخص روښي بولي بندي شي او ډاکټر دي روژتي ته (سسټو اسکوپي) وروکړي چي دنر د ذکر دلاري یادښځې دقبل دلاري (یعني دکوچني استنجاء دلاري) پیپ نلکی مثاني ته ورواچوي ددي لپاره چي بولي په پیپ کي په اساني سره راشي اودتکلیف څخه مریض خلاص شي نوپدي سره دنرسړي روژه نه فاسدیږي (ولوکه څه هم د دا پیپ یا دسیخ په سرڅه مائع دوائي وهل شوی وي ځکه دا دوائي بیا دمثاني څخه په بولوکی بیرته راوځي او دا دوائي له مثانی څخه بدن نه جزب کوي بس په مثانه کی ثابته پرته وي)، البته دښځې روژه پدي عمل سره فاسدیږي.

اوپدي مسئله کې شوافع درې قولونه لري.

او امام أبو یوسف وایي: که دوامثاني ته ورسیږي روژه ماتیږي، اوکه دوا په نل دذکرکي وه بیاروژه نه ماتیږي، اختلاف د ده مبنی پدي ده چې دا دوا ونس ته رسیږي که نه، خوظاهره خبره دا ده چې نه رسیږي، اوبولي ومثاني ته په ترشیح سره راځي.

التقطير في الإحليل ، أي الذكر : في التقطير أقوال: فذهب أبو حنيفة ومحمد ومالك وأحمد ، وهو وجه عند الشافعية ، إلى أنه لا يفطر ، سواء أوصل إلى المثانة أم لم يصل ، لأنه ليس بين باطن الذكر وبين الجوف منفذ ، وإنما يمر البول رشحا ، فالذي يتركه فيه لا يصل إلى الجوف ، فلا يفطر ، كالذي يتركه في فيه ولا يبتلعه ، وقال المواق : هو أخف من الحقنة. وقال البهوتي : لو قطر فيه ، أو غيب فيه شيئا فوصل إلى المثانة لم يبطل صومه.

وللشافعية – مع ذلك – في المسألة أقوال:

أحدها : إذا قطر فيه شيئا لم يصل إلى المثانة لم يفطر ، وهذا أصحها ، لأنه – كما قال المحلي – في جوف غير محيل .

الثاني : لا يفطر.

الثالث : إن جاوز الحشفة أفطر ، وإلا لا.

وذهب أبو يوسف إلى أنه يفطر إذا وصل . إلى المثانة، أما ما دام في قصبة الذكر فلا يفسد. :ج٢٨ص٤٠ الموسوعة الفقهية الكويتية.

أو(مس فرج بهيمة أو قبلها فأنزل أو أقطر في إحليله) ماء أو دهنا وإن وصل إلى المثانة على المذهب ، وأما في قبلها فمفسد إجماعا لأنه كالحقنة . (قوله: على المذهب) أي قول أبي حنيفة ومحمد معه في الأظهر.

وقال أبو يوسف يفطر والاختلاف مبني على أنه هل بين المثانة والجوف منفذ أو لا وهو ليس باختلاف على التحقيق والأظهر أنه لا منفذ له وإنما يجتمع البول فيها بالترشيح كذا يقول الأطباء زيلعي.

وأفاد أنه لو بقي في قصبة الذكر لا يفسد اتفاقا ولا شك في ذلك وبه بطل ما نقل عن خزانة الأكمل لو حشا ذكره بقطنة فغيبها أنه يفسد ؛ لأن العلة من الجانبين الوصول إلى الجوف وعدمه بناء على وجود المنفذ وعدمه لكن هذا يقتضي عدم الفساد في حشو الدبر وفرجها الداخل ولا مخلص إلا بإثبات أن المدخل فيهما تجذبه الطبيعة فلا يعود إلا مع الخارج المعتاد وتمامه في الفتح .

قلت: الأقرب التخلص بأن الدبر والفرج الداخل من الجوف إذ لا حاجز بينهما وبينه فهما في حكمه والفم والأنف وإن لم يكن بينهما وبين الجوف حاجز إلا أن الشارع اعتبرهما في الصوم من الخارج وهذا بخلاف قصبة الذكر فإن المثانة لا منفذ لها على قولهما وعلى قول أبي يوسف وإن كان لها منفذ إلى الجوف إلا أن المنفذ الآخر المتصل بالقصبة منطبق لا ينفتح إلا عند خروج البول فلم يعط للقصبة حكم الجوف تأمل.:شامي باب مايفسدالصوم ومالايفسده. :ص٢٤٦ روزى كى مسائل مؤلف: مفتي انعام الحق قاسمي.:ص٣٢٥ مظهرالأنوار.

الحقنة في الإحليل أي ثقبة الذكر، ولو بمائع، لأنه لا يصل عادة للمعدة.:ج٣ص٩٣ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ. ما لا يفسد الصوم.

دروژې په دوران کي په ډاکټري الوسره باطني معائنه کول

(مسئله) سوال: که يو چاپه حالت دروژې کي معائنه د (ايم ارسي پی) وکړه نو روژه د دي سرې څه حکم لري؟

:جواب: باطني معائنه دېرډوله ده:

:**اول**: دروژې په دوران کي (ايم ارسي پي، يا آراي سي پی) دا ډاکټري اله دنلکی (تار) په شکل وباطني بدن ته ورننه باسي چي د دننه بدن معائنه (دتريخي اونالی

دتريخي په معائنه كيږي، اوپه ګردوكي دشګو معلومات وركوي) دعلاج لپاره وكړي، نوپدي معائنه سره روژه فاسديږي البته قضاء باندې واجب ده اوكفاره باندې نشته.

.:ص٢٢٤ روزى كي مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

:دوهم: دروژې په دوران كي(اين جي ټيوب) كول، اين جي ټيوب دي ته وايي چي مريض ته ډاكټران دپزي يادستوني دلاري څخه نلكى (پيپ) معدي ته ورتيره كړي ددي دپاره چي مريض ته پكښې ددي په زريعه سره دوائي ور ورسوي(اوپدي نلكى باندې جيل ولګوي اوبيايې ورداخل كړي)، نوپدي سره هم روژه فاسديږي البته قضاء باندې واجب ده اوكفاره باندې نشته. :ص٢٢٥ روزى كي مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

:پاملرنه: په فقه الحنفي في ثوبه الجديد اوفتاوي اصليةكي وايي په ننې عصركې دبعضو مرضونو دپيژندګلوي لپاره معدې ته دخولې له خوا يوپايپ اچول كيږي چې پدغه آله سره دمعدى دمرض تشخيص كوي نو زموږ دفقهي له جزياتو څخه دامعلوميږي چي پدي روژه نه ماتيږي ځكه دروژې دماتيدلو لپاره دا شرط ده چي دغه شى به هلته پاته كيږي، خوپدي شرط چي دغه آله به وچه وي دوا به ورسره خلط نه وي.

اذا ادخل الطبيب الة جافة الى جوف الصائم ثم اخرجها لايفطر الصائم فقه الحنفي في ثوبه الجديد .:ج١ص١١٠ فتاوي اصلية.

:دريم: دروژې په دوران كي(اَنيجِيوګرافي) كول اَنيجِيوګرافي دي ته وايي چي مريض ته ډاكټران دا دويني په رګونو او دزړه په والونو كښې دنلكى(تار) په شكل آله ورننه باسي چي دبدن دباطني اعضاؤ معائنه وكړي اودا معائنه دايكسري په ډول ډاكټران محفوظه دعلاج لپاره ساتي(دا دويني درګونو ايكسري اوتصوير دى) نوپدي صورت كي هم روژه فاسديږي البته قضاء باندې واجب ده اوكفاره باندې نشته.

:ص٢٢٥ روزى كى مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

:څلورم: دروژې په دوران کي«انډواسکوپي»کول انډواسکوپي معنٰی دننه کتل او انډواسکوپي يوه ټيوب نماادروښنائي والا اله ده، اودننه پکښې کمري هم شته چي ډاکټران دطبي وجوهاتو دبنا اوډپرانډواسکوپ پرزريعه دانسان په باطني جسم کي په سترګوباندې ډاکټر ليدلی حال او معلومات په اسانی سره حاصلولی شي، اودا ٰاله دانسان دخلاصو لاروڅخه مثلاًمعدي ياپزي ته چي وردننه کړي بيادننه دمرض تشخيص پکښې کولی شي، نوپدي صورت کي هم که روژتي شخص دروژې په حالت کي (انډواسکوپي) وکړي نو روژه يه فاسديږي البته قضاء باندې واجب ده او کفاره باندې نشته. :ص٢٢٦ روزی کی مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

:پنځم: دروژې په دوران کي (برونکواسکوپي) کول په برونکواسکوپي سره ډاکټران دبيخ (دبري) دخواڅخه دکلمي اونورڅه معلومات کوي.

اوياپکښې دخولې اودپزي دخوا څخه دتنفس هوا دباطني لارو معائنه کوي، برونکواسکوپي هم پيپ نلکی دمريض دخولې يادپزي دلاري ډاکټر ورواچوي اومطلوبه مقام ته يې ورسوي، پدي صورت کي هم روژه فاسديږي البته قضاء باندې واجب کيږي او کفاره باندې نشته.

:ص٢٢٧ روزی کی مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

:شپږم: دروژې په دوران کي(پروکټواسکوپي، ياکولونواسکوپي) معائنات کول دامذکوري ٰالي په مقعد(دبره) دمريض کي ډاکټر ور داخله وي چې ددي پروکټواسکوپ ، يا دکولونواسکوپ په ذريعه سره دلويي کولمي داخري حصي معائنه کيږي(ددي ٰالي په سرکي برق وي اودباطني جسم معائنه په کوي) نوپدي معائنه سره روژه فاسديږي د يوې روژې قضابه راوړي.

:ص٢٢٨ روزی کی مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

:اووم: دروژې په دوران کي(لرينګواسکوپ) معائنات کول د لرينګواسکوپ په ذريعه سره دخولې مری دخوا ددننه دستوني (حلقوم) شا اوخوا په معائنه کيږي؛ نو پدي معائنه سره روژه فاسديږي ديوې روژې قضابه راوړي.

:ص٢٥٥ روزی کی مسائل مؤلف مفتي انعام الحق قاسمي.

اتم:که مرض خطرناکه نه وي نوپه روژه کې دالتهراسانه دپاره اوبه څښل جواز نلري، دشپي دي التهراسانه وکړي.:مصنف.

که یوسړی روژه نیسي نولمونځ په ولاړه نشي کولای

(مسئله)سوال:که چېرې یوسړی روژه نیسي نوبیاپه تکلیف وي فرضي لمونځ په ناسته کوي اوکه روژه نه نیسي نوبیافرضي لمونځ په ولاړه کولای شي داسړي ته دروژې په برابرڅه حکم دی؟

:جواب:که یوسړی روژه نیسي نوفرضي لمونځ په ولاړه نشي کولای اوکه روژه نه نیسي نوبیافرضي لمونځ په ولاړه کولای شي دا سړی دي روژه نیسي اولمنځونه دي په ناسته کوي چې د دواړو فرضونو څخه یې غاړې خلاصې شي.

رجل في شهر رمضان ان صام صلي قاعدا ، وان أفطر صلي قائما، يصوم ويصلي قاعدا ، حتي يخرج عن أداء الواجبين.:ج۲ص۴۰۵ التجنيس والمذيد.:ج۲ص۶۸۳ الفتاوي التاتارخانية.

که دمریض شخص مرض زائله شواوضعف یې باقي ؤ

(مسئله)سوال:که دمریض شخص مرض زائله شو اوضعف یې باقي ؤ ایا دي شخص ته دروژې خوړل جواز لري که نه؟

:جواب:که دمریض شخص مرض زائله شو خوضعف یې باقي ؤ پدې مسئله کې دوه روایته راغلي دي په یوروایت ودي نفرته دروژې نه نیول پروانلري، په بل روایت بیاداسې راځي چې مناسب ودي شخص ته داده سې روژې دي نیسي اوخوری دي نه ځکه مبیح خومرض ؤ نه ضعف.

وضابط المرض المبيح الفطر: هوالذي يشق معه الصوم مشقة شديدة أو يخاف الهلاك منه إن صام، أو يخاف بالصوم زيادة المرض أو بطء البرء أي تأخره. فإن لم يتضرر الصائم بالصوم كمن به جرب أو وجع ضرس أو إصبع أو دمل ونحوه، لم يبح له الفطر.

والصحيح الذي يخاف المرض أوالضعف بغلبة الظن بأمارة أو تجربة أو بإخبار طبيب حاذق مسلم مستور العدالة، كالمريض عند الحنفية. والصحيح الذي يظن الهلاك أو الأذى الشديد كالمريض عند المالكية.:ج۳ص۷۵ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

ولوزال مرضه وبقي ضعفه قيل ينبغي أن يصوم.:ج۲ص۱۶۷ جامع الفصولين.

إذا زال المرض، وبقي الضعف هل له أن يفطر؟ قيل: وينبغي أن لا يفطر لأن المبيح هو المرض دون الضعف، ولا يعتبر فوت المرض دون الضعف أيضاً لما ذكرنا أن المبيح هو المرض لا خوفه. :ج۵ص۱۴ المحيط البرهاني.

كوم مريض ته جوازشته چي روژه و خوري

(مسئله) سوال: هغه مرض چي روژه پکښې خوړلي شي دا مرض دسړي به په کومه درجه کي وي چي بيا ورته جواز شته چې روژه وخوري؟

:جواب: درمضان المبارک دروژې په مياشت کي په پنځو مرحلو کي مريض سړي يا مريضي ښځې ته دروژې خوړل جوازلري:

:**اوله مرحله**: مريض سړی يا مريضي ښځې ته دروژې خوړل هغه وخت جوازلري چي لمونځ دامريض په ولاړي نشي کولای.

:**دوهمه مرحله**: مريض سړي يامريضي ښځې ته دروژې خوړل هغه وخت جواز لري چي دروژې نيول په مريض سخت مشقت وي، ياپه نيولو دروژې سره دځان په هلاکت بيريږي.

:**دريمه مرحله**: مريض سړي يامريضي ښځې ته دروژې خوړل هغه وخت جوازلري چي دوی پدي بيريږي چي مرض به مې بياوځنډيږي.

:**څلورمه مرحله**: مريض سړي يامريضي ښځې ته دروژې خوړل هغه وخت جواز لري چې دروژه نيولوڅخه کوم نوي مرض ورته پيدا کيږي، اويا دموجوده مرض دزيادت توقع انديښنه لري.

:**پنځمه مرحله**: مريض سړي يامريضي ښځې ته دروژې خوړل هغه وخت جواز لري چي دوي دشدت مرض له وجې په فرشونو بيستروکي پراته وي.

:**ياملرنه**: که روژتي شخص ته ضررنه پيداکيده دروژې دنيولوڅخه لکه دچاچې غاښ خوږيږي ياېې ګوته خوږيږي، ياېې په بدن يوه کوچني سونجکی يابله دانه وي نوپدي صورتونوکي دروژې خوړل ورته جوازنلري.

المرض المبيح للافطار أن يصير صاحب فراش، وقيل أن يعجزه عن الصلاة قائما والصحيح أن يخاف بالصوم توقع الزيادة.:ج۲ص۱٦٧ جامع الفصولين.

وضابط المرض المبيح الفطر: هوالذي يشق معه الصوم مشقة شديدة أو يخاف الهلاك منه إن صام، أو يخاف بالصوم زيادة المرض أو بطء البرء أي تأخره. فإن لم يتضرر الصائم بالصوم كمن به جرب أو وجع ضرس أو إصبع أو دمل ونحوه، لم يبح له الفطر.

والصحيح الذي يخاف المرض أوالضعف بغلبة الظن بأمارة أو تجربة أو بإخبار طبيب حاذق مسلم مستور العدالة، كالمريض عند الحنفية. والصحيح الذي يظن الهلاك أو الأذى الشديد كالمريض عند المالكية.:ج٣ص٧٥ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.: ١٨٥فضائل ومسائل رمضان اردو.

:پاملرنه: كه چېرې روژتي شخص ته ضرر پيدا كيده اويايې مرض زياتيده دروژې په نيولو لكه دچاچې سخته ستركه خوږيږي يايې سخته تبه وي نو ودي شخص ته هم دروژې خوړل جوازلري.

والمرض الذي يبيح الفطر مايخاف منه الموت أوزيادة علة حتي لوخاف أنه لولم يفطر يزداد عينه وجعا أوحماه شدة حل له أن يفطر.:ج٣ص٤٠٣ الفتاوي التاتارخانية.

:پاملرنه: كه چېرې بي تجربى روژتي فرضي روژه وخوري، اويايه قول سره دجاهل ډاكټر اويا ديوجاهل ياكافر طبيب اوډاكټر سره مريض عمل وكړي، نوبياپدي صورت كى په روژتي باندې كفاره اوقضاء دروژې واجب ده.

ويحل الفطر إذا خاف الزيادة لمرض بغلبة الظن بأمارة أو تجربة أو بإخبار طبيب حاذق مسلم مستور.: درمختار.

قلت: وإذا أخذ بقول طبيب ليس فيه هذه الشروط وأفطر فالظاهر لزوم الكفارة كما لو أفطر بدون أمارة ولا تجربة لعدم غلبة الظن والناس عنه غافلون.:٢ص١٢٧ شامي.

كه روژتي په چاقوووهل شي

(مسئله) سوال: كه روژتي په چاقو ووهل شي نو روژه ئى ماتيږي كه نه؟

:جواب: كه چېرې روژتي شخص په چاقويايه غشي يايه توره سره په نس يايه سر كي ووهل شي اوزخمي شي اودا تيره شى بيرته تري راوكاږي نو روژه پدي صورت كي نه فاسديږي، اوكه چېرې ددي شيانو سر دزخمي روژتي په نس يايه سر كي پاته شي اويا دروژتي په نس اويادماغ كي داتيره شي ورمات شي، نو روژه فاسده شوه.

:پاملرنه: هم داحكم دهرقسمه ګولى اوپرزي هم دى چې روژتي په وويشتل شي

که په نس کي پاته شوه نو روژه فاسده شوه او که تري راوي کبنله بيا روژه نه فاسديږي.

ولو طعن برمح أو أصابه سهم وبقي في جوفه فسد وإن بقي طرفه خارجا لا يفسد كذا في التبيين. :ج١ص٢٠٤ الفتاوى الهندية.

ولو طعن برمح حتى وصل إلى جوفه لم يفطره لأن كون الرمح بيد الطاعن يمنع وصوله إلى باطنه حكما فإن بقي الزج في جوفه فسد صومه لأنه صار مغيبا حقيقة فكان واصلا إلى باطنه.:ج٣ص١٧٧ المبسوط للسرخسي.

ولو طعن الصائم برمح حتى يصل الرمح إلى جوفه لم يكن عليه القضاء ولا الكفارة.:ج٢ص٢٤٤ الأصل المعروف بالمبسوط.

إذا طعن الصائم برمح، فإن نزعه لم يفطره، وإن بقي الرمح أفطر، هكذا ذكر في عامة الكتب، وذكر سيدنا رحمه الله في «شرح التجريد» بيان في هذا الفصل، وهو ما إذا أبقي الرمح اختلاف المشايخ. :ج٢ص٦٤١ المحيط البرهاني.

دتبي له انديښني څخه روژه خوړل

(مسئله) سوال: که ديو روژتي تبه شوه نوايادتبي له وجې روژه خوړلی شي که نه؟

:جواب: که دتبي دزياتوب انديښنه وي، اوياماهراسپيشليسټ ډاکټرمسلمان تقوى داره((په ديني معاملاتوکې دغيرمسلم اودفاسق مسلم قول اومشوره قابل دقبول نده)) ورته ووايي که روژه ونه خورې اودواء استعمال نکړې نوتبه دي زياته خطرناکه ده، کيدلي شي چې دبدن دزيان سبب دي وګرځې، نوکه روژتي دافرضي روژه پداسي حالت کي وخوري، صرف ديوې روژې قضاء باندې واجب ده، اوکفاره باندې نشته.

:پاملرنه: که روژتي ته په علامه اوتجربه معلوميږي چې تبه مې خطرناکه کيږي، اويابل څوک په تجربه ورته ووايي چې دارنګه تبه دفلاني وه بياتري هلاک شو، لهذا که روژتي دافرضي روژه وخوري، نوصرف ديوې روژې قضاء باندې واجب ده.

(لمن خاف زيادة المرض الفطر) وقال الشافعي رضي الله عنه لا يفطر إلا إذا خاف الهلاك مر على أصله في التيمم ونحن نقول إن زيادة المرض وامتداده قد يفضي إلى الهلاك فيجب الاحتراز عنه

وطريق معرفته الاجتهاد فإذا غلب على ظنه أفطر وكذا إذا أخبره طبيب مسلم حاذق عدل والصحيح الذي يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض وكذا الأمة التي تخدم إذا خافت الضعف جاز أن تفطر ثم تقضي. :ج١ص٣٣٣ تبين الحقائق.

يباح للمريض في رمضان الفطر، إن خاف زيادة مرضه أوتأخر شفائه بأمارة طبيب له ، ولوكانت التجربة من غير المريض عند اتحاد المرض الخ.:ج١ص٤٣٨ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد. يجوز الفطر لمن يخاف زيادة المرض أو بطء البرء.:ص٦٩٨ امداد الفتاح.

ولو كان له نوبة الحمى فأكل قبل أن تظهر الحمى لا بأس به كذا في فتح القدير .:ج١ هندية.

قوله: (حاذق) أي له معرفة تامة في الطب، فلا يجوز تقليد من له أدنى معرفة فيه ط.

قوله: (مسلم) أما الكافر فلا يعتمد على قوله لاحتمال أن غرضه إفساد العبادة كمسلم شرع في الصلاة بالتيمم فوعده بإعطاء الماء فإنه لا يقطع الصلاة لما قلنا.بحر.

قوله: (مستور) وقيل عدالته شرط، وجزم به الزيلعي، وظاهر ما في البحر والنهر ضعفه ط.

قلت: وإذا أخذ بقول طبيب ليس فيه هذه الشروط وأفطر فالظاهر لزوم الكفارة، كما لو أفطر بدون أمارة ولا تجربة لعدم غلبة الظن والناس عنه غافلون.

قوله: (وأفاد في النهر) أخذا من تعليل المسألة السابقة باحتمال أن يكون غرض الكافر إفساد العبادة.

وعبارة البحر: وفيه إشارة إلى أن المريض يجوز له أن يتسطب بالكافر فيما عدا إبطال العبادة ط.:ج٢ص۴٢٢ شامي.

که مریض نیولي روژه وخوړله.

(مسئله) که مریض شخص په فرضي روژه کې ترسهاره روژتي ؤ خو وروسته يئ بيا روژه وخوړله، نوصرف ديوې روژې قضاء به بيا راوړي او کفاره باندې نشته.

اصبح المريض صائما ثم افطر لاكفارة عليه.:الفتاوی التاتارخانية كتاب الصوم.:ص۵٢۵ مظهر الانوار.

دبوا سيرو مريض دروژې په دوران کښې

(مسئله) سوال:دبواسيرو مريض دروژې په دوران کښې که دا دبواسيرو داني په دواسره ککړې کړي نو روژه يئ فاسديږي که نه؟

:جواب: :**اول**: کوم شخص که دخوني بواسيروپه مرض مبتلاوي، اودروژې په دوران کي دبواسيرو دزخو دانوڅخه وينې راځي او دا سړی په لوي تکليف کښې وي، که دواياني دوږځې استعمالوي اوخوريې نوصحت مندوي، نوداشخص دي په رمضان کې روژې نه نيسي کله چې تندرست اوجوړشي اوقابل دروژو شي نوفوت شوي روژې دي بياونيسي.

:**دوهم**:دروژې په حالت کې دبواسيرو دزخو پدانو ملهم، ياتيل، يادوا، وهل په هغه دانو اوزخو منع ده که دننه داخل دمقعد (دبري) خواته وي، نوکه داملهم، ياتيل، يادوا، داخل دمقعد(دبري) ته ورسيږي روژه فاسده شوه، اوپه ډيټولوکې يې کيناستل، دامنع ده.

:**دريم**:که دبواسيرو داني زخي دقضاء حاجت په وخت دباندې راووځي، نوکله چې استنجاء وهي ددي وروسته دي دا داني په يوه جامه رخت سره وچې کړي بيادي ولاړشي، که وچې نه شي اوبيرته ودبري ته لندي دننه شي روژه فاسده شوه.

يجوز الفطر لمن يخاف زيادة المرض أو بطء البرء.:ص٦٩٨ امداد الفتاح.

(لمن خاف زيادة المرض الفطر) وقال الشافعي رضي الله عنه لا يفطر إلا إذا خاف الهلاك مر على أصله في التيمم ونحن نقول إن زيادة المرض وامتداده قد يفضي إلى الهلاك فيجب الاحتراز عنه وطريق معرفته الاجتهاد فإذا غلب على ظنه أفطر وكذا إذا أخبره طبيب مسلم حاذق عدل والصحيح الذي يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض وكذا الأمة التي تخدم إذا خافت الضعف جاز أن تفطر ثم تقضي.:ج١ص٣٣٣ تبين الحقائق.

يباح للمريض في رمضان الفطر إن خاف زيادة مرضه أوتأخر شفائه بأمارة طبيب له ولوكانت التجربة من غير المريض عند اتحاد المرض الخ.:ج١ص٤٣٨ الفقه الحنفي في ثوبه الجديد.

والرجل تثاقل حتى خرج إسته فى حالة الاستنجاء ثم عاد إلى مكانه فسد صومه إلا أن يجفف قبل أن يقوم. :ج٣ص٣٨٠ تاتارخانية.

الرجل إذاخرج دبره وهوصائم ،فينبغي أن لايقوم من مقامه حتى ينشف ذلك الموضع بخرقة ،لأنه إذا لم يفعل ذلك عسى يدخل الماء جوفه تحرزاً عن فساد الصوم.:ج١ص٦٠ الفتاوى الوالوجية.

إذا استقصى في الاستنجاء حتى بلغ الماء مبلغ الحقنة يفسد صومه هكذا في البحر الرائق.

:ج١ص٢٠٤ الفتاوى الهندية.

دسوزک مریض ته دروژې خوړل

(مسئله)دسوزک مریض ته دروژې خوړل جوازنلري.

(لمن خاف زيادة المرض الفطر) وقال الشافعي رضي الله عنه لا يفطر إلا إذا خاف الهلاك مر على أصله في التيمم ونحن نقول إن زيادة المرض وامتداده قد يفضي إلى الهلاك فيجب الاحتراز عنه وطريق معرفته الاجتهاد فإذا غلب على ظنه أفطر وكذا إذا أخبره طبيب مسلم حاذق عدل والصحيح الذي يخشى أن يمرض بالصوم فهو كالمريض وكذا الأمة التي تخدم إذا خافت الضعف جاز أن تفطر ثم تقضي.:ج١ص٣٣٣ تبين الحقائق.:ج٤ص١٧٠ فتاوى فريدية.

المريض إذا خاف على نفسه التلف، أو ذهاب عضو منه يفطر بالإجماع، وإن خاف زيادة العلة وامتداده، فكذلك عندنا، وعليه القضاء إذا أفطر لقوله تعالى: {ومن كان مريضاً أو على سفر، فعدة من أيام أخر} (البقرة: ١٨٥).:ج٥ص١٤ المحيط البرهاني.

په روژه کي دبدن څخه وينه ويستل ياحجامة کول

(مسئله)سوال:په حالت دوژې کي که روژتي شخص حجامة وکړي یاله بدن څخه په پيچکاري وينه وباسي نو ايا روژه په ماتيږي که نه؟

:**اول جواب**:که روژتي دبدن له رګ څخه وينه وباسي اويابښکر ولګوي اويا په جديدوالوکفانوسره حجامة وکړي نوپدي سره يې روژه نه ماتيږي اونه داعمل مکروه ده دا په نزد دامام ابوحنيفة، امام مالک، امام شافعي رحمهم الله، او دوي دادليل وايي: چې رسول الله صلي الله عليه وسلم ښکر ولګاوه اودی مبارک روژتي وه.

اوکه چېرې داروژتي له دي عمل څخه ضعيفه کيدي بيا داعمل په حالت دروژې کي مکروه دی.

:**دوهم جواب**:حضرت ابي سعيد الخدري رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په مچو اخستلو کي دخپلي بي بي څخه وروژتي ته رخصت ورکړو، او دښکر په لګولو کي يې هم رخصت ورکړو.

:**دريم جواب**:حضرت أنس رضي الله عنه به ښکر لګاوه او دی به روژتي ؤ.

شلورم جواب:أنس بن مالک رضي الله عنه ورته وويل نه مکروه نده مګر دضعف دوجې مکروه ده.

پنځم جواب: سعد بن مالک وزيد بن ثابت رضي الله عنهم به ښکر لګاوه او دوی به روژتيان ول.

پاملرنه: که روژتي شخص له بدن څخه په پيچکاري اويا په بله ذريعه سره وينه وباسي اويا حجامة وکړي اوبيا پخپله مجرد جهل سره روژه وروسته ترحجامې لکولو پسي وخوري نوکفاره اوقضاء دروژې دواړه باندې واجب دي، ځکه داجهل پدارالاسلام کي عذرندی، اوکه چېرې دا دويني ويستلو يادحجامې والا ديوښه پوه تکړه عالم مفتی څخه داسي مفتی چي ورڅخه خلک علم حاصله وي پوښتنه وکړه اومفتی ځواب ورکړي چي په حجامې سره روژه ماتيږي، اوپه تاويل دحديث مبارک مفتی نه ؤ خبر، نو بيا دحجامې په خو ړونکي يوه روژه دقضاء واجب ده کفاره باندې نشته ، اوکه مفتی په تاويل دحديث خبر ؤ اوبيايې هم حديث په ظاهرحمل کړي ؤ چي په ښکرلګولوسره روژه ماتيږي ، نوکفاره اوقضاء دواړه په خوړونکي روژتي شخص باندې واجب دي.

ثابت البناني دأنس بن مالک رضي الله عنه څخه سوال وکړو چې تاسو مکروه بولی ښکرلکول وروژتي ته؟

وعن بن سعيد الخدري قال رخص رسول الله في القبلة للصائم ورخص في الحجامة رواه النسائي: ج٦ص٣٥٧ حاشية ابن القيم على سنن أبي داود.

وكان أنس يحتجم وهو صائم " رواه الدارقطني وقواه.: دارقطني.

الاحتجام غير مناف أيضا ولما روينا من الحديث وهو مكروه للصائم إذا كان يضعفه عن الصوم أما إذا كان لا يخافه فلا بأس كذا في غاية البيان.: ج٢ص٢٩٤ البحر الرائق.: ج٥ص٤٨٤ معارف السنن.

لو احتجم أو اغتاب فظن أنه يفطره ثم أكل إن لم يستفت فقيها ولا بلغه الخبر فعليه الكفارة لأنه مجرد جهل وأنه ليس بعذر في دار الإسلام وإن استفتى فقيها لا كفارة عليه لأن العامي يجب عليه تقليد العالم إذا كان يعتمد على فتواه فكان معذورا فيما صنع وإن كان المفتي مخطئا فيما أفتى وإن لم يستفت ولكن بلغه الخبر وهو قوله عليه الصلاة والسلام أفطر الحاجم والمحجوم وقوله صلى الله عليه

وسلم الغيبة تفطر الصائم ولم يعرف النسخ ولا تأويله فلا كفارة عليه عندهما لأن ظاهر الحديث واجب العمل به خلافا لأبي يوسف لأنه ليس للعامي العمل بالحديث لعدم علمه بالناسخ والمنسوخ.:ج٢ ص٣١٥ البحر الرائق.

ولو احتجم فظن أن ذلك يفطره ثم أكل متعمدا عليه القضاء والكفارة إلا إذا أفتاه فقيه بالفساد ولو بلغه الحديث واعتمده فكذا عند محمد رحمه الله تعالى وعن أبي يوسف رحمه الله تعالى خلاف ذلك وإن عرف تأويله تجب الكفارة كذا في الهداية.:ج١ص٢٠٦ الفتاوى الهندية

ولا تكره الحجامة للصائم لما روي عن ابن عباس رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم احتجم وهو صائم

وعن أنس رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم احتجم وهو صائم محرم ولو احتجم لا يفطره عند عامة العلماء وعند أصحاب الحديث يفطره

واحتجوا بما روي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم مر على معقل بن يسار وهو يحتجم في رمضان فقال أفطر الحاجم والمحجوم

ولنا ما روي عن ابن عباس وأنس رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم احتجم وهو صائم ولو كان الاحتجام يفطر لما فعله وروينا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال ثلاث لا يفطرن الصائم القيء والحجامة والاحتلام

وأما ما روي من الحديث فقد قيل أنه كان ذلك في الابتداء ثم رخص بعد ذلك

والثاني أنه ليس في الحديث إثبات الفطر بالحجامة فيحتمل أنه كان منهما ما يوجب الفطر وهو ذهاب ثواب الصوم كما روي عن ابن عباس رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم مر برجل يحجم رجلا وهما يغتابان فقال أفطر الحاجم والمحجوم أي بسبب الغيبة منهما على ما روي الغيبة تفطر الصائم ولأن الحجامة ليست إلا إخراج شيء من الدم والفطر مما يدخل والوضوء مما يخرج كذا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم.:ج٢ص١٠٧ بدائع الصنائع.

وقوله (إلا إذا أفتاه فقيه) يعني حينئذ لا تجب الكفارة . والمراد به فقيه يؤخذ منه الفقه ويعتمد على فتواه في البلد ، هكذا روى الحسن عن أبي حنيفة وبشر بن الوليد عن أبي يوسف وابن رستم عن محمد رحمهم الله (لأن الفتوى دليل شرعي في حقه) فتصير شبهة (وإن بلغه الحديث) وهو قوله صلى الله عليه وسلم { أفطر الحاجم والمحجوم }.....(ولو أكل بعدما اغتاب متعمدا فعليه القضاء والكفارة كيفما كان) أي سواء بلغه الحديث أو لم يبلغه ، عرف تأويله أو لم يعرف ، أفتاه مفت أو لم يفت (

لأن الفطر بها يخالف القياس والحديث) وهو قوله عليه الصلاة والسلام { الغيبة تفطر الصائم } (مؤول بالإجماع) بأن المراد به ذهاب الثواب فلم يوجد الدليل النافي للحرمة في ذاته فلا يكون شبهة ، بخلاف حديث الحجامة فإن بعض العلماء أخذ بظاهره من غير تأويل.:ج٣ص٣٥٥ العناية شرح الهداية فصل في العوارض.

– الحجامة ، وهي أيضا مما يكره للصائم – في الجملة – وهي استخراج الدم المحقن من الجسم ، مصا أو شرطا .

ومذهب الجمهور أنها لا تفطر الحاجم ولا المحجوم ، ولكنهم كرهوها بوجه عام .

وقال الحنفية : لا بأس بها ، إن أمن الصائم على نفسه الضعف ، أما إذا خاف الضعف ، فإنها تكره ، وشرط شيخ الإسلام الكراهة ، إذا كانت تورث ضعفا يحتاج معه إلى الفطر.:ج٢٨ص٦٩ الموسوعة الفقهية الكويتية.

واختلفوا في الحجامة والقيء . فأما الحجامة فقد رأى أحمد وداود والأوزاعي وإسحاق بن راهويه أنها تفسد الصوم ، وقال المالكية والشافعية بالكراهة ، وقال الحنفية بعدم الإفساد .

والسبب في ذلك هو تعارض الآثار الواردة في ذلك.:ج٢ص٢٨٩ الموسوعة الفقهية الكويتية. :ص١٤٩ زبدة الأحكام.

ووردعن ثابت الناني أنه سأل أنس بن مالك رضي الله عنه أكنتم تكرهون الحجامة للصائم. قال: لا الا من أجل الضعف.:ج٢ص١٧٠ فقه الحسن بصري.

وعن أبي حاضر عن عبد الله ابن عباس أن النبي صلى الله عليه وسلم احتجم وهو صائم محرم بالقاحة محمد عن أبي يوسف عن أبي حنيفة عن أبي العطوف عن الزهري

أن سعد بن مالك وزيد بن ثابت كانا يحتجمان وهما صائمان.: المبسوط للشيباني كتاب الصوم.

(پوښتنه) په حديث مبارک کي راځي چه څوک په دوران دروژې کي ښکر ولګوي اوکوم څوک چې دښکر په ذريعه له بدنه ترې وينه راباسي د دواړو روژه ماته شوه، اوتاپه مسئله کې دا ذکرکړو چې په ښکر(حجامې) لګولوسره روژه نه ماتيږي؟

:**اول جواب**:په پخوا زمانوکې دحجامې لګولوطريقه څه داسي وه چې اول به يې دبدن جلدپه يوه تيره شي سر ييرن ور زخمي کړو اوبيا به يې ښکر په ورولګولو اوپه خوله به يې دځيګر دهوا د را کښولوپه زورسره وينې ترې رايستلي، نو پدي کي دا احتمال شته

چې ددي ويني په راکښولو سره يوڅاڅکى ستوني ته ترې تيره هم شي نوځکه يې دروژې دفساد حکم ودي راکشکونکي شخص ته هم ورکړو.

اوکوم چې په نني عصرکي حجامة لګول کيږي دا دپمپ په ذريعه په کفانوکي وينې دبدن څخه راباسي نوځکه دورلګونکي شخص روژه نه ماتيږي، اوچاچې حجامه ولګوله ددي سړي روژه خونه ماتيږي البته په حجامة لګولو سره سړى ضعيفه کيږي چې بياخوراک کولوته مجبوره کيږي نودي ځکه په حالت دروژې کي حجامة نه لګوي چې بيابه دروژې وخوړلوته مجبوره شي له ضعفه دوينو دکښلوڅخه.

:**دوهم جواب**:داحديث چې «أفطر الحاجم والمحجوم» منسوخ ده

«قال المنذري حديث ابن عباس ناسخ لأن في حديث شداد بن أوس أن النبي قال في عام الفتح في رمضان لرجل كان يحتجم أفطر الحاجم والمحجوم والفتح كان في سنة ثمان وحديث ابن عباس كان في حجة الوداع في سنة عشر فهو متأخر ينسخ المتقدم فإن ابن عباس لم يصحب النبي وهو محرم إلا في حجة الإسلام وفي حجة الفتح لم يكن النبي محرما وقد أشار الإمام الشافعي إلى هذا ومما يصرح فيه بالنسخ حديث أنس بن مالك أخرجه الدارقطني حدثنا عمر بن محمد بن القاسم النيسابوري حدثنا محمد بن خالد بن زيد الراسبي حدثنا مسعود بن جويرة حدثنا المعافي بن عمران عن ياسين الزيات عن يزيد الرقاشي عن أنس بن مالك رضي الله تعالى عنه أن رسول الله احتجم وهو صائم بعدما قال أفطر الحاجم والمحجوم وهذا صريح بانتساخ حديث أفطر الحاجم والمحجوم.:ج۱۱ص۵۸ عمدة القاري ».

:**دريم جواب**:داحديث چې «أفطر الحاجم والمحجوم» په ابتدا داسلام کي هم داسي حکم ؤچې روژه په ماتيدله، خو وروسته بيا دښکر په لګولوکي رخصت ورکړل شو.

:**څلورم جواب**:رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چې په قئ، ښکر لګولو، اوپه احتلام (شيطان بازي)، سره روژه نه ماتيږي.

مسئله که يوسړي پدي ګمان يوه روژه ونيوله چې پر ماقضايئ ديوې روژې وه وروسته ورته معلومه شوه چې قضايئ دروژې راباندې نشته اوسم دستي يئ خوراک ونکړي يوڅه وخت (يوساعت) چې تيرشو بيايئ افطار وکړو نوپدي سړي ديوې ورځې(ددي روژې) قضاء راوړل باندې واجب ده(داهغه وخت چې مخکې تر زواله وي) ځکه چې ده سم دستي خوراک ونه کړو اويوساعت تيرشو داسي شو لکه ددغي ورځې روژې ته چې ده نيت وکړو، اومخکې تر زواله په نيت سره دي په نفلي روژه کي داخل شو.

فلو شرع فيه ظنا أنه عليه تذكر أنه ليس عليه شيء فأفطر فورا فلا قضاء عليه أما لو مضى ساعة لزمه القضاء لأنه يمضيها صار كأنه نوى في هذه الساعة أفاده في البحر والمراد بالساعة القطعة من الزمن وانظر ما لو تذكر أنه ليس عليه ونوى قطعه إلا أنه لم يتعاط مفطرا هل يكون شارعا ومقتضى قولهم أنه بنية الفطر لا يكون مفطرا أنه لا يعد إفطارا أو يكون مشروعا وحرره.:طحطاوي فصل في العواريض.

إذا دخل الرجل في الصوم على ظن أنه عليه ثم تبين أنه ليس عليه فلم يفطر، ولكن مضى عليه ساعة ثم أفطر، فعليه القضاء، لانه لما مضى عليه ساعة صار كأنه نوى في هذه الساعة، فإذا كان قبل الزوال صار شارعا في صوم التطوع فيجب عليه اه.:ج۲ص۲۷۱ شامي.:ج۳ص ۳۷۳ الفتاوي التاتارخانية.

دقضائي روژو ځنډول

(مسئله)سوال: په چاکه درمضان دمیاشتې روژې باقي شوي نو دا قضائي به څه وخت راوړي؟

:جواب: بي بي عائشة رضي الله عنها فرمائي چې په مابه درمضان دمیاشتې روژې پاته باقي شوي (دحیض دوجې) نومابه طاقت نه درلود چې دروژو قضائي راوړم ترڅوچې دشعبان میاشت راشي.

ددي وجې به بي بي عائشة رضي الله عنها قضا نشواي راوړلي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم به په کور حاضرؤ او د ده مبارک خدمتونه به یئ کول.

اوبله خبره داتري ثابته شوه چې ځنډول دقضائي روژې جوازهم لري.

وعن أبي سلمة بن عبد الرحمن أنه سمع عائشةرضي الله عنها تقول إن كان ليكون علي الصوم من رمضان فما أستطيع أن أقضيه حتى يأتي شعبان.: سنن أبي داود.

که نابالغ هلک روژه ماته کړه

(مسئله)سوال: که نابالغ هلک یا انجلۍ فرضي روژه نیولي وه اوبیایې روژه ماته کړه کفاره یا قضاء دروژې پرشته که نه؟

:جواب: که نابالغ هلک یاانجلۍ درمضان المبارک دمیاشتې روژه نیولي وه او دورځې یې دا روژه قصداً وخوړه او روژه یئ ماته کړه، نوقضاء یئ بیاضروري نده، (اوکفاره هم باندې نشته)، ځکه مشقت دي پکښې.

:پاملرنه: که نابالغ هلک یاانجلۍ په لمانځه شروع وکړي بیایئ فاسد کړي دلمانځه قضاء باندې شته، ځکه دلته مشقت دقضاء په کولو کي نشته.

وفي احكام الاستروشني الصبي اذاافسد صومه لايقضي لانه يلحقه في ذلك مشقة بخلاف الصلاة فانه يومر بالاعادة لانه لايلحقه مشقة.: ج۲ص۱۱۷ شامي.

لأن نفل الصبي دون نفل البالغ حتى لا يلزم الصبي القضاء بالإفساد بخلاف البالغ.: ج۲ص۱۰۲ المحيط البرهاني.

په قضاء راوړلو درمضان کې تتابع

(مسئله)سوال: که دیوچاڅخه دیوه رمضان دمیاشتې روژې قضاء شي نوچې کله دروژو قضاء بیاراوړي نومتصلي به یئ سره نیسي اوکه جداجدا نیول ددي روژو

پروا نلري يعني په قضاء روا ړولو درمضان کي تتابع څه حکم لري شرط ده که نه؟

:جواب: درمضان المبارک دقضاء شو روژو قضاء چې راوړي که غواړي جدا جدا دي ونيسي او که غواړي نو پرله پسي دي سره ونيسي ځکه چې سبب د قضاء راوړلو دروژو يو ده چې هغه يوه مياشت ده، نو تتابع او اتصال يعني پرله پسي روژې نيول شرط نه دي بلکي هروخت او هرڅومره قضاء ئي چې راګر ځولای شي صحت لري.

(مسئله) چې په کوم ځای کي عتق درقبه مشروع ده، هلته په روژو کښې تتابع هم شرط ده، او که په کوم ځای کښې عتق رقبه مشروع نه وه نو هلته په روژو کي تتابع هم شرط نده.

(پاملرنه) علامة محمدبن المنکدر وايي ماته داخبره رارسيدلي ده چې دحضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه سوال وشوچې جدا جدا درمضان دروژو قضاء راوړل څه حکم لري؟

حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وويل دا پر وا نلري، او حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وويل که يو ستاسو پوروړي وي بيا دا پور په يوه او دوو درهمنو سره اداء کړي ايا دا پور اداء نشو (اداء شو)!

نو الله جل جلاله حقدار دی پدي سره چې عفوه ورته وکړي اويابخښنه ورته وکړي (په جدا جدا درمضان دروژو په قضاء راوړلوباندې).

:استدراک: ليکن علامه مرغيناني رحمه الله فرمايلي دي چې په قضاء راوړلو درمضان کي تتابع اګرچې واجب نده خو مستحب ضرور ده، ځکه چې دواجب په اداء کولو کښې مسارعت تلوار وشي.

وقضاء رمضان إن شاء فرقه وإن شاء تابعه.:ج۱ص۲۵۰ مجمع الأنهر.

قضاء رمضان وقضاء رمضان إن شاء فرقه وإن شاء تابعه والتتابع أفضل.:ج۱ص۱٤٦ تحفة الملوك.

:ص۷۰۰ امداد الفتاح.

(وقضوا لزوما بلا ولاء على التراخي لاطلاق قوله تعالى فعدة من ايام اخر ولذا جازالتطوع قبله ولوكان الوجوب على الفور لكره.:۳ص٤٦٥ شامي: بدائع الصنائع.:ج۳ص٤۰۷ الفتاوي التاتارخانية.

باب جواز قضاء صيام رمضان متفرقاً وأفضليته متتابعا: وعن محمد بن المنكدر قال: " بلغني أن

رسول الله صلى الله عليه وسلم سئل عن تقطيع قضاء صيام شهر رمضان ، فقال : ذلك إليك ، أرأيت لو كان على أحدكم دين فقضى الدرهم والدرهمين ألم يكن قضاء ؟ فالله أحق أن يعفو – أو يغفر " . ثم قال : إسناده حسن إلا أنه مرسل.:ج٦ص٢٨٨٦ اعلاء السنن.

وقضاء رمضان إن شاء فرقه وإن شاء تابعه لإطلاق النص لكن المستحب المتابعة مسارعة إلى إسقاط الواجب.:ج١ص٢٠٤ الهداية.:ج٢ص١٩٣ فقه الحسن البصري.

قوله (لكن المستحب المتابعة) أي التتابع: العناية شرح الهداية فصل فى العوارض.

(وقضاء رمضان إن شاء فرقه) لإطلاق النص (وإن شاء تابعه) وهو أفضل مسارعة إلى إسقاط الواجب.:ج١ص٢٥٠ مجمع الأنهر.

(ولا يشترط التتابع في القضاء) لإطلاق النص لكن المستحب التتابع وعدم التأخير عن زمان القدرة مسارعة إلى الخير وبراءة الذمة.:ص٦٨٧ طحطاوى.

که يې درمضان دمیاشتې روژې خوړلي وي

(مسئله)سوال:که يې درمضان المبارک دمیاشتې يوڅو روژې خوړلي وي اوبيا يې قضائي راوړي نوپه څه ترتيب سره به دا قضاء راګرځوي؟

:جواب:که يوچا ديوه رمضان المبارک دمیاشتې يوڅو روژې خوړلي وي اوبيا يې قضاء راګرځوله نو په قضاء راوړلوکې دي په اوله روژه کي داولي روژې دقضاء نيت دي وکړي اوپه دوهمه روژه کې دي بيا د دوهمي روژې دقضاء راوړلو نيت وکړي، اوکه يې تعين په قضاء راوړلوکې ونه کړو بيايې هم قضاء صحيح ده، ځکه له يوه جنسه قضاء راوړي چې هغه مياشت درمضان ده اوتعين په يوه جنس کي شرط ندی.

:۱پاملرنه: په فتاوی قاضيخان کي وايي که ديوسړي په زمه د دوو رمضانو قضاء شوي روژې باقي پاته ولي نوچې کله دا سړی قضاء راوړي په قضاء راوړلوکي واي پري واجب ده چې داول رمضان دروژو دتعين نيت به کوي هغه داسي چې دا قضائي روژه زه له اولو روژو داول رمضان دمیاشتې څخه نيسم ځکه چې سبب دقضاء راوړلو دروژو دوه دي چې هغه دوه جلا جلا مياشتې دي، اوبعدکي بيا داهم وايي: که داول رمضان په قضاء راوړلوکې تعين ونکړي پروانه لري روژې يې جائزدي،

اوپه المحیط البرهاني کي وایي چې دقضاء راوړلو په وخت کي واجب ده پرده روژې نیول مطلق (په نیت دقضاء) له هغه قضاء شو روژو څخه.

:۲پاملرنه: اوصاحب دهدایي په التجنیس کي وایي چې بهتره داده چې په قضاء راوړلو کې په اول کې داولي قضاء اوپه دوهمه روژه کې د دوهمي روژې دقضاء نیت وکړي اوکه يې تعین ونه کړو بيایې هم قضاء صحیح ده روژې یه روا شوي(په نیت دقضاء دا روژې جوازلري).

:۳پاملرنه: تعین په نیت کي دقضاء راوړلو او دنه تعین په نیت کي دقضاء را وړلو دا دواړه قولونه دفقهاء کراموصحیح دي، لکن په تعین کي احتیاط ده.

:۴پاملرنه: که دچاڅخه ډېري روژې قضاء شوي وي دشپي څخه دي نیت کوي او داسي نیت دي کوي، چې زماپرذمه چې څومره قضایئ روژې دي دهغوڅخه اوله روژه نیسم.

:۵ پاملرنه: دهري فرضي روژې دقضاء راوړلوسره دي فدیه هم ورکړي دا دامام شافعي رحمه الله قول ده، او داحنافو په مذهب دفرضي قضاء راوړلوسره فدیه ورکول نشته.

لأن سببه الشهر ولذا لو كانا من رمضانين وجب التعيين كذا في فتاوى قاضيخان ثم ذكر في كتاب الصوم وحكى فيه اختلاف المشايخ وصحح أنه يجزئه مع عدم التعيين إذا كانا من رمضانين.:ج ۱ص۲٦۸ فتح القدير.

وإذا وجب عليه قضاء يومين من رمضان واحد ينوي أول يوم وجب عليه وإن لم ينو جاز وإن كانا من رمضانين ينوي قضاء رمضان الأول فإن لم ينو ذلك اختلف المشايخ فيه والصحيح الإجزاء. :ج۲ص۲۹۸ البحرالرائق فصل مايفسدالصوم ومالايفسده.

لأن التعين فى جنس الواحد ليس بشرط،وان كان يومين من رمضانين ينوى قضاء الأول وان لم ينو عند بعض المتأ خرين لايجزيه والمختار أن يجزيه.:ج۲ص۳٦۷ التجنيس.

ومن أصبح صائماً، ينوي قضاء يومين من رمضان واحد أجزأه عن أحدهما لأنه اتحد الجنس، والتعين في الجنس الواحد ليس بشرط.:ص۱۳۵ مظهرالأنوار.

قوله (من رمضانين) وأما إذا كان من رمضان واحد فلا يحتاج إلى التعيين إتفاقا حتى لو كان عليه

قضاء يومين من رمضان واحد فقضى يوما ولم يعين جاز لأن السبب في الصوم واحد وهو الشهر فالواجب عليه إكمال العدد وفي الأشباه عن الفتح من الصوم ولو وجب عليه قضاء يومين من رمضان واحد الأولى أن ينوي أول يوم وجب عليه قضاؤه من هذا الرمضان وان لم يعين جاز وكذا لو كانا من رمضانين على المختار حتى لو نوى القضاء لا غير جاز اه.:ص٤٤٦ طحطاوي.

اذاكان عليه قضاء يومين من رمضان واحدفاراد القضاء ينبغي ان ينوي اول يوم وجب عليه قضاؤه من هذاالرمضان اواخريوم وجب عليه قضاؤه وان لم يعن اليوم ونوى قضاء الرمضان لاغير يجزيه سواء كان عن رمضان واحد اوعن رمضانين وفي الفتاوى الخلاصة وهوالمختارولونوي القضاء ولم يعين اول الشهر اواخره اولم يعين رمضان اجزاه.:٢ص٩٩ الفتاوي التاتارخانيه.

فإن من عليه قضاء يومين من رمضان لا يجب عليه التغيير عند القضاء، بل يجب عليه الصوم مطلقاً بعدد الواجب.:ج٤ص٣٥ المحيط البرهاني.

اذا اوجب عليه قضاء يومين من رمضان ينوى في القضاء أول يوم عليه وان لم ينو أجزأه لأن الجنس واحد لكونها من رمضان واحد والتعين فى مثله ليس بشرط وان كان من رمضانين فمن لم يعين كما قلنا عند بعضهم لايجزئه والمختار أنه يجزئه.:ص٥٢ الفتاوى الغياثية.

وإذا وجب عليه قضاء يومين من رمضان واحد ينوي أول يوم وجب عليه ، وإن لم ينو جاز ، وإن كانا من رمضانين ينوي قضاء رمضان الأول ، فإن لم ينو ذلك اختلف المشايخ فيه والصحيح الإجزاء.: البحر الرائق باب مايفسدالصوم ومالايفسده.

إذا وجب عليه قضاء يومين من رمضان واحد ينبغي أن ينوي أول يوم وجب عليه قضاؤه من هذا الرمضان ، وإن لم يعين الأول يجوز ، وكذا لو كان عليه قضاء يومين من رمضانين هو المختار ، ولو نوى القضاء لا غير يجوز ، وإن لم يعين كذا في الخلاصة.:ج١ص١٩٦ الفتاوى الهندية.

ومن فروع النية أن الأفضل من الليل في الكل ولو وجب عليه قضاء يومين من رمضان واحد الأولى أن ينوي أول يوم وجب علي قضاؤه من هذا الرمضان وإن لم يعين الأول جاز وكذا لو كانا من رمضانين على المختار حتى لو نوى القضاء لا غير جاز.: تبيين الحقائق كتاب الصوم.:ج٣ص ٣٧٢ الفتاوي التاتارخانية.

وإن جاء الرمضان الثاني ، ولم يقض الأول قدم الأداء على القضاء كذا في النهر الفائق .:ج١ص٢٠٧ص٢٠٨هندية.

(و) لو جاء رمضان الثاني (قدم الأداء على القضاء) ولا فدية لما مر خلافا للشافعي

الشرح:

(قوله قدم الأداء على القضاء) أي ينبغي له ذلك، وإلا فلو قدم القضاء وقع عن الأداء كما مر نهر.

قلت : بل الظاهر الوجوب لما مر أول الصوم من أنه لو نوى النفل أو واجبا آخر يخشى عليه الكفر تأمل (قوله لما مر) أي من أنه على التراخي (قوله خلافا للشافعي) حيث وجب مع القضاء لكل يوم إطعام مسكين.: ج٢ص١١٧ شامی.

ولنا أن الله تعالى أمر بالقضاء مطلقا ، والأمر المطلق لا يوجب الفور بل على التراخي ، ولهذا لو تطوع جاز بالاتفاق ، ومذهبنا مروي عن علي وابن مسعود رضي الله عنهما .: العناية شرح الهداية فصل فی العوارض.

(وإن أخره حتى دخل رمضان آخر صام الثاني)، لأنه وقته حتى لو نواه عن القضاء لا يقع إلا عن الأداء، كما تقدم (وقضى الأول بعده) لأنه وقت القضاء (ولا فدية عليه) لأن وجوب القضاء على التراخي حتى كان له أن يتطوع.: هداية.: اللباب في شرح الكتاب كتاب الصوم.

که درمضان قضائي روژه فاسده کړي

(مسئله) سوال: که درمضان دمیاشتې دروژې قضاء بل وخت چارا وړه او دا قضائي روژه ترې فاسد شوه نو ایا قضا دیوې روژې به بیارا وړي او که کفاره هم باندې اوړي؟

جواب: القول الأول: که په نفلي روژه کې څوک جماع وکړي او که په کفاره ادا کولو د جماع دروژو کې څوک جماع وکړي نو په اتفاق دفقهاء کرامو کفاره باندې نشته.

داختلاف صورت یئ داده: که غیر درمضان دمیاشتې ماسیوا بل وخت یونفر قضائي روژه درمضان دمیاشتې اونیسي، اویانذری روژه اونیسی، اوپه قصداً سره ئي داقضائي روژه فاسده کړه نوپه روژتي باندې کفاره نده واجب مطلقاً دا قول: دالحنفية ، والمالكية ، والشافعية ، والحنابلة ده، ځکه چې په رمضان المبارک کي روژه ماتول ډېرلوې جرم دی نو هلته ځکه کفاره په لازمیږي.

اول: درمضان په میاشت کي په قصداً سره په روژه خوړلو ځکه کفاره لازمه ده چې په نص (ایات او حدیث) دا کفاره ثابته ده.

:دوهم: جنایت علي الصوم دي.

:دریم: جنایت علی الشهر رمضان دي.

نو که ماسیوا درمضان دمیاشتې، بل وخت ثوک درمضان قضائي روژه، اداکوي او دا قضائي روژه ماته کړي یائي فاسده کړي کفاره باندې نشته، ځکه ددي جرم کم دی په نسبت درمضان ومیاشتې ته.

القول الثاني د قتادة ده: دی وایي که چا درمضان دمیاشتې قضائي روژه فاسده کړه چې جماع پکې وکړي نو کفاره باندې واجب ده، وبه قال قتادة، ځکه قضاء درمضان عبادت ده او کفاره په فساد د ادا کې هم پرې لازمیږي لکه حج قضایئ چې فاسد کړي بیا حج پرې لازم ده.

القول الثالث داده: تجب الكفارة على من أفطر عامدا في نذر صوم الدهر كله . وإليه ذهب سحنون ، وابن الماجشون من المالكية .

(وليس في إفساد صوم غير رمضان كفارة) لأن الكفارة في إفطار صومه وجبت بالنص على خلاف القياس فلا قياس ، وليس غيره في معناه (لأن الإفطار في رمضان أبلغ في الجناية) لكونها جناية على الصوم والشهر جميعا وغيره جناية على الصوم وحده لأن الوقت غير متعين لذلك.:ج٣ص٣٠٢ العناية شرح الهداية باب ما يوجب القضاء والكفارة.

وجوب الكفارة بالجماع في صوم غير رمضان – لا خلاف بين الفقهاء في عدم وجوب الكفارة على من جامع في صوم التطوع ، أو في صوم هو كفارة الجماع .

وإنما الخلاف بينهم في وجوبها على من جامع في صوم قضاء رمضان ، أو صوم النذر ، على ثلاثة أقوال :

القول الأول: لا كفارة عليه مطلقا . وإليه ذهب الحنفية ، والمالكية ، والشافعية ، والحنابلة.

القول الثاني: وجوب الكفارة على من أفسد قضاء رمضان بالجماع ، وبه قال قتادة.

واستدل على وجوب الكفارة على من جامع في قضاء رمضان بالمعقول فقال: إن قضاء رمضان عبادة تجب الكفارة في أدائها ، فوجبت في قضائها كالحج.

القول الثالث: تجب الكفارة على من أفطر عامدا في نذر صوم الدهر كله . وإليه ذهب سحنون ، وابن الماجشون من المالكية.

واستدلوا بأنه لما أفطر متعمدا فيما لا يجبر بقضاء ، أشبه الفطر في رمضان متعمدا ، فإنه لا يجبر بقضاء ، إذ قد جاء فيه أنه لا يقضيه بصيام الدهر وإن صامه.:ج٣٥ص٦٦ الموسوعة الفقهية الكويتية.

که یو سړي دقضاء په نیت روژه ونیوله

(مسئله) که چېرې یوه سړي د قضاء په نیت روژه ونیوله وروسته ورته معلومه شوه چې قضاء روژه ورباندې نشته نو بهتره ورته داده چې دغه روژه دې پسې ونیسي او نه دې خوري او دغه روژه دده نفلي شوه، او که یې وخوړه(مخکې له زواله سم دستي دیا دیدلو سره) نو قضاء د روژې ورباندې نشته.

رجل أصبح صائما ينوي قضاء رمضان ثم علم أنه ليس عليه شيء منه فالأحسن له أن يتم صومه تطوعا وإن أفطر لم يلزمه شيء.: ج٣ص٩٠ المبسوط.

یوسړی نفلي روژه ونیسي

(مسئله) که یوسړی نفلي روژه ونیسي بیا سهار اویاغرمه ووایي چې دغه روژه مې دقضاده نو دقضاء په ځای دانه دریږي بلکې روژه دده نفلي شوه، دقضائي روژې لپاره ضروري ده چې له سپیدو وړاندې به داروژتي شخص نیت دقضاء د روژې وکوي.

وإذا نوى الصوم للقضاء بعد طلوع الفجر حتى لا تصح نيته عن القضاء يصير شارعا في التطوع فإن أفطر يلزمه القضاء كذا في الذخيرة.: ج١ص١٩٧ هندية.

(مسئله) ولو كان عليه قضاء يوم، فصام يوماً، ونوى به قضاء رمضان، وصوم التطوع أجزأه عن رمضان عند أبي يوسف، وقال محمد: لا يجوز عنه ويكون تطوعاً؛ لأن بين النيتين تنافياً في أن من نوى النفل أو القضاء، ثم نوى الآخر في الليل انتقض الأول بالثاني، فبطلت عند التعارض، والصوم لا يتأدى بدون النية.: ج٥ ص٣ المحيط البرهاني.

دقضاء په روژو کې دقضاء نیت کول

(مسئله) د قضاء رمضان په روژو کې د قضائي روژې نیت کول ضروري ده، نو که چېرې یو نفر روژه ونیسي د قضاء رمضان او د نذري روژې د دواړو نیت وکړي نو دغه روژه یې د رمضان المبارک د قضائي ځخه استحسانا بلل کیږي.

فإذا نوى عن قضاء رمضان والنذر كان عن قضاء رمضان استحسانا.: ج١ص١٩٦ هندية.

که یوتن دروژې په نیولو کې دقضاء نیت وکړو

(مسئله) که یو نفر د روژې په نیولو کې د رمضان المبارک د قضاء نیت او دظهار

دكفارې د دواړو نيت سره وكړي نوبياهمدغه روژه دقضاء رمضان څخه شمارل كيږي همدا راز كه دقضاء رمضان اودنفلي روژې نيت سره وكړي نودقضاء درمضان څخه دا روژه د ده واقع كيږي.

ولو نوى قضاء رمضان وكفارة الظهار كان عن القضاء استحسانا وإذا نوى قضاء بعض رمضان والتطوع يقع عن رمضان في قول أبي يوسف رحمه الله تعالى وهو رواية عن أبي حنيفة رحمه الله تعالى كذا في الذخيرة.:ج۱ص۱۹۷ الهندية.

كه دقسم دكفارې دقضاء نيت وكړي

(مسئله) كه دقسم دكفارې اودرمضان المبارک دقضائي روژې نيت وكړي نويوه روژه يې هم صحت نلري په نزد دامام ابي يوسف رحمه الله ځكه دا دواړه تعارض سره لري، اوپه نزد دامام محمد رحمه الله دغه روژه يې نفل وګرزيدله، اصل نيت ئي باطل نده، او اصل نيت يې دنفلو لپاره كافى ده.

ولو نوى صوم القضاء، وكفارة اليمين لم يكن عن واحد منهما عند أبي يوسف للتعارض، وعند محمد لمكان القضاء بين النيتين، ولكن يصير متطوعاً؛ لأنه لم يبطل أصل النية، وأصل النية يكفي للتطوع. :ج۵ص۳ المحيط البرهاني.:ج۱ص ۱۹۷ الهندية.

دروژې قضاء به په شمار د ورځو بيا راوړي

(مسئله) دروژې قضاء به په عدد دايامو راوړي كه مياشت دېرش ورځې تري قضاء شوي وه نو دير ش ورځې به قضاء په ورځو دروژو راوړي اوكه نه ويشت ورځې مياشت وه نو نه ويشت ورځې به قضاء دروژو بيا راوړي.

وقد علم من هذا أن من فاته رمضان وكان ناقصا يلزمه قضاؤه بعدد الأيام ، لا شهر كامل ولهذا قال في البدائع قالوا فيمن أفطر شهرا بعذر ثلاثين يوما ثم قضى شهرا بالهلال فكان تسعة وعشرين أن عليه قضاء يوم آخر ؛ لأن المعتبر عدد الأيام التي أفطر فيها دون الهلال ؛ لأن القضاء على قدر الفائت.: البحر الرائق اقسام الصوم.:ج۲ص۵۸۰ بدائع الصنائع.

كه يومسلمان سړى مرتد شي او بيا اسلام راوړي

(مسئله)سوال:كه يو مسلمان مرتد شي اوڅو كاله په كفركي تيركړي اوس يې بيا اسلام راوړى نودتير شوكلونو دروژو قضاء راګرځول باندې واجب ده كه نه؟

:جواب:که يو مسلمان نعوذبالله مرتدشي اوڅوکاله په کفرکي تيرکړي اوبيا اسلام راوړي نوپدي مرتدمسلمان شوي دتيرشوکلونو دروژو قضاء راګرځول باندي نشته.

(پوښتنه)پدامرتد خوبايد دروژې په خوړلوسره کفاره واجب شوي وای؟

:جواب:په مرتدځکه کفاره دروژې په خوړلونه واجب کيږي چې ده داسلام بی حرمتي کړي، اودروژې دمياشتې بالخصوص بی حرمتي خويه نده کړي.

فلا كفارة في الإفطار في غير رمضان ، ولا كفارة على الناسي والمكره – عند الجمهور – ولا على النفساء والحائض والمجنون ، ولا على المريض والمسافر ، ولا على المرهق بالجوع والعطش ، ولا على الحامل ، لعذرهم ،ولا على المرتد ، لأنه هتك حرمة الإسلام ، لا حرمة الصيام خصوصا.:ج۲۸ص۷۸ الموسوعة الفقهية الكويتية.

که ښځې روژه وخوړه چې حيض راغلي اوهغه حيض نه وو

(مسئله)سوال:که ښځه دفرضی روژو په دوران کي دورځې دخپل رحم څخه وينې ووينې او دا ګمان وکړي چې حيض راغلي اوروژه يئ وخوړه وروسته معلومه شوه چې حيض ندی، نوپدي صورت کي پرښځه څه حکم دی اياکفاره باندې شته که نه ؟

:جواب:که چيرې يوه ښځه (ياحامله ښځه) دفرضی روژې په دوران کي دورځې دخپل رحم څخه وينې ووينې او دا ګمان وکړي چې حيض راغلي او روژه يئ هم وخوړه خو وروسته معلومه شوه چې هغه وينې دحيض نه وي عاريضي وينې وي، نوپدي صورت کي پرښځه دروژو کفاره نشته.

:پاملرنه: ولوکه دا راغلي وينې په ايامومعلومو دبي بي دحيض کې وي اويا په ايامو غيرمعلوموکي وي حکم يې يودی چې کفاره باندې نشته، ځکه په خطا اوشبهي سره دا ښځې روژه وخوړه اوپه خطاء سره کفاره نه لازميږي.

سئل الفضل الكرمانى عن امرأة رأت الدم فى أيام رمضان فظنت أنها حيض وأفطرت فلم يكن حيضا هل تلزمها الكفارة وهل تغيرت الحال بين ماإذا كان من أيام حيضها وبين ما إذا لم يكن ؟ فقال لا.:ج۳ص ۳۹۲ الفتاوى التاتارخانية.

فأورث شبهة وهذه الكفارة تندريء بالشبهات لأنهاألحقت بالعقوبات باعتبار أن معنى العقوبة فيها

أغلب بدليل عدم وجوبها على المعذور والمخطىء.:ج٢ص٢٨٦ البحر الرائق كتاب الصوم.:ج٢ ص٣٢١ فتح القدير.

حامل رأت الدم فظنت أنه دم الحيض فأفطرت ينبغي أن لاتلزمها الكفارة.:ص٣٦٨ مظهر الأنوار.

که ښځې پدي ګمان روژه وخوړه چې نن ورځ زما دحیض د راتللو ده

(مسئله) که یوې ښځې نیت وروژې ته کړي ؤو خوپه ورځ کښې یې فرضي روژه پدي ګمان بیاوخوړه چې نن ورځ خو زما دحیض دراتللو ورځ ده زه به اول روژه وخورم، خوبیاورته پکښې حیض ودي ښځې ته ورنشي نوپدي ښځې باندې قضاء اوکفاره دروژې دواړه باندې واجب دي.

دلیل داده: چې دي ښځې پداسي ګمان سره روژه وخوړه چې هیڅ داباحت شبهه ورته نه وه.

:پاملرنه: داحکم دکفارې پدي ښځې هلته دی چې دي بي بي دشپې څخه دروژې نیولونیت کړي وي اوبیاله طلوع الفجره وروسته روژه وخوري اوکه دي بي بي دروژې نیولو نیت نه وه کړی پدي ورځ کښې وروژې ته بیاکه خوراک وکړي نوکفاره باندې نشته صرف قضاء دروژې به راوړي.

لمرأة إذا أفطرت على أنه يوم الحيض ثم إنها لم تحض في يومها ذلك الأظهر أن عليها الكفارة لوجود الافطار في يوم ليس فيه شبهة الأباحة ، قال مولانا رحمه الله هذا اذانوي الصوم ثم أفطر بعد طلوع الفجر فان لم ينوي الصوم في ذالك اليوم كان عليه القضاء دون الكفارة.:ج١ص٢٠٧ هندية .:ج١ص٩٧ قاضي خان.

وإذا أفطرت على ظن أنه يوم حيضها فلم تحض ألأ ظهر وجوب الكفارة كما لو أفطر على ظن أنه يوم مرضه أو أفطر بعد إكراهه على السفر قبل أن يخرج ثم عفي عنه.:ج٢ص٢٩٨ البحر الرائق.

إذا حسبت المرأة أن هذا اليوم يوم حيضها، فأفطرت فيه، ثم لم تحض، أو كان لها نوبة حمى، ففطرت فلم تصم في ذلك اليوم أجمعوا أن في فصل الحمى تجب الكفارة، وفي فصل الحيض اختلاف المشايخ، والصحيح أنه تجب.:ج٢ص٦٦١ المحيط البرهاني.

دروژتي حاملي ښځې که وینه جاری شوه

(مسئله) که ښځه حامله وه دروژې په میاشت کې او دي ښځې روژه نیولي وه خو

پدي حالت دروژې کې ورته وینه راشي بغیر له ولادته (عیال یې نه وي پیداء شوي) نوپدي صورت کې ددي ښځې داوینه نه حیض ده اونه نفاس ده، بلکه دا استحاض اومرض ده لهذا داښځه دي روژه نیسي او دا وینه روژه د دي ښځې نه فاسده وي.

اوهغه وینه چې دولد درا وتلو څخه مخکې راووځي او یا دولد دلږ راوتلوسره راووځي پدي سره روژه فاسدیږي.

الحنفية قالوا: إن الدم الذي يخرج عند خروج أكثر الولد هو دم نفاس كالدم الذي يخرج عقب خروجه أما الدم الذي يخرج بخروج أقل الولد أو قبله فهو فساد ولا تعتبر نفساء وتفعل ما يفعله الطاهرات.:ج١ص١٣١ الفقه على المذاهب الأربعة.

(مسئله) که د حاملي ښځې تولد پر اپریشن وشو او د فرج څخه د دي وینه نه لاړه نو دا ښځه نفاسه نده، خو پدارنګه تولد سره د دي ښځې عده ختم شوه.

ولو شق بطن المرأة ولو خرج منها الولد فإنها لاتكون نفساء وإن انقضت به العدة أما السقط فإن ظهر بعض خلقه.:ج١ص١٣١ الفقه على المذاهب الأربعة.

:مسئله: ظنته دم الحيض ولم تكن لايلزمها الكفارة سواء رات فى ايام الحيض اولا.:ص١٠٥ قنية.

وحملداري ښځي ته دفرضی روژې خوړل

(مسئله) وحملداري ښځي ته دفرضی روژې خوړل جوازلري، پدي شرط که دا ښځه پخپل ځان یاپخپل بچي سره دضررڅخه بیریدله(خواه داګمان ددي بیادواقعي مطابق سي یانه) اویا دښځي په عقل کې دګډوډ یدلو اندیښنه وي.

دامام اعضم ابوحنيفة رحمه الله او دیوڅه نورو علماؤ مسلک دا ده: چې داحامله یامرضعه دي بیابعدکې صرف قضاء دروژو راوړي.

امام شافعي او امام احمد رحمهم الله تعالی وايي: چې پداسي صورت کې به قضاء هم راړي او فدیه به هم ورکوي.

امام مالک او حضرت لیث رحمهم الله تعالی مسلک دا ده: چې حامله به بیا بعدکې صرف قضاء دروژو راوړي اوفدیة باندې نشته، اومرضعه به قضاء هم راړي اوفدیه به هم ورکوي.

امام اسحاق رحمه الله وايي: چې د داسي ښځي پرذمه فدية دطعام ده اوقضاء باندې نشته.

عن أنس بن مالك (رجل من بني عبد الله بن كعب)قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن الله تعالى وضع عن المسافر الصوم وشطر الصلاة وعن الحامل أو المرضع الصوم أو الصيام والله.:سنن ترمذي.

وعن أبي قلابة عن رجلٍ ، قال : أتيت النبي صلى الله عليه وسلم لحاجة ، فإذا هو يتغدى ، فقال : هلم إلى الغداء ، فقلت : إني صائم ، ثم قال : هلم أخبرك على الصوم ، إنه وضع عن المسافر نصف الصلاة والصوم ، ورخص للحبلى والمرضع.: السنن الكبرى للإمام النسائي.

(وحَامِلٌ أَوْ مُرْضِعٌ خَافَتْ على نَفْسِهَا أَوْ ولدِها) لقوله: «إِنَّ اللهَ وَضَعَ عن المُسَافِرِ الصومَ وشَطْرَ الصلاة، وعن الحُبْلَى والمُرْضِعِ الصومَ».:شرح الوقاية.

قال الطيبي وإنما ذكر عن المسافر بعد الصوم ليصح عطف عن المرضع عليه لأن شطر الصلاة ليس موضوعا عن المرضع وعن المرضع ولم تدخله التاء للاختصاص مثل حائض والحبلى لكن يقضيان ولا فدية عليهما عندنا وقال الشافعي وأحمد يجب عليهما الفدية وقال مالك يجب على الحامل دون المرضع كذا نقله ابن الملك وقال الطيبي عند الشافعي أن أفطرتا خوفا على أنفسهما قضتا ولا فدية وإن خافتا على الولد فعليهما الفدية أيضا كما في الكفارات اه ولنا أن الفدية ثبتت في الشيخ الفاني على خلاف القياس فلا يلحق به غيره.:مرقاة.

(قوله أو حامل) هي المرأة التي في بطنها حمل بفتح الحاء أي ولد ، والحاملة التي على ظهرها أو رأسها حمل بكسر الحاء نهر (قوله أو مرضع) هي التي شأنها الإرضاع وإن لم تباشره ، والمرضعة هي التي في حال الإرضاع ملقمة ثديها الصبي نهر عن الكشاف (قوله أما كانت أو ظئرا) .

أما الظئر فلأن الإرضاع واجب عليها بالعقد ، وأما الأم فلوجوبه ديانة مطلقا وقضاء إذا كان الأب معسرا أو كان الولد لا يرضع من غيرها ، وبهذا اندفع ما في الذخيرة ، من أن المراد بالمرضع الظئر لا الأم فإن الأب يستأجر غيرها بحر ونحوه في الفتح .

وقد رد الزيلعي أيضا ما في الذخيرة بقول القدوري وغيره إذا خافتا على نفسهما أو ولدهما إذ لا ولد للمستأجرة وما قيل إنه ولدها من الرضاع رده في النهر بأنه يتم أن لو أرضعته والحكم أعم من ذلك فإنها بمجرد العقد لو خافت عليه جاز لها الفطر .ا هـ .

وأفاد أبو السعود أنه يحل لها الإفطار ولو كان العقد في رمضان كما في البرجندي خلافا لما في صدر الشريعة من تقييد حله بما إذا صدر العقد قبل رمضان.:ج٣ص٤٦٣ شامي.:ج٥ص٣٨٢ معارف

السنن.:ص١٩٣ فضائل ومسائل رمضان لمفتي زين العابدين.

(قوله وقضوا) أي من تقدم حتى الحامل والمرضع .

وغلب الذكور فأتى بضميرهم ط (قوله بلا فدية) أشار إلى خلاف الإمام الشافعي رحمه الله تعالى حيث قال : بوجوب القضاء والفدية لكل يوم مد حنطة كما في البدائع.:شامی.

(ومنها حبل المرأة ، وإرضاعها) الحامل والمرضع إذا خافتا على أنفسهما أو ، ولدهما أفطرتا وقضتا ، ولا كفارة عليهما كذا في الخلاصة .:ج١ص٢٠٧ هندية.

كه حائضه ښځه په دوران كي دحيض دشپې نيت دروژې وكړي

(مسئله) كه حائضه يانفاسه ښځه په دوران دحيض يادنفاس كې دشپې نيت دروژې وكړي اوله سپېدولې مخكې له حيض يانفاس څخه پاكه شوه، نو ددي په مسئله كې دا لاندينی تفصيل پكښې شته دی:

:اول:كه دي ښځې مكملې لس ورځې حيض تيركړي ؤو، نو اوس چې له سپېدو لې مخكې له حيض څخه پاكه شوه، خواه دغسل كولو موقع دي ته پدا اخري وخت كي پيدا شوی وي اوكه نه وي ورته پيدا شوي بهرحال دا ښځه درارواني ورځ روژه نيولی شي(روژه يې ددغي ورځې صحيح ده، ولوكه دصبح صادق څخه بعدكي دحيض څخه غسل وكړي، اودوهم واري نيت دروژې ته يې ضرورت نشته، اولني نيت دشپې يې كافی ده).

:دوهم:كه ښځې له لسو ورځوكم حيض تيركړي ؤو، نواوس به كتل كيږي چې دا ښځه مخكې ترسپېدو دغسل كولو موقع درلوده كه نه؟

كه دي ښځې دومره وخت پيداكړی ؤ چې غسل يې پكښې كړی وای، ولوكه دسپيدو دراختلو سره دغسله فاريغه هم شي نوپدي ښځه درارواني ورځې روژه نيول ضروري ده.

اوكه دي ښځې مخكې ترسپېدو دغسل كولو موقع نه درلوده ګوياچې عين دصبح صادق په وخت پاكه شوي وه، ياوروسته، نو اوس پدي ښځه درارواني ورځې روژه نيول ضروری(جائز) نده بلكه بعدكې به بيا دا ښځه د دي ورځې دروژې قضائی راوړي.

ولو طهرت ليلا صامت الغد إن كانت أيام حيضها عشرة ، وإن كانت دونها فإن أدركت من الليل مقدار الغسل وزيادة ساعة لطيفة تصوم وإن طلع الفجر مع فراغها من الغسل لا تصوم ؛ لأن مدة الاغتسال من جملة الحيض فيمن كانت أيامها دون العشرة كذا في محيط السرخسي .:ج١ص٢٠٧ الفتاوى الهندية.

ولو نوت المرأة في الحيض ثم طهرت قبل الفجر صح صومها كذا في السراج الوهاج.:ج١ص١٩٧ الفتاوى الهندية.

ولو نوت المرأة في الحيض ليلا ثم طهرت قبل الفجر صح صومها.:٢ص١٦ الجوهرة النيرة.

فمن أصبح جنبا ولم يتطهر، أو امرأة حائض طهرت قبل الفجر، فلم يغتسلا إلا بعد الفجر، أجزأهما صوم ذلك اليوم.:ج٣ ص٥٠ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.:ص٤٤٢ مظهر الأنوار.

قوله: (ولو نوى الحائض والنفساء) قبل نصف النهار إذا طهرتا فيه.

قوله: (لم يصح أصلا) أي لا فرضا ولا نفلا.شرنبلالية.

قوله: (للمنافي الخ)أي فإن كلا من الحيض والنفاس مناف لصحة الصوم مطلقا، لان فقدهما شرط لصحته، ولا صوم عبادة واحدة لا يتجزى، فإذا وجد المنافي في أوله تحقق حكمه في باقيه، وإنما صح النفل ممن بلغ أو من أسلم على قول بعض المشايخ لان الصبا غير مناف أصلا للصوم، والكفر وإن كان منافيا لكن يمكن رفعه، بخلاف الحيض والنفاس.

هذا ما ظهر لي، وعلى قول أكثر المشايخ لا يحتاج إلى الفرق.:ج٢ص٤٠٩ شامي.

(پوښتنه) حيض خومنافی دروژې وي نوڅنګه دحائضي ښځې نيت وروژې ته صحيح شو؟

:جواب: حيض اونفاس که څه هم منافی دصحت دروژې ده مطلقاً ليکن حيض اونفاس دنيت منافی نده، نوځکه دحائضي نيت صحت لري وروژې ته.

واعلم أن الحيض وان كان منافياً للصوم لكنه لاينافي النية، حتى لو نوت المرأة في الحيض ثم طهرت قبل الفجر صح صومها كذا في السراج الوهاج.:ص٤٤٤ مظهر الأنوار.

(قوله : للمنافي إلخ) أي فإن كلا من الحيض والنفاس مناف لصحة الصوم مطلقا ؛ لأن فقدهما شرط لصحته والصوم عبادة واحدة لا يتجزأ ، فإذا وجد المنافي في أوله تحقق حكمه في باقيه ، وإنما صح النفل ممن بلغ أو من أسلم على قول بعض المشايخ ؛ لأن الصبا غير مناف أصلا للصوم ، والكفر وإن كان منافيا لكن يمكن رفعه بخلاف الحيض والنفاس هذا ما ظهر لي وعلى قول أكثر المشايخ لا

يحتاج إلى الفرق.:شامي.

كه په نفلي روژه كي ښځه حائضه شي

(مسئله)سوال: كه ښځه نفلي روژه شروع كړي بيا ورته حيض راشي ايا د دي روژي قضاء به راوړي كه نه؟

:جواب: نفلي روژه وي اوكه فرضي روژه چې ښځه شروع په وكړي بيادي ته په حالت دروژي كي دورځې ورته حيض راشي، روژه يې فاسده شوه، خوراك اوڅښل ورته روادي.

په الباب، اوپه نور الايضاح كتابوكي وايي: چې خوراك دي وروسته دحيض له راتګه كوي، اوباقي ورځ دي تشبيه دا له روژتيانو سره هم نه كوي ځكه دحيض په حالت كي روژه حرامه ده نو له روژتيانو سره تشبه هم ورته حرامه ده، خوددي نفلي يا فرضي روژې قضاء بيابانديې راوړل لازم ده كله چې وروسته له حيضه پاكه شي، اوكه په حالت دروژي كي دورځې ښځه دحيضه پاكه شوه بيادي باقي ورځ خوراك نه كوي اوتشبيه دي له روژتيانوسره كوي.

:پاملرنه: كه ښځې په نفلي لمانځه شروع وكړه اوپه دوران ددي لمانځه كښې ورته حيض راغلي، لمونځ فاسدشو، ليكن چې كله له حيضه پاكه شي بيابه د دي نفلي لمانځه قضاء راوړي، اودا اصح قول دی، اوكه لمونځ فرضي ؤو بيا دا فرضي لمونځ معاف ده د دې قضاء باندې نشته.

إذا شرعت في صوم النفل ثم حاضت يلزمها القضاء احتياطا. هكذا في الظهيرية.:ج١ص٣٨ هندية.

ومن دخل في صوم التطوع ثم أفسده قضاه كذا في الهداية سواء حصل الفساد بصنعه أو بغير صنعه حتى إذا حاضت الصائمة المتطوعة يجب القضاء في أصح الروايتين.:ج١ص٢١٥ هندية.

وإذا أدركها الحيض بعد شروعها في التطوع كان عليها قضاء تلك الصلاة إذا طهرت ا هـ وكذا إذا شرعت في صوم التطوع ثم حاضت فإنه يلزمها قضاؤه فلا فرق بين الصلاة والصوم،ذكره في فتح القدير من الصوم وكذا في النهاية وكذا ذكره الأسبيجابي هنا فتبين أن ما في شرح الوقاية من الفرق بينهما غير صحيح.:ج١ ص٢١٥ البحر الرائق باب الحيض.

إذا حاضت في الوقت أو نفست سقط فرضه بقي من الوقت ما يمكن أن تصلي فيه أو لا.

هكذا في الذخيرة . لو افتتحت الصلاة في آخر الوقت ثم حاضت لا يلزمها قضاء هذه الصلاة بخلاف التطوع.:ج١ص٣٨ هندية.

(وإذا حاضت المرأة) أو نفست (أفطرت وقضت) وليس عليها أن تتشبه حال العذر؛ لأن صومها حرام، والتشبه بالحرام حرام.:ج١ص١٦١ اللباب في شرح الكتاب المؤلف: عبد الغني الغنيمي الدمشقي الميداني.

فصل يجب الإمساك أي تشبها لقضاء حق الوقت قوله (ولو بعذر ثم زال) كقتال عدو وحمى زالا قوله (وعلى حائض ونفساء طهرتا) وأما في حالة تحقق الحيض والنفاس فيحرم الإمساك لأن الصوم منهما حرام والتشبه بالحرام حرام وكذلك لا يجب الإمساك على المريض والمسافر لأن رخصة الإفطار في حقهما باعتبار الحرج ولو ألزمناهما لتشبه لعاد الشيء على موضوعه بالنقض ولكن لا يأكلون جهرا بل سرا كذا في الشرح.:ص٦٧٨ طحطاوي.

دحيض د بندولو لپاره دواخوړل

(مسئله) سوال: بعضي ښځې دروژې په مياشت کي دحيض دبندولو لپاره ګولى اونور قسم دواګاني خوري دا ددي لپاره خوري چې دورځې لخواروژې ښي ساليمي ونيسي اوپه دوران دروژوکي ورته حيض رانشي داصورت جواز لري که نه؟

:جواب: چې ترڅو دښځې دحيض وينې رانشي نو داښځه پاکه ده ولوکه داښځه ددوا دخوراک په ذريعه پاکه ګرځي روژې به نيسي لمونځونه به کوي، اوپه وروسته کي بيا قضاء هم باندې نشته، يعني هغه روژه اولمونځونه يې صحيح دي.

:پاملرنه: که چېرې دا دحيض دبندولو دوا صحت ته تاوان رسوي بيا د دا قسم دوا استعمالول حرام عمل دى، په حيض کي الله تعالى جل جلاله ډېر زيات حکمتونه اېښي دي، دمثال په توګه:

:**اول**: حيض دنوي طب اودزاړه طب دمعلوماتو څخه دښځولپاره دصحت اودتندر ستي نښه (علامه) ده، نوکومه ښځه که دحيض دبندولو لپاره دوا استعماله وي، نوددي ښځې تندرست والى اوصحت به يئ تاواني شي، دمثال په ډول په معده کښې يې سوي، اوزخم هم پيداکيږي.

:**دوهم**: دحيض دبندولو دوا به ځکه نخوري چې دحيض دوينوسره دښځې دباطني

بدن جمع شوي زهريله وينه راوځي او باقي وينه ددي په بدن کښې پاکه (پيلټرشوي) پاتيږي.

:دريم:بل چې کله حيض ختم شي بدن صورت دښځې تازه دمه هوساشي يعني په صورت کي ښځه تازه والی احساسه وي.

:څلورم:که دښځې حيض بندوي ياله خپله وخته دا حيض ډېر وځنډيږي بيا دښځې په صورت کي، درد، بلډپيشر، کينسر، اوډيپرشن، اونوري موذي بيماریاني پيدا کيدلای شي.

وعن جابر بن عبد الله قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا ضرر ولا ضرار في الإسلام.:ج٣ص٢٣٨ المعجم الأوسط – الطبراني.

وشرط صحة الأداء وهو الوقت القابل وهواليوم المتعرى عن الأكل والشرب وطهارة المودين بين من الحيض والنفاس.:ج٣ص٣٥٠ الفتاوي التاتارخانية.

استحاضه ښځه به روژې نيسي که نه

(مسئله)سوال:استحاضه ښځه به روژې نيسي که نه؟

:جواب: حيض هغې وينې ته ويل کيږي چې دصحت مندي بالغي ښځې درحم څخه کم ترکم له پنځلسو ورځو وقفي وروسته ښځې ته دا وينه راځي، دحيض مدت کم ترکم تر درې ورځو اوشپو وي، او زيات مدت دحيض لس ورځې اوشپي وي، نوکه دا وينې تر لسو ورځو زيات مدت ونيسي ياتر درو ورځو کم مدت ونيسي بيا په حکم دحيض کي نده، بلکي داسي ښځې ته استحاضه ښځه ويل کيږي، اود استحاضي ښځې حکم دادچې دا استحاض په دوران کي به روژې نيسي اولمونځونه به هم کوي.

والاستحاضة استفعال من الحيض قالت فاطمة بنت قيس رضي الله عنها لرسول الله صلى الله عليه وسلم: إني أستحاض فلا أطهر فقال صلى الله عليه وسلم: "ليس ذلك دم حيض إنما هو عرق امتد أو داء اعترض توضئي لكل صلاة" أشار إلى أنه فاسد لا يتعلق به ما يتعلق بالصحيح.:ج٣ص٢٦٧ المبسوط للسرخسي.

روى أبو أمامة الباهلي رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلّم أنه قال: «أقل الحيض ثلاثة

أيام وأكثره عشرة أيام» وقال عليه السلام لفاطمة بنت حبيش: «دعي الصلاة أيام أقرائك». :ج١ص٢٧٥ المحيط البرهاني.

مستحاضه ښځه معذوره بلل کیږي

(مسئله) مستحاضه ښځه هم د معذور په مثال ده، دهروخت لمانځه ته به اودس کوي، روژې به نیسي ولوکه نفلي روژې وي یانفلي لمنځونه وي، طواف په بیت الله شریفه هم کولای شي، اعتکاف هم کولای شي، مسجد ته هم ننوتلی شي، که په آمن وه چې مطاف او مسجد په وینونه ککړوم، تلاو د قرآن مجید ویلای شي، قرآن مجید مسح کولای شي، د میړه سره وطي هم کولای شي.

الاستحاضة حدث دائم كسلَس بول ومذي وغائط وريح باتفاق الفقهاء، أو كرعاف دائم أو جرح لا يرقأ دمه أي لا يسكن عند الحنفية والحنابلة، فلا يمنع شيئاً مما يمنعه الحيض والنفاس من صلاة وصوم ولو نفلاً، وطواف، وقراءة قرآن ومس مصحف ودخول مسجد واعتكاف ووطء بلا كراهة، للضرورة.:ج١ص ٥٥٨ الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ.

: الحيض هو الدم التي ينفضها رحم المرأة السالمة عن الداء والصغر والله أعلم.:ج١ص٢٧٥ المحيط البرهاني.

دم الاستحاضة حدث يوجب الوضوء عندنا، والأصل فيه قوله عليه السلام: «المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلاة»، ولأنه خارج نجس فيكون حدثاً كالغائط والبول.:ج١ص٢٥ المحيط البرهاني المؤلف: محمود بن أحمد بن الصدر الشهيد النجاري برهان الدين مازه.

قال البركوي من علماء الحنفية : الاستحاضة حدث أصغر كالرعاف . فلا تسقط بها الصلاة ولا تمنع صحتها أي على سبيل الرخصة للضرورة ، ولا تحرم الصوم فرضا أو نفلا ، ولا تمنع الجماع – لحديث حمنة : أنها كانت مستحاضة وكان زوجها يأتيها – ولا قراءة قرآن ، ولا مس مصحف ، ولا دخول مسجد ، ولا طوافا إذا أمنت التلويث . وحكم الاستحاضة كالرعاف الدائم ، فتطالب المستحاضة بالصلاة والصوم.:ج٣ص٢٠٩ الموسوعة الفقهية الكويتية.

د ښځې د دبرې څخه که وینې راتللي

(مسئله) که چېرې د ښځې د دبرې څخه وینې راتللي دا هم استحاض(مرض) دی او حیض نده، مستحب ده وښځې ته چې داوینې د استحاض ختمي شي غسل دي

وکړي.

وفي «الفتاوى» لأبي الليث رحمه الله: أن الدم الخارج من الدبر لا يكون حيضاً، ويستحب لها أن تغتسل عند انقطاع الدم.:ج١ص ٢٧٥المحيط البرهاني.

مستحاضه به ایا هر لمانځه ته جامې مینځي که نه؟

(مسئله)سوال: مستحاضه ښځه به ایا هرلمانځه ته جامې مینځي که نه؟

:جواب: دا مسئله دوه صورته لري:

:**اول**:که د مستحاضې ښځې جامه په اندازه د درهم په نجاست لړلي وه نو واجب ده چې داوینه پریمینځي ولمانځه ته که لمونځ یې کاوه، که مینځل ورته مفید ؤو هغه داسي چې داجامه بیاپه قدر د درهم په لمانځه کې نه ککړې ده، پدې صورت کې که مستحاضه وینې ونه مینځي اولمونځ دوینو سره وکړي لمونځ د مستحاضې صحت نلري.

:**دوهم**: اوکه مینځلو فائده نه ورته کوله نومینځل دجامې بیاندې پرواجب هغه داسې چې جامه څنګه له وینو څخه پریمینځي اوپه دوران دلمانځه کې بیا دوهم واري هغومره نجسه شي، عذرقایم وي نوپداسې حالت کې پرمستحاضه ښځه دجامې وینځل واجب ندي، داستحاض دوینو سره سره دې لمونځونه کوي.

:حكم ما يسيل من دم المستحاضة على الثوب: إذا أصاب الثوب من الدم مقدار مقعر الكف فأكثر وجب عند الحنفية غسله ، إذا كان الغسل مفيدا ، بأن كان لا يصيبه مرة بعد أخرى ، حتى لو لم تغسل وصلت لا يجوز ، وإن لم يكن مفيدا لا يجب ما دام العذر قائما. أي إن كان لو غسلت الثوب تنجس ثانيا قبل الفراغ من الصلاة ، جاز ألا تغسل ؛ لأن في إلزامها التطهير مشقة وحرجا .

وإن كان لو غسلته لا يتنجس قبل الفراغ من الصلاة ، فلا يجوز لها أن تصلي مع بقائه ، إلا في قول مرجوح . وعند الشافعية إذا تحفظت لم يضر خروج الدم ، ولو لوث ملبوسها في تلك الصلاة خاصة.

ولا يضر كذلك عند الحنابلة ؛ لقولهم : إن غلب الدم وقطر بعد ذلك لم تبطل طهارتها.:ج٣ص٢١٠ الموسوعة الفقهية الكويتية.

اوله معمٰی

(مسئله)سوال: هغه کوم سړی ده چې د نفلي روژې نیت پخپل وخت کې وکړي خو

بیایې هم روژه صحت نلري؟

:جواب:کافر چې کله اسلام راوړي مخکې له زواله او ددغې ورځې دنفلي روژې دنیولو نیت وکړي روژه یې صحت نلري.

أي رجل نوى التطوع في وقته ولم يصح؟

فقل: الكافر إذا أسلم قبل الزوال ونواه.:ص٣٤٣ الأشباه والنظائر.

دوهمه معمٰی

(مسئله)سوال: هغه کوم روژتي ده چې روژه وخوري اوبیا دي دروژې قضاء هم باندې واجب نه وي؟

:جواب: دا هغه روژتي ده چې په ګمان سره په روژه شروع وکړي لکه چې د ده ګمان وي چې په مایوه روژه درمضان دروژې قضاء شته اوپه قضائي روژه شروع وکړي وروسته ورته معلومه شي چې پرماخو قضاء دروژې نشته او دا شروع روژه پسي وخوري نو د دي روژې قضاء بیا باندې نشته.

أي صائم أفطر ولا قضاء عليه؟

فقل: من شرع فيه مظنونا كمن شرع بنية القضاء فتبين أن لا قضاء عليه.:ص٣٤٣ الأشباه والنظائر.

دریمه معمٰی

(مسئله)سوال: هغه کوم روژتي ده چې دبل نفر ناړي تیري کړي اوکفاره دیوشپیته روژو باندې لازم وي؟

:جواب:داهغه روژتي ته ده چې دمحبوب یامحبوبي ناړي په فرضي روژه درمضان دمیاشت کي تیري کړي.

أي صائم ابتلع ريق غيره وعليه الكفارة ؟

فقل: من ابتلع ريق حبيبه.:ص٣٤٣ الأشباه والنظائر

څلورمه معمٰی

(مسئله)سوال:هغه کوم سړی ده چې درمضان دروژې نیت یې پخپل وخت کښې کړي وي خوبیاهم دا روژه دده نفلي وي؟

:جواب:دا هغه هلک ده چې وروسته تر راختلو دسپیده داغ بالغ شي نوکه

د فرضي رمضان نیت یې کړي هم وي خو د دغي ورځې روژه د ده نفلي شوه.

أي رجل نوى رمضان في وقت النية ووقع نفلا ؟

فقل: من بلغ بعد الطلوع.:ص۳٤۳ الأشباه والنظائر.

پنځمه معمٰی

(مسئله)سوال: هغه کوم سړی ده چې فرضي روژه وخوري بي له عذره خوکفاره دي هم باندې لازمه نه وي؟

:**اول جواب**:دا هغه سړی دی چې دروژې میاشت تنها ووینې او قاضي دده شاهدي رد کړي، په صبا ورځ خو په ده باندې روژه فرض ده خو که دا نفر بیا هم دا روژه وخوري نو کفاره باندې نشته.

:**دوهم جواب**:دا هغه سړی هم کیدلی شي چې پدې سړي دې دروژې په صحت کي اختلاف وي.

أي رجل أفطر بلا عذر ولا كفارة عليه؟

فقل: من رآه وحده ورد القاضي شهادته ولك أن تقول: من كان في صحة صومه اختلاف.:ص۳٤۳ الأشباه والنظائر.

شپږمه معمٰی

(مسئله)سوال:یو سړي که داسي وویل چې پرما دالله جل جلاله لپاره دوه پرله پسي روژې په یوه میاشت کي نذر دي خو دا دواړه روژې به په اول دمیاشتې او په اخر دمیاشتې کي سره متصلي وي داسړي ته څه حکم دی؟

:جواب:داسړی دي دپنځلسم او شپاړسم دورځې روژې په یوه میاشت کي سره متصلي ونیسي، اوماسیوا ددي څخه نوري داول دمیاشتې او د اخر دمیاشتې نه شي سره متصوري کیدلی.

ولوقال لله علي صوم آخر يوم من أول الشهر وأول يوم من آخر الشهر لزمه الخامس عشر والسادس عشر.:ج۲ص۳۲۰ البحر الرائق فصل في العواريض.

رجل قال: لله علي أن اصوم يومين متتابعين من أول الشهر واخره كيف يصنع ؟

فالجواب: أنه يصوم الخامس عشر، والسادس عشر.:ص۸۳ فتاوى معمى.

وماعداهما لايتصور أن يكون يومين متتابعين أحدهما من أول الشهر، والثاني من آخرالشهر.
:ج٢ص٤٤٠ تجنيس والمذيد.

اوومه معمٰی

(مسئله)سوال: هغه کوم سړی ده چې دشپې په رمضان المبارک کې خوراک وکړي نو قضاء اوکفاره دې دواړه باندې لازم وي؟

:جواب: په عربي کلام کې یوه معمٰی راځي هغه داسې چې دشترمرغ بچې ته هم (لیلاً) (رألٍ) یعنې شپه وایي نوکه چاوای داشپه مسمٰی مرغه په فرضي روژه کې دورځې وخوړلې نوقضاء اوکفاره دواړه باندې واجب دي داسې نده چې په دوران دشپې کې په خوراک کولو سره کفاره په روژتې واجبیږي بلکې دا ددې مرغه نوم شپه دی.

أي رجل أكل في رمضان ليلا فيجب عليه القضاء والكفارة؟

فالجواب: أنه رجل أكل فرخ النعام نهارا وهويسمى ليلا.:ص٨٢ فتاوى معمى.

و"الرئلان" جمع رألٍ. وهو فرخ النعام.: الاختيارين في الغة للأخفش.

اتمه معمٰی

(مسئله)سوال: هغه کوم مسلمان سړی ده چې نیت دنفلي روژې وکړي مخکې له زواله اوحال دې هم داوي چې دصبح صادقه دې ده څه خوړلي هم نه وي او روژه دده دې صحت نه ولري؟

:جواب: کافرچې مخکې له زواله اسلام راوړي اوله صبح صادقه ده څه خوړلي هم نه وي اوپدغه ورځ مخکې له زواله نیت دنفلي روژې وکړي نو روژه دده په ظاهر الروایت ددغې ورځې صحت نلري، او په نوادر روایت بیا روژه دده صحت لري.

أي رجل مسلم نوى صوم التطوع قبل الزوال فلم يصح والحال إنه لم يقع منه فطر ؟

فالجواب: أنه كافر أسلم قبل الزوال، ولم يقع منه مفطر فصام تطوعا لايصح صومه.:ص٨٥ فتاوى معمى.

نهمه معمٰی

(مسئله)سوال: که یوسړی ووایي چې زه پیدا شوي یم په میاشت کې درمضان په

نزد دامام ابي حنيفة رحمه الله اوپيدا شوي يم په مياشت كي دشوال په نزد دامام ابي يوسف رحمه الله ددي معمٰى حل به څنګه وي؟

:جواب:دا سړى په اخره ورځ درمضان كښې پيدا شوى ده، اوحال داسي ده چې مياشت دكوچني اخترمخكې له زواله ليدله شوي ده، نوپه نزد دامام ابي حنيفة رحمه الله داورځ درمضان څخه ده اودي خلكوته خوراک دروژې نده روا، او په نزد دامام ابي يوسف رحمه الله ده داورځ دشوال څخه اوپه روژتيانو پدغه ورځ خوراک واجب ده.

أي رجل قال ولت في شهر رمضان عندابي حنيفة وفي شوال عندابي يوسف؟

فالجواب: أنه رجل ولد في اخريوم من رمضان وقد رأى الهلال بالنهار قبل الزوال فعند ابي حنيفة يكون ذلك من رمضان ولايحل لهم الإفطار وعند ابي يوسف يكون ذلك اليوم من شوال ويجب عليهم الإفطار. :ص٨٥ ص٢٠٧ فتاوى معمى.

لسمه معمٰى

(مسئله)سوال:هغه به كوم جوړ سړى وي چې درمضان دروژې نيت يې مخكې له زواله كړي وي، او روژه دي هم دده جوازلري خوكه ده روژه وخوړه بيا هم قضاء دروژې باندې شته نه كفاره دروژې؟

:جواب: دا هغه سړى ده چې په اول دورځې دروژې كښې مرتدشي (په الله سره پناغواړوله داسي عمله څخه) اولږ وخت وروسته بيااسلام راوړي اوبيادروژې نيولو لپاره نيت مخكې له زواله وكړي، نو ديوې روژې قضاء به راوړي.

اوامام أبى يوسف رحمه الله وايي چې پدي صورت كى دده روژه روا ده درمضان دروژې څخه او قضاء باندې نشته.

فالجواب: إنه رجل ارتد والعياذ بالله تعالى في أول يوم من رمضان ثم أسلم ونوى قبل الزوال ، فعن أبي يوسف إذا أسلم قبل الزوال ونوى الصوم يجزيه وإن لم ينو فعليه القضاء. :ص٨٥ فتاوى معمى.

وعن أبي يوسف في رجل ارتد عن الإسلام في صدر النهار من رمضان، والعياذ بالله، ثم رجع إلى الإسلام قبل الزوال، ونوى الصوم أجزأه، وأنه يكون صائماً عن رمضان يجب أن يصير صائماً عن رمضان في هذه المسألة. :ج٥ص٢٣ المحيط البرهاني.

أيام البيض روژې نيول

(مسئله) أيام البيض روژې نيول مستحب دي أيام البيض روژې چې دي دا ديارلسم، څوارلسم، پنځلسم، شپې دهري قمري مياشتې دي، حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم دايام البيض روژې نه خوړلې نه په استقامت کښې اونه په سفرکې.

:پاملرنه: ددي روژو دوجوب عقيده به نلري، اوکه دوجوب عقيده يئ وي بيايې پريښول لازم دي.

وعن ابن عباس قال كان رسول الله لا يفطر أيام البيض في حضر ولا سفر أي أيام الليالي البيض وهي الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر لأنها المقمرات من أوائلها إلى أواخرها فناسب صيامها شكرا لله تعالى :ج٦ص٤٠١ مرقاة المفاتيح باب صيام التطوع.

ويستحب صوم أيام البيض الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر ما لم يظن إلحاقه بالواجب. :ج٢ ص٣٤٩ فتح القدير.

:تتمة: باب استحباب صوم ثلاثة أيام من كل شهر الأفضل صومها في أيام البيض . وهي الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر . وقيل : الثاني عشر والثالث عشر والرابع عشر ، والصحيح المشهور هو الأول .

وعن أبي ذر رضي الله عنه قال ، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " إذا صمت من الشهر ثلاثا فصم ثلاث عشرة وأربع عشرة وخمس عشرة " رواه الترمذي وقال حديث حسن .: رياض الصالحين.

(پوښتنه) دي روژو ته ولې ايام البيض وايي؟

:جواب:دي روژو ته ځکه ايام البيض وايي چې مکمله شپه په رڼائي دسپوږمۍ سره روښانه وي.

(پوښتنه) دايام البيض په روژوکي څه حکمت ده؟

:اول جواب:په روژو دايام البيض کي حکمت دا ده چې کله ټوله مکمله شپه په رڼائي دسپوږمۍ سره روښانه وي، نو مناسب ده چې ورځ ددي شپوبيا په عبادت سره تيره شي.

:دوهم جواب:دايام البيض په شپوکي غالباً دمياشتې کسوف وي، نومونږ پدي شپو او ورځو کښې په ښواعمالودعبادت سره والله تعالى جل جلاله ته امرشوي يو.

قوله (وأيام البيض)أي أيام الليالي البيض بوجود القمر طول الليل وفي الحديث اختصار مثل وخيرها صيام أيام البيض وأيام البيض كذا وكذا وذكر بعضهم أن الحكمة في صومها أنه لماعم النور لياليها ناسب أن تعم العبادة نهارها وقيل الحكمة في ذلك أن الكسوف يكون فيها غالبا ولا يكون في غيرهاوقد أمرنا بالتقرب إلى الله تعالى بأعمال البر عندالكسوف.:ج٣ص٤٥٥ حاشية االسندي على سنن النسائي باب كيف يصوم ثلاثة ايام من كل شهر.

(فائده) يامطلب دايام البيض څخه داده چې روژې ددي ورځومكفراتي دګناهونو دي، او زړونوته نوراو روښنائي وركوي، دائكه:

(نكته) روايت شوى ده كله چې حضرت آدم عليه السلام له دارالسلام جنت څخه راويستل شونو اندامونه مباركان يې تورشول اودى مبارك پدي دايام البيض په روژوسره امركړل شو، نو په روژه دهري ورځې به يئ د صورت دريمه برخه سپينيدله، نو دا روژې لپاره دشكريې نيسو.

وعن ابن عباس قال كان رسول الله لا يفطر أيام البيض في حضر ولا سفر أي أيام الليالي البيض وهي الثالث عشر والرابع عشر والخامس عشر لأنها المقمرات من أوائلها إلى أواخرها فناسب صيامها شكرا لله تعالى

قال ابن حجر ومن عبر عنها بالأيام البيض فقد لحنوه لأن الأيام كلها بيض اه ويمكن أن يكون التقدير الأيام البيض لياليها أو المراد صيامهن مكفرات للذنوب مبيضات للقلوب أو إشارة إلى ما روى أن آدم عليه السلام اسود أعضاؤه العظام بعد إخراجه من دار السلام فأمر بصيام هذه الأيام فبصوم كل يوم يبيض ثلث جسده عليه السلام بل أقول يتعين هذه التأويلات لأن الأيام البيضوقع في أكثر الروايات وأما قول صاحب النهاية والصواب أن لا يقال أيام البيض لأن البيض من صفة الليالي فمبني على ظاهر العربية والله تعالى أعلم.:ج٦ص٤٠١ مرقاة المفاتيحباب صيام التطوع.

أخبرنا أبو محمد عبد الكريم بن حمزة نا أبو بكر الخطيب إملاء أنا أبو الحسن محمد بن أحمد بن محمد بن رزق البزاز نا أبو الحسن محمد بن أحمد بن الخطاب البزاز نا أبو عبد الله محمد بن يوسف بن بشر الهروي حدثني عبد الأعلى بن سليمان بن بسطام الكناني من كنانة نا الهيثم بن جميل الأنطاكي نا حماد بن سلمة عن عاصم بن أبي النجود عن زر بن حبيش قال سألت ابن مسعود عن أيام البيض فقال سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال (إن ادم لما عصى وأكل من الشجرة أوحى الله إليه يا ادم اهبط من جواري وعزتي لا يجاورني من عصاني قال فهبط إلى الأرض مسودا قال فبكت الملائكة وضجت وقالوا يا رب خلق خلقته بيدك وأسكنته جنتك وأسجدت له ملائكتك في ذنب واحد حولت بياضه فأوحى الله إليه يا ادم صم لي اليوم يوم ثلاثة عشر

فصامه فأصبح ثلثه أبيض ثم أوحى الله تعالى إليه يا ادم صم لي هذا اليوم يوم أربعة عشر فصامه فأصبح ثلثاه أبيض ثم أوحى الله تبارك وتعالى إليه يا ادم صم لي هذا اليوم يوم خمسة عشر فصامه فأصبح كله أبيض فسميت الأيام البيض رواه غيره عن الهيثم فوقفه.:ج٧ص٤١٩ تاريخ مدينة دمشق وذكر فضلها وتسمية من حلها من الأماثل لأبي القاسم علي بن الحسن إبن هبة الله بن عبد الله الشافعي سنة الولادة ٤٩٩/ سنة الوفاة ٥٧١.

:پاملرنه: په هره مياشت كي دا دريٖ دايام البيض روژيٖ نيول دپوره كال دروژو ثواب لري، ځكه دهرنيک كار اجرثواب لس چنده دی، لهذا دريوته چيٖ په لس كي ضرب وركړيٖ نودېرش كيږي، نوپه هره مياشت كي ګواكي ته دېرش ورځيٖ روژيٖ نيسيٖ، كال دولس مياشتيٖ دی اوته دولس مياشتيٖ مكملي روژيٖ نيسيٖ، داعجبه سنهری ښايسته موقع ده نو دلاسه يي مه وركوئ!. :مصنف.

مَن جَاء بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا:سورة الانعام ايت نمبر١٦١ .

(دخليل وصيت) حضرت ابي زر رضي الله عنه فرمائي چيٖ ماته زماخليل حضرت محمد صلي الله عليه وسلم په دريو وصيت كړي دابه زه هيڅ كله هم پري نږدم انشاء الله.

:**اول**:وصيت حضرت محمد صلي الله عليه وسلم دا را ته كړي چي دسابنت لمونځ كوه.

:**دوهم**:وصيت حضرت محمد صلي الله عليه وسلم دا راته كړي چي وتر لمونځ ماخوستن كوه.

:**دريم**:وصيت حضرت محمد صلي الله عليه وسلم دا را ته كړي چي د هري مياشتيٖ دريٖ ورځيٖ روژيٖ نيسه، دا مذكور دريٖ وصيتونه په ځای كول مستحب (سنت) عمل دی نه واجب.

وعن أبي ذر قال: أوصاني خليلي بثلاث لا أدعهن إن شاء الله أبدا أوصاني بصلاة الضحى و بالوتر قبل النوم و بصوم ثلاثة أيام من كل شهر: الأمر بصوم ثلاثة أيام من كل شهر استحبابا لا إيجابا. :ج٣ص٣٠٠ صحيح ابن خزيمة.

دذي الحجي دمياشتيٖ اولي لس ورځيٖ روژيٖ نيول

(مسئله) دذي الحجي دمياشتيٖ اولي لس ورځيٖ ټولي په روژو سره لمانځل

مستحب عمل دي اوزيات ثواب لري، حتٰى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي چي د دي روژو ثواب دهغه مجاهد(دښو اعمالو) سره برابر ده کوم مجاهد چې جهاد ته ووځي پخپل ځان اوخپله خرچه سره اوبيرته رانه شي بلکي شهيد شي، نو ددي مجاهد ثواب اوذي الحجي داولولسو ورځو دروژو دنيونکو دروژتي شخص ثواب سره برابردی ((سبحان الله څومره غټ قيمت په ايښول سوي ده داترلاسه کړئ!)).

:صوم الثمانية من ذي الحجة: اتفق الفقهاء على استحباب صوم الأيام الثمانية التي من أول ذي الحجة قبل يوم عرفة ، لحديث ابن عباس : رضي الله تعالى عنهما مرفوعا : ما من أيام العمل الصالح فيها أحب إلى الله من هذه الأيام – يعني أيام العشر – قالوا : يا رسول الله ، ولا الجهاد في سبيل الله ؟ قال : ولا الجهاد في سبيل الله ، إلا رجل خرج بنفسه وماله ، فلم يرجع من ذلك بشيء.:ج٢٨ص٩١ الموسوعة الفقهية الكويتية.

(مقام دذي الحجي) :**اول**:دذي الحجي دمياشتې اولي لس ورځې ډېري مبارکي ورځې دي.

:**دوهم**:مستحب داخبره ده چې داټولي شپې او ورځې په عبادت سره تيري کړل شي.

:دريم:الله جل جلاله د دوي دتعظيم له وجې قسم هم پدي لسو شپوسره اخستلی دی.

:**څلورم**:په روايت کي راځي که چا دا ټولي ورځې په روژو سره تيري کړلي نوپه بدل دهري ورځې دروژې کي به ديوه کال روژې ودي روژتيا ته وليکل شي خو دعرفي دورځې په روژه به بيا د دووکالو دروژو ثوابونه ورته وليکل شي.

(و) ندب إحياء (ليالي عشر ذي الحجة) لقوله صلى الله عليه وسلم " ما من أيام أحب إلى الله تعالى أن يتعبد فيها من عشر ذي الحجة يعدل صيام كل يوم منها بصيام سنة وقيام كل ليلة منها بقيام ليلة القدر "مراقي الفلاح فصل في تحية المسجد وصلاة الضحى وإحياء الليالي).

{ وليال عشر } عشر ذي الحجة ولذلك فسر { الفجر } بفجر عرفة أو النحر أو عشر رمضان الأخير وتنكيرها للتعظيم وقرئ وليال عشر بالإضافة على أن المراد بالعشر الأيام.:ص٤٨٦ تفسير

البيضاوي.

وأخرج الفريابي وعبد بن حميد عن الضحاك بن مزاحم في قوله : وليال عشر قال : عشر الأضحى أقسم بهن لفضلهن على سائر الأيام.:ج٨ص٥٠١ الدر المنثور.

"عشر ذي الحجة" "من صام أيام العشر كتب له بكل يوم سنة غير يوم عرفة، فإنه من صام يوم عرفة كتب له صوم سنتين".:ج٨ص٥٧٩ كنز العمال.

:فضائل دذي الحجي: دالس ورځې اولي ورځې دذي الحجي ډېري مباركي ورځې دي نو دالله جل جلاله ذكرونه، تهليل، تكبير، الله اكبرونه، نور ذكر واذكار ډېر پكښې كوئ او خيراتونه صدقي هم ډېري پكښې كوئ.

وعن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما من أيام أفضل عند الله و لا العمل فيهن أحب إلى الله عز و جل من هذه الأيام العشر فأكثروا فيهن من التهليل و التكبير و ذكر الله فإنها أيام التهليل و التكبير و ذكر الله و إن صيام يوم منها يعدل بصيام سنة و العمل فيهن يضاعف سبعمائة ضعف.:ج٣ص٣٥٦ شعب الإيمان – البيهقي.

